# ولسي مبارزه

## (عدم تشدد)

احمد الله ارچیوال

Ketabton.com



(c) ketabton.com: The Digital Library

# ولسي مبارزه

## (عدم تشدد)

لیکوال:

**احمدالله ارچیوال**

**۱۳۹۴ ال کال**

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

# کتاب پېژندنه:


د کتاب نوم: ولسي مبارزه

لیکـــوال: احمدالله ارچیوال

خپرونـدی: د افغانستان ملي تحریك، فرهنګي څانګه

وېـبپـاڼـه: www.melitahrik.com

کمپوز/ډیزاین:

پښتۍ ډیزاین: فیاض حمید

چـاپشمېـر: ۱۰۰۰ ټوکه

چـاپـکـال: ۱۳۹۴ ل کال/ ۲۰۱۵م

د تحریك د خپرونو لړ: (۸۵)


یادونه: د چاپ حقوق له ملي تحریک سره خوندي دي او د کتاب د محتوا مسولیت لیکوال پورې اړه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالۍ

د خپل خدای ببنلي پلار اراوا ته يې ډالۍ کوم،
چې د زړه په وينو يې پاللی يم، او اوسمهال يې د
يخ سيوری په ارمان يم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لړلیک


| ګڼه | سرلیک | مخ |
|---|---|---|
| ۱ | دکتاب په اړه د استاد اسدالله غضنفر سریزه | ۱ |
| ۲ | یو څو خبرې | ۲ |
| ۳ | عدم تشدد یا ولسي مبارزه | ۷ |
| ۴ | اعتدال او ولسي مبارزه | ۱۹ |
| ۵ | افغاني او اسلامي ارزښتونه او ولسي مبارزه | ۲۵ |
| ۶ | شخړه | ۳۲ |
| ۷ | تاوتریخوالی (تشدد) | ۳۹ |
| ۸ | ولسي مبارزه د وسله والې مبارزې په پرتله | ۴۶ |
| ۹ | د ولسي مبارزې د ترسره کولو لارې چارې | ۵۴ |
| ۱۰ | ستراتیژي | ۵۷ |
| ۱۱ | ستونزه | ۶۰ |
| ۱۲ | د راتلونکې لپاره لړلید | ۶۴ |
| ۱۳ | موخې | ۶۶ |
| ۱۴ | ګډ پوهاوی | ۶۹ |
| ۱۵ | وخت | ۶۹ |
| ۱۶ | مهارتونه او وسایل | ۷۰ |
| ۱۷ | تاکتیکونه | ۷۰ |
| ۱۸ | روزنه | ۷۱ |

(c) ketabton.com: The Digital Library


۱۹ افهام او تفهیم.......................۷۲
۲۰ مخاطبین.........................۷۵
۲۱ د پیغام جوړول......................۷۷
۲۲ رسنۍ...........................۸۱
۲۳ ټولنیزې رسنۍ......................۸۵
۲۴ بیا پخلاینه........................۹۰
۲۵ یووالی..........................۹۲
۲۶ رهبري...........................۹۳
۲۷ د مبارزینو تاو تریخوالي نه کولو ته ژمنتیا.........۱۰۰
۲۸ واک او د واک سرچینې...................۱۰۹
۲۸ په ټولنه کې د واک سرچینې..................۱۱۸
۲۹ ولس ولې حکومت ته غاړه ږدي...............۱۲۳
۳۰ د ولسي مبارزې تاکتیکونه...................۱۳۴
۳۱ په افغانستان کې د ولسي مبارزې ځینې ..........۱۴۸
۳۲ ځینې هغه تاکتیکونه چې د....................۱۵۵
۳۳ مظاهره کول.......................۱۶۰
۳۴ ستراتیژیکه کړنه....................۱۶۷
۳۵ په اسلامي نړۍ کې ولسي مبارزې.............۱۷۲
۳۶ خدایي خدمتګار....................۱۷۶
۳۷ ماخذونه........................۱۸۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د تحريك يادښت

د افغانستان ملي تحريك د (۱۳۹۳ ل) کال په پيل کې له خپلو ګرانو هېوادوالو سره ژمنه کړې وه چې د دې کال په بهير کې به (شل عنوانونه) بېلا بېل ديني، علمي، ادبي او ټولنيز اثار خپلې ټولنې ته وړاندې کوي. ملي تحريك دا ژمنه د ياد کال د کب پر (۲۸)مه نېټه پوره او د يوې پرتمينې غونډې په ترڅ کې يې شل عنوانونه علمي اثار هېوادوالو ته وړاندې کړل. ملي تحريك په ياده غونډه کې ژمنه وکړه چې د (۱۳۹۴ ل) کال په بهير کې به انشاء الله د خداى (ج) په نصرت ټول ټال سل (۱۰۰) عنوانه بېلابېل علمي اثار ټولنې ته وړاندې کوي. طبيعي خبره ده چې دا اسانه کار نه دى، ډېر زيات زيار او زحمت ته اړتيا لري، خو ملي تحريك ټينګ هوډ کړى چې خپله دا ژمنه به هم د تېرې ژمنې په څېر عملي کوي. دا اثر چې ستاسو په لاس کې دى د همدې (سل عنوانونو) ژمنه کړو اثارو له جملې څخه دى، چې د چاپ جامه اغوندي. ملي تحريك هيله لري چې له دې اثر څخه به زموږ هېوادوال په زړه پورې ګټه پورته کړي. ملي تحريك له ټولو هغو ليکوالو، ژباړونکو، سمونچارو، مالي او معنوي مرستندويانو او چاپ چارو څخه چې ددې اثارو د چاپ په دې ټول بهير کې يې يو بل سره مرسته او ملګرتيا کړې او دا فرهنګي بهير يې بريالى کړى، د زړه له کومې مننه کوي او کور ودانۍ ورته وايي.

د هېواد د فرهنګ د ښېرازۍ په هيله

د افغانستان ملي تحريك فرهنګي څانګه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د کتاب په اړه د استاد اسدالله غضنفر سریزه

مونږ ان تر اوسه پورې رومي عسکرو ته ورته یو چې د سولې د لارې د مبارزینو پر سر باندې داغزیو تاجونه ږدو او په جهر او یا په زړونو کې ورپورې خاندو، زموږ په ټولنه کې په عدم تشدد باندې د باور کموالی مختلف عوامل لري، چې البته یو لوی عامل یې دا هم دی، چې ولسي مبارزه په رښتنیني بڼه نه ده معرفي شوې.

دا کتاب مو ددې ډول مبارزې له طریقو، له ګټو، له حقانیت او ضرورت څخه خبروي. لیکوال ټینګار کوي. چې خلک باید د ظلم او بې عدالتۍ په وړاندې غبرګون وښایي، خو دغه غبرګون دې د تشدد په بڼه نه وي، چې باغ عدن په کې نه جوړیږي خو د پښتنو کوڅې په کې ویجاړیږي.

استاد اسدالله غضنفر

د ولسمشر کلتوري او فرهنګي سلاکار

(c) ketabton.com: The Digital Library



# یو څو خبرې!

تاریخ ګواه دی چې جګړې د یوې ټولنې مادي او معنوي بنسټونه داسې لړزوي چې تر پېړیو یې بیا رغول نه یوازې دا چې ستونزمن وي بلکې ناشوني هم وي. د افغانستان ۳۸ کلنې جګړې وښودله، چې جګړه نه یوازې زموږ د ټولنې فزیکي زیربنا له منځه وړی، بلکې زموږ د ټولنې معنوي ارزښتونو باندې یې ژورې منفي اغېزې شیندلي د جګړې په معنوي زیانونو خبرې کول د دې کتاب د وس خبره نه ده خو شاعر د جګړې د زیانونو دیوارخ په اړه داسې وایي:

**چا یې پلو لیدلی نه و**

**اوس د شمشاد په غاښې ځي سر تور سرونه**

د دغه شعر شاته د افغانانو د پت، عزت او ناموس ډېرې ناخوالې، په زرهاوو اوربدل شوې او نااوربدل شوې، خو بوږنوونکي کیسې پرتې دي. جګړه او تاوتریخوالی تر کلونو کلونو د ولس ټولنیز، اقتصادي او ټولنیز حالات داسې زیانمنوي، چې د ټولنې رواني پایښت له منځه وړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د جګړې بر عکس ولسي مبارزه نه يوازې دا چې د وسله والې مبارزې په پر تله ډېره اغېزمنه ده، بلکې دغه ډول مبارزه ټولنيز ارزښتونه او معنويات غښتلي کوي او د ټولنې اوږودمهاله ټکاوته لاره اواروري خو، ستونزه دهده چې موږ د ولسي مبارزې په اړه اړين پوهاوی نلرو، او نه هم داسې علمی ماخذونه لرو چې ددغه ډول مبارزې دلارويانو تنده ماته کړی په پښتو ژبه کې د ولسي مبارزی په خپله بڼه دا لومړی کتاب دی، چې نه يوازې دولسي مبارزې تيوريکي اړخونه روښانه کوي، بلکې د ولسی مبارزې عملي اړخونه هم څېړي. دا د ولسي مبارې کتاب دويم چاپ دی، که څه هم تر ډېره بريده مې هڅه کړې، چې د کتاب دلومړي چاپ نيمګړتياوې او تېروتنې په دې هغه کې له منځه يوسم، خو بيا هم د موضوع اړوند زموږ په چاپېريال کې د علمي څېړنو کمښت او د ځينې نورو ستونزو په پام کې نيولو سره لدې کتابه بايد ديو قوي علمي کتاب د معيارونو د پوره کولو طمع ونه شي، له بل پلوه د کتاب هر عنوان دومره پراخه دی، چې په اړه يې بايد يو ځانګړی کتاب وليکل شي. د ولسي مبارزې په څېر ديو پراخه مضمون په يو کتاب کې راټولول په کوزه کې دسيند د ځايولو مانا لري. دا کتاب په پښتو ژبه د موضوع په اړ لا ډېرو څېړنو کولو لپاره يو پيل

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی، که څه هم دویم چاپ دی بیا هم د دې کتاب د بهبود او غنا لپاره تل چانس موجود دی.

زه هیله من او باوري یم، چې دغه کتاب به د موضوع په اړه لا ډېرو څېړنو ته لاره اواره کړي. د کتاب ټول موضوعات د افغان کلتور په رڼا کې روښانه شوي، لدې امله زموږ په هیواد کې لدې کتابه تر ډېره بریده د ولسي مبارزې په برخه کې په پوره ډول ګټه اخیستل کېدی شي. ولسي مبارزه نه یوازې د سیاسي موضو بلکې د اقتصادي او ټولنیزو ناخوالو لپاره هم کارېږي.

د کتاب لیکلو لومړنی موخه داده؛ چې زموږ د ټولنې د سیاسي اقتصادي او ټولنیزو ناخوالو د له منځه وړلو لپاره ځوانانو، د مدني ټولنې فعالانو او نورو وګړو ته یوه داسې وسیله چې له متشددې مبارزې موثره وي برابره شي. که د افغانستان د اوسنیو حالاتو له مخې د پراخه ولسي مبارزه پیلول امکان نه لري، خو کتاب مبارزین په وړه کچه د مبارزو لپاره په اغېزمنه توګه چمتو کوي. دا کتاب د دغه اصل له مخې چې لومړی باید پوهاوی رامنځته شي او بیا مبارزه وشي، د تحقق په لار کې یو وړوکې خو غښتلی ګام دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کتاب د لیکلو دویمه موخه د ولسي مبارزې په اړه زموږ هېواد کې د علمي څېړنو تر سره کولو لپاره د یوې علمي مرجع رامنځته کول دي.

په پښتو ژبه کې د ولسي مبارزې په اړه د یوه هر اړخیز کتاب نه شتون یوه ستره نیمګړتیا وه، څو د ولسي مبارزې په اړه زموږ د ټولنې اړتیا پوره او د مینه والو تنده خړوب کړي.

د کتاب لیکل ډېر وخت او څېړنو ته اړتیا لري، د پخوا په څېر یو ځل بیا زما کاري بوختیاوې او د ژوند سره تړلې منډې تړړې که لږې کمې وای کېدی شي، چې د کتاب منځپانګه لا ډېره غني وه. خو زما شخصي او کاري بوختیاوې د دې لامل شوې، چې کتاب په هغه ډول چې ما غوښتل ونشم لیکلی.

بیاهم په پښتو ژبه د ولسي مبارزی په اړه د یو علمي سرچینې رامنځته کول زما ارمان و، چې دیو کتاب په بڼه مې کال وړاندې چاپ کړی وو. خو نږدې یو کال په تېرېدو سره زه اړ شوم چې کتاب کې نورې زیاتوونې وکړم او دا دی دویم ایډیشن(چاپ) د موضوع د مینه والو مخې ته ږدم، ددې مانا هر ګز دا نه ده چې د کتاب دویم ایډیشن نور کار ته اړتیا نه لري. زه ډاډه یم چې دکتاب د غنا لپاره باید نور کوټلي ګامونه پورته شي، بیا هم د کتاب دویم ایډیشن اغېز منتیا او قضاوت د لوستونکو او د هغو ولسي مبارزینو په لاس کې دی څوک چې لدې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کتاب استفاده کوي. خدای (ج) دې وکړي، چې دغه کتاب د ولسي مبارزې په اړه د مبارزينو د ذهنيتونو په روښانه کولو کې لا ډېره مرسته وکړي.

د کتاب ليکل په لوی سر کې ډېر سخت کار دی، او د زړه وينې غواړي. له ښاغلو نصيرالله رښتين او مسعود پښتون څخه نړۍ مننه کوم، چې د کتاب په کمپوز او سمونه کې يې زما غږ ته هر وخت لبيک ويلی او له ما سره يې مرسته کړې ده. همدارنګه له ګران ملګري وفاالرحمن وفا څخه هم مننه کوم چې د کتاب د سمونې درونه بار يې پورته کړې او د خپلو ټولو بوختياوو سره سره يې خپل قيمتي وخت د کتاب سمونې ته وقف کړی.

د ګران افغانستان د سوکالۍ په هيله

احمدالله ارچيوال

کابل – افغانستان

د سلواغې مياشت ۱۳۹۴ ل کال

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لومړی څپرکی

## عدم تشدد یا ولسي مبارزه:

عدم تشدد اوس په بېلابېلو نمونو سره یاد او پېژندل کېږي. د عدم تشدد یو شمېر کارپوهان اوس د عدم تشدد د اصطلاح پر ځای د (ستراتیژیک عدم تشدد) اصطلاح کاروي. ځینې پوهان ورته د انګلیسي معادلې کلمې Civil Resistance, People's Power, Nonviolent Civic Mobilization, او Nonviolence, هم کاروي. دوی استدلال کوي، چې که یو شخص له تشدده کرکه کوي او تشدد نه غواړي، نو د شخص د دغه حالت د بیانولو لپاره د عدم تشدد اصطلاح کارول کېږي، خو که یو شخص یا ګروپ یا ټولنه د یوې موخې د لاسته راوړلو لپاره له تشدد او فزیکي ځواک پرته مبارزه کوي، د عدم تشدد کارپوهان دغه ډول مبارزې ته ستراتیژیک عدم تشدد وایي.

د ډېرو خلکو لپاره عدم تشدد د ژوند تیرولو یوه لاره ده او دوي عدم تشدد ته د روحانیت سره تړاو ورکوي. عدم تشدد د وسلې په شان یوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وسيله ګڼي. لکه څنګه چې په وسله واله مبارزه کې له وسلې څخه کار اخيستل کېږي، په ورته شکل په ولسي مبارزه کې د حالاتو، چاپېريال او د خلکو د ټولنيزو او سياسي حالاتو په پام کې نيولو سره د يو لړ تاکتيکونو په مرسته ولسي مبارزه هم تر سره کېږي.

ډېرى وخت د عدم تشدد د فلسفې سره نا اشنايي ددې لامل ګرځي، چې ستراتيژيک عدم تشدد د پاسيپيزم (دخلکو غلي کول، ارامول او چپول دي) سره يو ډول وګڼل شي، پاسيپيزم خلک له جنګ او جګړې څخه منع کولو ته وايي. په داسې حال کې چې ستراتيژيک عدم تشدد د خلکو غلي کول يا چپول نه، بلکې هغې مبارزې ته د خلکو سوق او هڅولو ته وېل کېږي، چې فزيکي زور په کې نه وي. ددى لپاره چې د ولسي مبارزې په اړه دغه ناسم پوهاوى په بشپړه توګه له منځه لاړ شي، کارپوهان اوس ستراتيژيک عدم تشدد د فعالې مبارزې يو ډول ګڼي او (ولسي مبارزه) نوم يې ورکړى دى.

ولسي مبارزه په ټولنه کې د بدلون راوستلو لپاره له رواجي سياسي لارو چارو لکه رايې ورکولو، ټاکنو او قانون جوړونې څخه د باندې رامنځته کېږي. ددې لامل دا دى، چې زياتره وختونه ولسي مبارزه د رواجي سياست په مټ رامنځته شويو ادارو لکه حکومت او پارلمان پر خلاف تر سره کېږي. خلک د رواجي سياست له لارې پارلمان او

(c) ketabton.com: The Digital Library



حکومتي چارواکي واک ته رسوي، خو بیا دوی ځیني وختونه پخپله داسې کړنې تر سره کوي، چې د زغم وړ نه وي او باید ایسته کړل شي، نو ځکه دغه مهال رواجي سیاست ګټور نه وي او باید له رواجي سیاست څخه بهر نورې کړنې ترسره شي او دغه نورې هغه د ولسې مبارزې په نامه یادېږي.

په ولسي مبارزې د سم پوهیدلو لپاره اړینه ده، چې موږ د ځواک او زور تر منځ په توپیر پوه شو، ځکه همدغه ځواک او زور د ولسي او وسله والې مبارزې تر منځ توپیر رامنځته کوي. په وسله واله مبارزه کې زور کارول کېږي او په ولسي مبارزه کې ځواک کارول کېږي. د زور نه زموږ موخه فزیکي او رواني تاوتریخوالی دی، خو ځواک بیا فزیکي زور نه دی. د بېلګې په توګه که د هېواد په کچه پولیس یو دم پرېکړه وکړي، چې نور خپلو دندو ته نه ځي، نو دوی دلته خپل ځواک وکارولو او زور یې ونه کاروه، یا دا چې که ولس پرېکړه وکړي، چې په بازارونو کې د ځانګړي لامل په وجه د کوم ځانګړي هېواد تولیدات نه اخلي، دلته ولس ځواک وکاروو.

یا که د کابل ښاریان دیوې اونۍ لپاره د خپلې ځانګړې غوښتنې د لاسته راوړلو په موخه له خپلو ورځنیو کارونو څخه پرېکون وکړي، نو په دغه حالت کې په ښار کې ورځنۍ ژوند په ټپه درېږي، دغه کار

(c) ketabton.com: The Digital Library



حکومت ته یوهستره ضربه ده او دغه ډول مبارزه ولسي مبارزه ګڼل کېږي. په یادوشویو بېلګو کې که پولیس، ولس یا د کابل ښاریان کوتکونو او یا تاوتریخوالي ته مخه کړي، مانا داه چې دوی زور کارولی، او بیا دغه مبارزه وسله واله مبارزه ده.

په ولسي مبارزه کې پرته له دې چې زور وکارول شي، ولسونه چې په کې د هر عمر او هر ډول فکر او نظر لرونکي خلک (سړي او ښځې) شامل وي، دیو لړ تاکتیکونو له لارې برخه اخلي. له همدې امله ورته ولسي مبارزه وېل کېږي. ولسي مبارزین دیوې لارې په توګه هغه څه کوي، چې رواج او قانون یې خلکو ته دنه کولو امر کوي، د بېلګې په توګه کېدای شي یو ځانګړی رنګ لرونکې کمیس او یا جامې اغوستل، په یوه ټولنه کې بد وګڼل شي او رواج یې د نه اغوستلو حکم وکړي، خو ولسي مبارزین له دې امله چې رواج او یا قانون مات کړي، دغه رنګ کمیس یا جامې اغوندي. یا که دیوې سیمې خلک دحکومت له ادارو سره متوازي اداري رامنځته کړي، چې قانون د دغه کار دنه کولو امر کوي، دغه د ولسي مبارزې یوه بله بېلګه ده.

د ولسي مبارزې د عملي کولو بله لار داده؛ چې ولس هغه څه نه کوي چې قانون یې د کولو امر کوي، د بېلګې په توګه قانون خلکو ته وایي؛ چې چارواکو ته غاړه کېږدي او له حکومت سره همکاري

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړي خو ولسي مبارزین حکومت ته غاړه نه ږدي او همکاري ورسره نه کوي. همدارنګه که دیوې سیمې ټول خلک پرېکړه وکړي، چې دخپلو ستونزو د حل لپاره حکومت ته نه ورځي او حکومتی دوایر تحریم (پرېکون) کړي، دغه هم د ولسي مبارزې یو ډول دی.

دغه تعریف ډېر خلک اړ کړي، چې په ولسي مبارزه له دې امله نیوکې کوي، چې دغه ډول مبارزه ولسونه قانون ماتولو ته هڅوي او یا په بل عبارت دغه ډول مبارزه په اصل کې له قوانینو سرغړاوی دی. دغه نیوکې یو فلسفي بحث ته اړتیا لري. سقراط په دې باور و، چې ټولنیز تړون Social Contract د عدالت سرچینه نه ده. Social contract : د ټولنې د افرادو تر منځ یو نا ویل شوی تړون موجود وي، چې له مخې د ټولنې افراد اخلاقي او سیاسي مسولیت لري، چې یوه د ژوند لپاره یوه ګډه ټولنه رامنځته کړي. هابس بیا د ټولنیز قرارداد تیوری داسې تشریح کوي: چې انسانان فطرتاً د خپل ځان د ګټې په لټه کې دي. د دوی کړنې معقولي دي، دوی ځکه یو پاچا یا حاکم ته غاړه ږدي، چې په یوه مدني ټولنه کې چېرته چې د دوی ګټې خوندي دي د او سېدو اړتیا پیدا کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ټولنيز تړون له مخې د حکومت ټول قوانين منل او يا دو اکمنو هر يې غوښتنې ته غاړه ايښودنه د اعتدال رامنځته کولو لامل نه دی. د ولسي مبارزو موخه اکثر و وختونه د بې عدالتۍ محوه کول او معتدله ټولنه رامنځته کول وي، نو له دې امله که ديو قانون پياده کول د بې عدالتۍ، ستونزو او زحمتونو د رامنځته کېدو لامل ګرځي، دغه ډول قانون بايد له سره تعبير، تفسير او يا تغيير شي. ولسي مبارزين بيا اړ نه دي، چې ناروا قوانينو ته غاړه کېږدي.

مارټين لوټر کينګ هم دغه نيوکې ته ځواب ويلی، نوموړي په ۱۹۶۳م کال کې د امريکا د بر ميګهم زندان نه د خپل وتلي ليک کې ليکلي: ((يو ظالم قانون به حقيقت کې قانون نه دی)).

ولسي مبارزې له دې فلسفې چې اقتصادي، ټولنيز، سياسي او پوځي واک د ټولنې دوګړو په رضا او غاړه ايښودو ولاړ دی، سرچينه اخلي. يا په بل عبارت که ولس غاړه کېنږدي، واکمنان حکومت نه شي کولای، دا فلسفه د ولسي مبارزې اساس دی. حکومتي واکمن او ولسي مبازرين دواړه په دغه حقيقت خبر دي.

کله چې ولسي مبارزين يوې ولسي مبارزې ته متې راونغاړي دواړه خواوې ( واکمنان اوولسي مبارزين) هڅه کوي، چې د خلکو

(c) ketabton.com: The Digital Library



وفاداري راخپله کړي او هره ډله غواړي، چې د خلکو د وفادارۍ په لاسته راوړلو کې بریالۍ شي. بریالي ولسي مبارزین د واک د لاسته راوړلو لپاره هڅه کوي، چې د ولس ژمنتیا راخپله کړي او یا ولس اړ کړي، چې واکمن ته له غاړه ایښودو څخه ډډه وکړي.

ولسي مبارزه دومره پخوانۍ ده، لکه څومره چې انساني تاریخ زوړ دی، خو د دې فلسفې پوهان وایي: سره له دې چې د تاریخ په اوږدو کې زیاتې ولسي مبارزې شوي او ځینې یې بریالۍ شوي هم دي، خو بیا هم له دې مبارزې سره ظلم شوی او په تاریخ کې یې هومره یادونه نه ده شوې څومره چې په کار وه.

شلمې پېړۍ ته د ولسي مبارزې پېړۍ ویل کېږي. دا ځکه چې په دغه پېړۍ کې د دې مبارزې سترو مبارزینو لکه ګاندهي، مارټین لوتر کینګ، عبدالغفار خان (باچاخان)، نیلسن منډیلا او نورو د دې مبارزې پر مټ داسې سترې لاسته راوړنې درلودې، چې بېلګې یې په انساني تاریخ کې کمې لیدل کېږي.

د ولسي مبارزې نورې بېلګې د فلسطینیانو انتفاضه او د عربو پسرلی دی. د ولسي مبارزې په لاره اچولو لپاره اړینه ده، چې هره ټولنه د خپلو شرایطو په پام کې نیولو سره سمه مبارزه تنظیم کړي. موږ نه شو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کولای د کوم بل هېواد او کلتور ولسي مبارزه په بشپړه توګه کاپي یا نقل کړو. هغه تاکتیکونه چې په یوه ټولنه کې د ولسي مبارزې لپاره کارول کېږي، ضرورنه ده، چې په بله ټولنه کې هم وکارول شي، دا ځکه چې په ولسي مبارزه کې ټولنیز، سیاسي او اقتصادي وسایل کارول کېږي. دغه وسایل د ټولنې له ټولنیزو، اقتصادي او سیاسي حالاتو سره ژورې اړیکې لري. دیوې ټولنې دغه حالات او شرایط د بلې ټولنې له هغو سره توپیر لري، خو بیا هم د دې مانا دا نه ده، چې موږ نه شو کولای دیوې ټولنې د ولسي مبارزې څېړل او مطالعه بې ګټې وګڼو.

ولسي مبارزه یوازې د سیاسي موخو د لاسته راوړلو یوه وسیله نه ده. بلکې په اصل کې ولسي مبارزه د ټولنیزو او اقتصادي موخو د لاسته راوړلو لپاره دومره اغېزمنه ده، لکه څومره چې دا مبارزه د سیاسي موخو د لاسته راوړلو لپاره ګټوره ده. د دې ادعا ښه بېلګه په یو شمېر هېوادونو کې د اختلاس پر وړاندې تر سره شوې ولسي مبارزې دي. د ۱۹۹۶م کال په اوږدو کې د ترکیې د خلکو ولسي مبارزه بریالۍ مبارزه وه، چې په اختلاس ککړ حکومت یې له واکه ګوښه کړ.

د ولسي مبارزې په اړه غالب فکر دا دی، چې دغه ډول مبارزه یوازې په ولسواکه نظامونو کې تر سره کېدی شي، ولې د دغه فکر بر عکس،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولسي مبارزه نه یوازې دا چې په ولسواکه نظامونو کې ترسره کېدی شي، بلکې په هر ډول سیاسي نظامونو کې د تر سره کېدو چانس لري. له ولسواکه نظامونو بر علاوه دغه ډول مبارزه دیکتاتوري نظامونو لکه شاهي، پوځي او استعماري او نورو نظامونو کې هم تر سره کېدی شي، چې ښه بېلګه یې په برتانوي هند کې د ګاندي او باچا خان ولسي مبارزې دي.

بله بېلګه یې په عربي شاهي حکومتونو کې د عربو پسرلی دی. د پخواني شوروي اتحاد د بالتیک په درېیو جمهوریتونو (لاتویا، لېتوانیا او استونیا) کې د ۱۹۹۰ یمې په لومړیو کې د ولسي مبارزو بریا ښیي، چې ولسي مبارزې یوازې او یوازې تر ولسواکه نظامونو محدودې نه دي. په دیکتاتوري ټولنو کې ولسي مبارزه دومره اغېزمنه ده، لکه څومره چې په ولسواکه نظامونو کې مؤثره ده.

د ولسي او وسله والې مبارزې تر مینځ بل توپیر د پایلو او وسایلو تر منځ اړیکي په اړه د دواړو ډولو مبارزو تر مینځ د نظر اختلاف دی. وسله واله مبارزه کې پایلې وسایل توجیه کوي، د دې معنی دا ده، چې په وسله واله مبارزه کې د مثبتو پایلو لاسته راوړلو په خاطر د هر ډول وسایلو څخه استفاده کول، روا دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مارشال میک لوهن هم د همدغه خبرې پخلی کوي او وایي، چې ناسم وسایل هرګز د سمو نتایجو د رامنځته کېدو لامل نه ګرځي؛ نوموړی په دې اړه وایي:

The Medium is the Message. یانې وسیله پخپله پیغام دی. د دغه خبرې بېلابېل تعبیر ونه کیږي، یو تعبیر یې دا دی، چې وسیله د پایلې سره اړیکه لري. یانې د یو سوله ییز راتلونکي او خوندي چاپیریال د رامنځته کولو لپاره د پرامنه وسایلو څخه کار اخیستل اړین دي یا په بل عبارت متشددې لارې چارې هرګز پرامنه او خوندي چاپیریال نشي رامنځته کولای. څه چې کرې هغه به رېبې؛ پښتو دا متل د مارشال میک لوهن د خبرې بل تفسیر دی، که غنم وکرې غنم به ترې اخلې او که جوار وکرې، جوار به ترې ترلاسه کوې.

دغه خبرې ته ګاندي هم اشاره کړې، ګاندې وایي وسایل د تخم سره او پایلې د ونې سره ورته والی لري. لکه څرنګه چې د تخم او ونې ترمینځ نه بېلېدونکې اړیکه ده، په دغه ډول د وسیلې او پایلې ترمنځ اړیکه موجوده ده. یانې د مالتې له تخم څخه د مالتې ونه او منې له تخم څخه د منې ونه زرغونیږي. ګاندي باوري دی، چې وسیله مهم شی دی او د وسیلې او پایلې ترمنځ هرګز جدایي نشته، ګاندي وایي، که وسایلو ته جدي پام وشي نتایج په خپله خپل ځان سموي.

ولسي مبارزې په ټولنو کې د ټولنیز اعتدال د رامنځته کېدو په پار رامنځته کیږي، موخه یې دا وي، چې په ټولنه کې د ظلم تیارې د تل لپاره پای ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورسيږي او په ټولنه کې ثبات رامنځته شي. په حقيقت کې ولسي مبارزې د تاوتريخوالي په وړاندې يو غبرګون وي. د ولسي مبارزې موخه په ټولنه کې د موجود تاوتريخوالي د له منځه وړل دي. او لدغه امله دوی له تشدده خالي لارو چارو استفاده کوي.

وسلوال مبارزين په ټولنه يا نظام کې د دوی په اصطلاح د موجود تاوتريخوالي د له منځه وړلو لپاره له تاوتريخوالي استفاده کوي او همدا لامل دی، هغه ټولنه چې پکې د جګړې په پايله کې سوله رامنځته شي قوي امکان لري، چې پينځه کاله وروسته بېرته کورنۍ جګړې ته ستنه شي، دلته د پښتو هغه متل، چې وايي، وينه په وينه نه وينځل کيږي، رښتيا کيږي.

په داسې حال کې چې ولسي مبارزين بيا هم د وسايلو او پايلې ترمنځ د قوي اړيکې موجوديت ته قايل دي. دوی وايي، چې د دوی لپاره پايله وسايل نه توجيه کوي. ولسي مبارزين وايي، چې په ټولنه کې د ثبات رامنځته کولو لپاره پکار ده، چې د تاوتريخوالي خالي وسايل وکارول شي او د دوی په اند زور سوله او ټيکاو نه شي رامنځته کولای. د وسله والو مبارزينو برخلاف دوی په ټولنه کې د موجود تاوتريخوالي په زور نه بلکې په پرامنه وسايلو سره له منځه وړي. ولسي مبارزې منتقدينو ته ولسي مبارزه د لانجې شخه د تېښتې په مانا ده، خو ولسي مبارزه د لانجې له نظره غورځول نه بلکې د لانجې سره د چلند لپاره يو ستراتيژيک انتخاب دی. مانا يې داده چې که د مبارزې لپاره ان که نور وسايل موجود هم وي. يوازې له ولسي مبارزې استفاده کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اعتدال او ولسي مبارزه

عدل او اعتدال د ډېر پخوا راهیسې د انسانانو تر منځ د فکر او بحث مهمه موضوع ده. اعتدال په بېلابیلو وختونو کې بېلابېل مفهومونه او معناوې درلودلې دي. سوفسطایان د مسیح ع د میلاد نه وړاندې په یونان کې هغه خلکو ته ویل کېدل چا چې په ټولو علومو د پوهیدو دعوه کوله. دوی په حقیقت کې یو ډول ښوونکي وو چې د تقریر په فن یې ډېر زور کولو. دوی کومو ځانګړو ټولنیزو اصولو ته پابند نه وو. د دوی علم سطحي وو او اولني خلک وو چې تعلیم سره یې دیو مسلک په توګه چلند کولو. د افلاطون په وخت کې سوفیسطایان پدې باور وو چې عدالت د طاقتور واکمن لپاره د ولس د ایل کولو یوه وسلیه ده. دوئ ویل چې عام ولس سیاسي واک نه لري او یوائحې واکمن دغه ډول واک لري نو ځکه یو واکمن داسې قوانین رامنځته کوي چې د هغې له لارې عام ولس د خپل ځان تابع کړي او دغه کار دوی عدل بللو.

افلاطون د سوفسطایانو بر عکس استدلال کوي او عدالت د ټولنې د ټولو افرادو، اشخاصو او د ټولې ټولنې لپاره د خیر او د بریا شرط ګڼي. افلاطون وایي چې په ریاست کې اعتدال هغه وخت رامنځ ته کېږي چې د ریاست له امکاناتو ټول ولس ګټه پورته کړي. واک په ریاست

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې يوې ډلې پورې تړاو ونه لري بلکې دټول ولس او پرګنو ترمنځ په رياست کې همغږي موجوده وي. د اسلام له نظره عدل يوه پراخه او جامع اصطلاح ده. دغه اصطلاح له هغو نظرياتو او تبصرو چې مونږ يې د خلکو په اړه کوو څخه واخله تر هغو لارو چارو چې مونږ يې د خپل مسوليت په ترسره کولو او د خلکو سره د معاملاتو په ترسره کولو کې کاروو بياتر په ټولنه کې زمونږ د چلند او د اختلافاتو سره د چلند کولو پورې ټول دربر نيسي. دا اصطلاح عادي ژوند، رسمي ژوند، د حاکم ژوند، محکوم ژوند، واکمن ژوند او د عام وګړي ژوند ټول دربرنيسي. په اسلام کې اعتدال د ظلم نه کولو، په ترتيب ايښودلو، برابرۍ او انصافکولو ته ويل کيږي.

زمونږ د بحث په خاطر دلته په ځای ددې چې د اعتدال په لغوي معنی خبري وشي، ښه به دا وي چې د اعتدال په مفهوم باندی خبری وشي. د اعتدال مفهوم د واکمنو په ګډون د ټولنې د ټولو افرادو ترمنځ د قانون په وړاندی برابري او د هيواد او ټولنی د افرادو داساسي سياسي، اقتصادي او ټولنيزو حقونو ته يو ډول لاس رسی دی. د اعتدال په مفهوم د لاښه پوهيدلو لپاره موږ کولای شو چې داعتدال په متضاد، باندی پوه نشو. دغه پوهاوی زمونږ سره مرسته کوي تر څو داعتدال په مفهوم پوه شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو فرد، افراداو يا ګروپ د مدني، سياسي، اقتصادي او نورو قانوني حقونو څخه د رنګ، ژبې، سيمې، سمت او يا بل کوم تړاو له امله محرومولو دبې عدالتۍ يوه بيلګه ده. په ولس د دوى د خوښي او د منل شويو موازينو او قوانينو برخلاف حکومت کول هم بې عدالتي ده. په ولس د ظالمانه قوانينو نافذول، يا د واکمنو لخوا د خلکو د ګټو د خوندیتوب په خاطر قوانين نافذول بې عدالتۍ يوه بله بيلګه ده . د واکمنو لخوا د مالي نه ورکول او يا دا چې د واکمنو لخوا د ځان لپاره د مالي ورکولو لپاره يو معيار او د عام وګړو لپآره د مالي ورکولو لپاره بل معيار ټاکل هم بې عدالتي ده. د اختلاس کول، چې دولس په حقونو تيرى دى، چې دا هم بې عدالتي ده.

اعتدال او د سولې يا ټکاو ترمنځ ژوره اړيکه موجوده ده. د اسلام ستر پيغبر ص فرمايي: که يو نظام کې کفر وي هغه دوام کولی شي، ولی که يو نظام کې ظلم او بې عدالتي وي هغه نظام دوام نه شي کولاى. لدې معلوميږي چې بې عدالتي د کفر نه هم بد عواقب لري.

د روم امپراتوري د باربريانو د امپراتورۍ په پرتله او د پيغمبر ع لخوا په مدينه کې رامنځته شوې اسلامي رياست د خپل عصر د نورو واکمنيو په پرتله عدل ته ډېر ژمن وو. همدا لامل وو چې د روم امپراتورۍ تر ډېر مهاله دوام وکړ او اسلامي رياست ډېر ژر نورو سيمو ته خپور

(c) ketabton.com: The Digital Library



شو. او ډېرو سيمو ته يې اسلام د توري په زور نه بلکې د عدل په زور ورساوه.

ابن خلدون هم په المقدمه کې د ملتونو بقا او عدل ترمنځ د ډېرې ژورې اړيکي د موجوديت په اړه خبري کوي. نوموړی وايي چې په تاريخي لحاظ سياسي او اقتصادي ځواک کمښت د ملتونو د زوال لامل نه دی ګرځيدلی بلکې ملتونه هغه وخت زوال سره مخ شوي کله چې په ټولنه کې بې عدالتي رواج شوې او واکمنې طبقې خپلې ګټې د ولس له ګټو مقدمې ګڼلې. نوموړی د خپلی ادعا په ننګه وايي "هره اندازه چې په ټولنه کې عدالت ته ژمنتيا قوي وي، په هماغه اندازه هغه ټولنه قوي وي او ددی بر عکس." لکه څنګه چې ابن خلدون يې په المقدمه کې وړاندوينه کړې وه، د مسلمانانو زوال هغه وخت پيل شو، کله چې اعتدال ته د دوئ ژمنتيا مخ په زوړ شوه.

پوهانو اسلامي اصولو ته ژمنيتا او سولې رامنځته کولو ترمنځ تړاو په اړه لويديځوالو يو لړ څېړنې کړي دي .دوی وايې چې اعتدال ،چې د اسلام يو بنسټيز اصل دی، او سولې ترمنځ يوه ژوره اړيکه موجوده ده. مسلمانو او لوديځو څېړونکو د اسلامي اصولو لکه مهربانی، شفافيت، د انسانانو ترمنځ په برابرئ، د نورو حقونه په رسميت پېژندل او هغوی ته درناوی کولو باندی ژورې څيړنې کړی دي. که دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



اصول په عمل کې پياده شي ديوې معتدلې ټولنې رامنځته کېدو او بالاخره په ټولنه کې ټکاو رامنځته کولو ته لاره اواروي.

داسلام يو مهم پيغام د معتدلې ټولنې رامنځته کول دی. د بېلګې په ډول په قران شريف کې څه دپاسه سل ځل د بې عدالتۍ چې په ظلم، اثم، اوضل په نومونو سره ياد شوی، په اړه وعيد ياد شوی دی. خادوری وايي چې د الله تعالی له وحدانيت وروسته هغه اخلاقي اصل چې په قران شريف او اسلامي تعليماتو کې پرې زيات ټينګار شوی دی هغه ټولنيز او انفرادي ژوند کې عدالت او برابري ده.

ابن خلدون هغه افراد چې په پټو سترګو بې عدالتي قبلوي او يايي په اړه غلې پاتي کېږي غندلي. ارسطو د عيسی^ع له زيږيدو ډېر وړاندې دغه ډول خلک ملامته کړي او ويلي يې دي، چې هغه خلک چې د بې عدالتۍ په وړاندی نه درېږي هغوی بزدله او يا هم په بې عدالتۍ کې يې ګټې خوندي دي. اسلام بيا د بې عدالتۍ په وړاندی ودريدل او مبارزه کولو ته غوره جهاد ويلی دی.

په تاريخي لحاظ د ولسي مبارزو او اعتدال ترمنځ ژوره اړيکه موجوده ده. د پښتنو له سيمو تر امريکا او له هنده بيا تر منځني ختيځ او شرقي

(c) ketabton.com: The Digital Library



اروپا پورې خومره ولسي مبارزې چې ترسره شوي، موخه يې د اعتدال رامنځ کول او د ظلم پر خلاف مبارزه ده.

دغه مبارزې د غلامۍ د زنځير د ماتولو، د تعصب پر خلاف، د اختلاس پر خلاف، د ظالم واکمن پر خلاف او د انسان سره د غير انساني سلوک پر خلاف ترسره شوي. لدې امله د ولسي مبارزو موخې اکثره وختونه په اعتدال ولاړې ټولنې رامنځته کول او ټولنه د ټکاو طرف ته سوق کول دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# افغاني او اسلامي ارزښتونه او ولسي مبارزه

د ولسي مبارزې سره بشپړه نابلدتيا ددې لامل ګرځي، چې يو شمېر خلک ولسي مبارزه د افغان کلتور لپاره يوه پردۍ پديده وګڼي، د دوی دا فکر ولسي مبارزې او افغان کلتور په اړه د دوی د سرسري مالوماتو زېږنده ده. ولسي مبارزه په اصل کې د افغان ولس په متن کې پالل شوې پديده ده، چې هرې شخړې ته د تاوتريخوالي څخه د خالي لارو چارو لکه د جرګې له لارې د حل کولو توصيه کوي.

په مصر، تيونس او ليبيا کې ولسي مبارزې ددې لامل شوې، چې مستبد واکمنان له واکه ګوښه شي. همدارنګه په ۱۹۹۰م کې د نجم الدين اربکان پر خلاف ولسي مبارزې د نومو ړي د ګوښه کېدو لامل وګرځېدې تاريخي او داوس وخت اسلامي ولسي مبارزې د افغانستان لپاره عواقب لري. هغه څه چې د اسلام پر خلاف وي، هغه د افغانستان د کلتور پر خلاف هم دي او همدا لامل دی، چې افغانان د نورې اسلامي نړۍ له پېښو اغېز منېږي. د عربو له پسرلي وروسته په افغانستان کې هم مدني ګروپونو او سياسي ګوندونو د ولسي مبارزو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



موثریت په اړه بحثونه کول پیل کړل، ځینو خو آن په وړه کچه ولسي خوځښتونو هم پیلولو ته لستوڼي بډ وهل.

یو شمېر افغان ځوانانو د ځانګړو موخو د لاسته راوړلو لپاره د فېسبوک ګروپونه جوړ کړل او د نورو ځوانانو د ملاتړ تر لاسه کولو لپاره یې مبارزې پیل کړې. افغان کلتور د ولسي مبارزې ځینې داسې تاکتیکونه لري، چې په دې لاره کې ډېر موثر تمامېدی شي.

له دې پرته افغانانو د تاریخ په اوږدو کې د بېلابېلو موخو د لاسته راوړلو په خاطر د ولسي مبارزې بېلابېل تاکتیکونه کارولي، افغان مجاهدینو له روسانو سره د جهاد پر مهال د ۱۹۸۰ یمې په وروستېو کې په پېښور کې منځ مهالی حکومت جوړ کړ، چې په حقیقت کې یې موخه د کابل له ادارې سره یوه متوازې اداره رامنځته کول وو. که څه هم د دغه منځمهالي حکومت جوړول ډېره بریالی تجربه نه وه، خو دغه کار د کابل حکومت د تضعیف لپاره د ولسي مبارزې یو ښه تمرین و. که له ملي کچې راتېر شو، په سیمه ییزه کچه د ولسوالیو او ولایتونو په کچه د ولسي مبارزو د پیاده کولو لپاره د متوازي ادارو رامنځته کول په هر کلتور کې پیاده کېدی شي او د هېڅ کلتور پر خلاف نه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په بېلابېلو وختونو کې د نورو اسلامي ټولنو، اشخاصو او تحريکونو له خوا متوازي اداري جوړې شوي دي. د ايران رضاشاه د واک له پرېښودو وروسته په ۱۹۷۰م کال کې يو لومړی وزير په خپل ځای پرېښود. خمېني او د شاه پر خلاف مارکسيستو مبارزينو هم په ګډه خپل لومړی وزير وټاکه. په ايران کې د لږ وخت لپاره دوه لومړي وزيران وو، له يوې خوا د خمېني او مارکسيستانو لومړی وزير او له بلې خوا د شاه له خوا ټاکل شوی لومړی وزير، چې د شاه لومړی وزير بالاخره لږ وخت وروسته تېښتې ته اړ شو او د خمېني لومړي وزير يې ځای ونيو.

د طالبانو له حکومته وروسته په تېرو لسو کلونو کې د ولسي مبارزې بېلابېل تاکتيکونه کارول شوي دي. په دغو تاکتيکونو کې د جرګو جوړول، داعتصابونو او مظاهرو کول او نور شامل دي. لويه جرګه په افغانستان کې د شخړو د حل يوه مهمه لار ده. دغه تاکتيک د سياسي، اقتصادي او ټولنيزو ستونزو د حل يوه موثره طريقه ده. په سيمه ييزه کچه جرګه د دوو افرادو، کورنيو او قومونو تر منځ د لانجو د اوارۍ په موخه جوړېږي .

لويه جرګه د هېواد د ټولو قومونو تر منځ د نظر ورته والی او توافق رامنځته کوي. کله چې په کندهار کې ګورګين ووژل شو او افغانانو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو ځانګړي حکومت اعلان وکړ، نو لومړی مشر يې ميرويس نيکه وټاکلو دغه دواړه پيښې د جرګې له خوا تصويب شوې وې .

همدارنګه د معاصر افغانستان لومړنی پاچا احمدشاه ابدالي په ۱۷۴۷م کال کې ديوې لويې جرګې په نتيجه کې غوره شو. په اوس وخت کې دافغانستان ولسمشر حامد کرزی په ۲۰۰۲م کال کې د اتلسو مياشتو لپاره دافغانستان د منځمهالې ادارې د مشر په توګه دلويې جرګې له خوا وټاکل شو.

وروسته په ۲۰۰۴م کال کې د اساسي قانون لويې جرګې په افغانستان کې نوی اساسي قانون تصويب کړ. دافغانستان له بېلابېلو برخو د جرګې ګډونوالو په دغه دواړو جرګو کې ګډون وکړ. د دغه جرګو غړي د هېواد له بېلابېلو سيمو راټول شوي وو، بېلابېل پس منظرونه يې درلودل او کلونه کلونه يې له يوه بل سره جګړې کړې وې. دوی د افغانستان د راتلونکي لپاره په يو داسې ميکانيزم توافق وکړ چې ټولو اړخونو ته د منلو وړ و.

په ۱۹۳۰ مه لسيزه کې دانګريزانو پر خلاف د خان عبدالغفار خان تر مشرۍ لاندې د خدايي خدمتګارو مبارزه په سيمه کې لومړۍ ولسي

(c) ketabton.com: The Digital Library



مبارزه وه. د خدايي خدمتګارو د مبارزې بريا دا نظر چې ګواکې پښتانه متشدد دي، منفي ثابت کړ.

د پاکستان او افغانستان تر منځ د لويې جرګې جوړېدل او په ۲۰۱۰م کال کې له مخالفينو سره د خبرو اترو لپاره د سولې شورا د جوړېدو لپاره د لويې جرګې جوړول، د جرګو نورې بېلګې دي.

د لويې جرګې حيثيت ته د افغانستان د اساسي قانون له خوا جواز او قانون مندي ورکړل شوې ده. د اساسي قانون په ۱۱۰ مه ماده کې راغلي، چې يوازې لويه جرګه د اساسي قانون د تعديل واک لري او همدارنګه لويه جرګه د دې واک لري، چې په مهمو مسايلو کې افغان حکومت ته مشوره ورکړي. د اساسي قانون ۱۱۱ مه ماده کې راغلي، چې لويه جرګه د ولسمشر د مواخذې د غوښتلو حق لري.

جرګه د يوې ځانګړې موخې لپاره له تشدده خالي تاکتيک دی. د افغانستان د اساسي قانون ۳۴ مه ماده لويه جرګه تعريفوي او وايي، چې لويه جرګه د پارلمان د دواړو جرګه ګيو او د ولايتي شورا له غړو او د ولسواليو د شوراګانو له مشرانو څخه جوړېږي. خو له تاريخي پلوه په لويه جرګه کې د حکومت د مداخلې هېڅ ډول جواز نه شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کلو، ولسواليو، ولايتونو او بالاخره په ملي کچه جوړېدونکې جرګې يوازې له قومي متنفذينو، عالمانو او نورو اشخاصو څخه جوړې شوي دي. که څه هم د افغانستان د حکومتونو د لاسوهنې له امله د لويو جرګو پر ماهيت او پرېکړو تاثير شوی او حکومت د جرګو پر پرېکړو اغېز لري، خو جرګې د افغانانو په سياسي او ټولنيز ژوند ژوره اغېزه لرلې. همدارنګه جرګه اسلامي ملاتړ هم له ځانه سره لري. څه باندې ۱۴۰۰ کاله پخوا اسلام د شوراګانو د جوړولو امر کړی او الله ج په سورت شورا کې فرمايي : (( او په کارونو کې يو له بل سره مشوره کوئ )).جرګه دستورا افغانی بڼه ده.

د نورو کلتورونو په پرتله افغاني کلتور داسې ډېر تکتيکونه لري، چې په ولسي مبارزه کې ترې ګټنه (استفاده) کېدای شي.لدې بر علاوه د ولسي مبارزې نور تاکتيکونه لکه اعتصابونه، مظاهرې، شلونه، اقتصادي تحريمونه، د موازي ادارو رامنځته کول، حکومتي چارواکو ته غاړه نه ايښودل، همکاري نه کول او دې ته ورته د ولسي مبارزې نور تاکتيکونه په افغاني کلتور کې رواج دي.

د ولسي مبارزې په اړه ناسم پوهاوی ددی لامل ګرځېدلی، چې دغه ډول مبارزه زموږ په ټولنه کې يوه نا اشنا پديده وګڼل شي او ولسونه او نخبه ګان دغه مبارزه زموږ په ټولنه کې د پلي کېدو وړ نه ګڼي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوشرنګه چې بدلون يو اوږد وخت ته اړتيا لري، نو په افغانستان کې هم بايد د ذهنيت او رويې بدلون ورو وي. بيا هم افغانان بايد د مؤثرې وسيلې په توګه او د ټولنيزو ستونزو د حل په موخه د ولسي مبارزې په اړه جدي فکر وکړي.

دغه مبارزه بايد په سيمه ييزه کچه وي، يوځل چې مبارزين د دغه ډول مبارزې په اړه کافي تجربه او پوهاوی ترلاسه کړي او د دغه ډول مبارزې په اړه پوهاوی عام شي،يوازې هغه وخت بيا ولسونه کولای شي چې دغه مبارزه په ملي کچه د ملي مسايلو د حل لپاره وکاروي. له پوهېدو پرته د دغه ډول مبارزې کارول به خطرناکې پايلې ولري .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شخړه

په فطرت کې تنوع او اختلاف د کايناتو د جوړولو يو اصل دی، دغه خبرې ته په قران شريف کې هم اشاره شوې: (ومن ايته خلق السموات والارض واختلاف السنتکم والوانکم ان فی ذالک لايت للعالمين) ژباړه: او د خدای له نښو څخه ځينې يې پيداکول د اسمانونو او ځمکو او رنګونو ستاسې کې اختلاف دی بې شکه په دغه کار کې نښانی لپاره د مخلوقاتو دي.

د نړۍ هر انسان له بل انسان څخه متفاوت دی، د نړۍ هيڅ دوه انسانان يو ډول نه دي، د هر انسان خيالات، احساسات، تجربه، پوه، فطرت او ميلانات له بل انسان څخه مختلف دي. په نړۍ کې تنوع او اختلاف د نړۍ سيستم د چلولو لپاره مهم دي يا په بل عبارت که ژور فکر ورته وکړو، تنوع د نړۍ د نظام د چلولو لپاره اړين دی.

يو وګړی د نړۍ ټول هنرونه او علمونه نشي تر لاسه کولای، يو شخص انجينر وي، بل ډاکټر وي، بل معلم وي، بل قاضي وي، بل تجار وي او نور بيا نور کسبونه کوي او دغه تنوع ددې لامل ګرځي، چې انسانان د يو بل اړتياوې پوره کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



راځئ د یو څو ثانیو لپاره فکر وکړو، چې د نړۍ ټول انسانان یو ډول مخونه لري او ټول یو ډول خواړه خوښوي، یو ډول دندې خوښوي، أیا په دغه ډول حالت کې به د انسانانو د پیژندګلوي لپاره څومره ګډوډي وي؟ یو ډول خوراکونه به خوړل کېدل نور خوراکونه به له منځه تلل او خرابیدل او د هغه خوراک پر سر به تل د انسانانو تر منځ جګړه روانه وه، کوم، چې د ټولو خوښیده. د موضوعاتو په اړه د بیلا بیلو نظریاتو درلودل او ډیر او ژور فکر کولو ته لاره هواروي او په ټولنه کې د خوشحالۍ، د فکر د پراخیدو، د ټولنې د پرمختګ او یو بل ته د درناوي لامل ګرځي

له دې امله د انسانانو تر میځ د فکر او نظر اختلاف یو طبعي پدیده ده .

شخړې او لانجې د انسان په خټه کې اغږل شوي دي، نړۍ ته دانسانانو له راتګ سره سم دوی تر منځ شخړې پیل شوې. حمزه بابا دغه حقیقت ته پخپل یو شعر کې داسې اشاره کړې :

چې دنیا د اب وګل ته انسان راغی

مینه راغله، فتنه راغله، طوفان راغی

لومړی شخړه د آدم؏ د دوو زامنو هابیل او قابیل تر منځ وشوه. قابیل غوښتل خپله هغه خور ځان ته په نکاح کړي، چې د هغه وخت له

(c) ketabton.com: The Digital Library



قانون سره سم باید هابیل په نکاح کړې وای. له دې امله د دواړو ورونو ترمنځ شخړه رامنځته شوه. آدم (ع) د دریم ګړي په توګه له خپلو دواړو زامنو وغوښتل؛ چې قرباني وکړي.دچا قرباني چې اسماني اور وخوړله، هغه سلامت او دچا چې اسماني اور ونه خوړله، هغه ملامت دی.

وروسته له هغه چې دواړو ورونو قرباني وکړې، دهابیل قرباني اور وخوړله، چې مانایې دالله (ج) له طرفه دهابیل دحقانیت تصدیق و. خو دقابیل قرباني اسماني اور ونه خوړله. له دې امله قابیل خپل ورور هابیل ته په غوسه شو، شخړه یې ورسره وکړه او هغه یې وواژه.

سقراط وایي، چې ټول متضاد شیان لکه کم زیات، قوي ضعیف، لوي وړوکې، ژوند او مرګ داسې یو له بل سره تړلي دي، چې له یو وروسته بل رامنځته کېږي. لکه څرنګه، چې ویده کېده په پاڅیدلو سره تعقیبېږي، همدارنګه له ژوند وروسته مرګ راځي. که مخالف او متضاد شیان یو ځای نه وای اوژوند بغیر له مرګه وای بالاخره هر څه به له منځه تللي وای، ویلای شو، چې تضاد دژوند یو حقیقت دی. ارواپوهان وایي؛ چې ددوو ورونو او ان د دوه کیانو (غبرګونو) ترمنځ هم دځینو شیانو په اړه د نظر اختلاف موجود وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(جین شارپ) وایي چې په ټولنو او سیاست کې د نظر اختلاف نه بوازې حتمي دی، بلکې ځینې وختونه مطلوب هم دی .داسې باور کېږي؛ چې د خلکو نیمګړې اړتیاوې، ارزښتونه، ناسمې انګېرنې، پېژګلوي، سمبولونه ، حقونه او نور د شخړو له ځینو سترو لاملونو څخه دي.

دعام فکر پر خلاف د شخړې موجودیت ستونزه نه ده او باید ورته دیوه نا آشنا څیز په سترګه و نه کتل شي . شخړې ته د منفي پدیدې نه بلکې دیوه داسې حقیقت په سترګه باید وکتل شي، چې له ځانه سره ښېګڼې لري . شخړه دیو ګروپ او بل ګروپ په داخل کې د عیني ګروپ افرادو ترمنځ یوالی رامنځته کوي یاني شخړه دیووالي رامنځته کوونکې ځواک هم دی. په هره اندازه چې شخړه دوام کوي، په هماغه اندازه د ګروپ پېژندګلوي قوي کېږي. شخړې ډېر وختونه کمزوري ملتونه او ګروپونه غښتلي کوي، له استعمار او استثمار څخه یې خلاصوي او بې عدالتي هم له منځه وړي. که شخړې نه وای هېڅکله به بې عدالتي نه وای ننګول شوې، جبر او ظلم به دوام کولای. د شخړې پایلې ډېر وختونه د افرادو او ګروپونو یا ډلو د روحي او مادي خوشالۍ لامل ګرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تضاد او شخړه د ژوند په هر ډګر کې د تکامل لامل ګرځي، کله چې تکامل رامنځته شي ديو څه وخت لپاره خاموشي رامنځته کېږي. لدغه خاموشۍ وروسته بيا تضاد رامنځته کېږي، چې دغه تضاد تکامل رامنځته کوي او پدې توګه انساني ژوند تيريږي.

هغه ټولنې چې خلکو ته په کې د مخالف نظر د څرګندولو او د مخالفو افکارو د درلودلو ازادي وي، د هغو ټولنو په پرتله ډېرې پرمختللې دي چېرې چې د مخالف نظر د څرګندولو ازادي نه وي. دغه ټولنې نه يوازې په اقتصادي، بلکې په علمي ډګر کې هم د پرمختګ کوي.

د شخړو په اړه ناسمه انګېرنه؛ له شخړې او هم له شخړې سره د چلند کولو ترمنځ په توپير نه پوهېدلو څخه رامنځته کېږي، چې دا دوه بېلابېلې مفکورې دي. شخړه هغه وخت ستونزمنېږي، چې داوارې لپاره يې له زوره کار واخيستل شي.

يوه اصطلاح چې کله ديو مضمون يا متن قالب ته ورولويږي هغه اصطلاح يا د مضمون او يامتن په رنګ رنګيږي ددې مانا داده چې يوه اصطلاح په بيلابيلو ځايونو کې بيلابيلې ماناوې لري.

شخړه: په ولسي مبارزه کې اختلاف نظر د افکارو تنوع او د انسانانو د چال چلند ترمنځ توپير ته ويل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه څنګه چې اکثریت خلک شخړې یو نامطلوبه پدیده ګڼي، نو ځکه د شخړو اړونداړخونه او اشخاص اکثره وختونه له دې مسؤلیته خپلې اوږې سپکوي او مقابل لوری د شخړې په پیلولو تورنوي. له دې پرته که یو څوک زموږ د فکر خلاف خبره وکړي، موږیې اوریدل نه غواړو او تل غواړو، چې خلک زموږ د فکر مطابق خبرې وکړي.یانی موږ لانجې ته د یوې طبعي پدیدې په توګه نه ګورو .

له شخړو سره دغه ډول چلنددخلکو دهغه فکر زېږنده ده، په کوم کې چې خلک زور زیاتی او شخړه مترادفې پدیدې ګڼي، خو دا دواړه دوه مختلفې پدیدې دي. زور زیاتی د شخړو د ځرګندولو لاره ده او یا دا چې د شخړې کولو یوه وسیله ده .

شخړې به په نړۍ کې تر هغې دوام کوي، چې انسانان د ځمکې پر مخ ژوند کوي. د شخړې شته والی ته د یو حقیقت په سترګه کتل په کار دي، چې باید منطقي چلند ورسره وشي.

ولسي مبارزه د انسانانو تر منځ د شخړو موجودیت ته د یو حقیقت په سترګه ګوري او د ټولو انسانانو د برابرو حقونو او د مخالفو نظرونو د درلودلو ننګه کوي، د هغو خلکو او نظامونو پر خلاف تر سره کیږي، چې په نورو خپل نظرونه او افکار تپي. ولسي مبارزه همدارنګه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



انسانانو تر منځ د شخړو د حل لپاره د زور زياتي نه د خالي مبارزې پر مټ د تر سره کولو وړ انديز کوي او آن که موږ غواړو چې په ټولنه کې لانجې له بېخه وباسو دا کار امکان نه لري.

په ټولنه کې په هېڅ ډول د لانجې د رامنځته کېدو مخنيوی نه شي کېدای او په ټولنه کې هغه يو حتمي شی دی. پکار ده؛ چې له لانجې څخه د ستونزو د حل لپاره ديوې وسيلې په توګه ګټنه(استفاده) وشي.

يا په بل عبارت لانجه له تخريبي يا ورانوونکي لانجې څخه تعميري يا جوړوونکي لانجې ته واړوو. په دغو حالاتو کې لانجه د ټولنيز سمون د رامنځته کولو لپاره کارول کېږي.لانجه په خپله نه بد او نه ښه شی دی .اصلاً د لانجې سره چلند مهم او بايد فکر پرې وشي اکثره وخت خلک لانجه په زور زياتي سره حل کوي، ولسي مبارزه کې ټينګار پدې دی چې ستونزې بايد له تاوتريخوالی څخه خالي لارو چارو پر مټ حل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تاوتريخوالی (تشدد)

د عدم تشدد د تشريح لپاره اړينه ده، چې متضاديې، روز زياتی، تاوتريخوالی، يا تشدد تشريح کړو. ډېر وختونه يو شی د هغه د متضاد نه په اسانۍ سره پيژندل کيږي، هر شی په اصلي صورت موجود وي، چې د دغه شی متضاد د لومړي شي بدل شوی حالت وي. سقراط وايي، چې نيکي يو اصل دی حقيقي شي دی، بدي د نيکۍ خراب شوی يا بدل شوی حالت دی. **د** يوې ټولنې سياسي، ټولنيز او اقتصادي حالت په هغه ټولنه کې د تشدد پر تعريف ژوره اغېز لري، په يوه ټولنه کې شايد يوه پديده او عمل تشدد وګڼل شي، خو ښايي په بله ټولنه کې بيا همدغه عمل او پديده يو مطلوب او سم عمل وګڼل شي. د بېلګې په ډول، ډېر کلونه پخوا به چې په هندي ټولنه کې د يوې ښځې مېړه مړ شو، نو د هندوانو د رسم (ستي) له مخې به ښځه له خپل مېړه سره يو ځای ژوندۍ سوځول کيده او دغه کار په هندوانو کې پوخ دود و چې اوس له منځه تللی، خو ډېر خلک له دغه رواجه په خبر ېدو ګوته په غاښ پاتې کيږي.

هغو ټولنو ته چې کلونه کلونه يې د شاهي او ديکتاتوري نظامونو لاندې ژوند تېر کړی وي او د ولسواکۍ له خونده ناخبره پاتې وي، ښايي له خپلو سياسي حقونو لکه د رايې ورکولو، د ګوندونو جوړولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



او يا د ځان د کانديدولو له حق څخه محروميت ورته تشدد ښکاره نشي، خو هغه ټولنې چې په ولسواکه نظامونو کې يې ژوند کړی وي او د سياسي حقونو خونديې ځکلی وي، هغوی ته بيا له يادو حقونو څخه محروميت تشدد ښکاريږي. په ځينو ټولنو کې ښځې له دې امله چې د ټولنې ټولنيز حالت اجازه نه ورکوي؛ ښايي د روزګار او د زده کړو له حقه محرومې کړای شي او دغه کار په دا ډول ټولنو کې يوه عادي خبره ده. خو په نورو ټولنو کې بيا ښځې له سياسي او اقتصادي حقونو څخه محرومول تشدد ګڼل کيږي.

د دې بحث موخه دا نه ده، چې کلتورونه او رواجونه د ښه والي په تله وتلو، بلکې د بحث موخه ديو لړ رواجونو په اړه د بېلابېلو ټولنو مفکورې روښانه کول دي. کله چې له تاوتريخوالي څخه بحث کيږي، د ډېرو خلکو ذهن ته وهل، وژل، وېرول، ګواښل او شکنجه راځي. په داسې حال کې چې ياد شوي موارد د تشدد ډولونه دي، له دې پرته تشدد ډېر نور اقسام هم لري، چې هغو ته خلک د تشدد په نظر نه ګوري.

د تشدد داډولونه په ټولنه کې دومره عام دي، چې خلک ورته د تشدد په سترګه نه ګوري. که څه هم د تشدد داډولونه ښکاري او مشاهده کيږي، خو د تشدد پټ ډولونه ورته ويل کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library




دځينو ټولنو او اشخاصو ځيني احساسات، ارزښتونه او چال چلنددتاوتريخوالي لامل ګرځي، چې په ټولنه کې نفرت، وېره، بې باوري، توکمپالنه، جنسيت پرستي او بې صبري را منځته کوي. دغه موارد په خپله تاوتريخوالى يا تشدد دى، خو دا چې د تشدد په دغه ډولونو کې ښکاره فزيکې زور زياتى نشته، نو ځکه ورته خلک د تاوتريخوالي په نظر نه ګوري او يا ورته دغه موارد له سره تشدد نه ښکاري.

ځيني وختونه سيستمونه او جوړښتونه هم دتاوتريخوالي لامل ګرځي، دغه تاوتريخوالى په تعليمي ادارو، دندو، روغتيايي خدماتو او ان د خلکو په وزځني ژوند کي د تبعيض لامل کېږي او نور وختونه بيا د خلکو د حقونو د پايمالېدو لامل ګرځي، چې دغه دواړه موارد هم د تاوتريخوالي ډولونه دي. تاوتريخوالى يوازې عمل نه بلکې فکر او چلند ته هم وېل کيږي. د تاوتريخوالي يو جامع تعريف د اشخاصو او افرادو بنستيزو، سياسي او ټولنيزو حقونو پايمالول دي.

که د تشدد ياد ډولونه په غور سره مطالعه شي، دې پايلې ته رسېږو؛ چې تشدد درې اړخونه لري، ښکاره تاوتريخوالى، غير مستقيم تاوتريخوالى او کلتوري تاوتريخوالى. په لومړي ډول کې د تشدد هغه ډولونه څېړل کيږي، چې ښکاري لکه وهل ټکول، شکنجه کول او نور ...

(c) ketabton.com: The Digital Library






په دویم ډول کې د تشدد هغه ډول دی، د کوم تر سره کوونکي چې نه ښکاري، لکه د کارخانو له خوا د هوا ککړتیا، یا هغه قوانین چې د ټولنې یوه برخه منزوي کوي .

کلتوري تاوتریخوالی د کلتور هغه برخه ده، چې د یو شمېر افعالو د توجیه کولو لپاره کارول کېږي. د ناسمو سیاسي، اقتصادي او ټولنیزو جوړښتونو له امله رامنځته شوی تاوتریخوالی د جګړې له لارې د رامنځته شوي تاوتریخوالي په پرتله په څو څو ځله زیات وي. شمېرنو ښودلې چې په جګړو کې په اوسط ډول هره ورځ ۳۰۰ نفره چې په کال کې ۱۰۰۰۰۰ نفر کېږي، مري. خو د درملنې وړ ناروغېو له امله په نړۍ کې هر کال ۶۰۰۰۰۰۰ شپیته ملیونه خلک مړه کېږي. د روغتیا نړېوال سازمان وایي؛ چې د دغو مړینو نیمایي یې د خوړو، اوبو او د سرپناه د نشتوالي له امله رامنځته کېږي. لدې امله د تګلارو او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناسمو سیستمونوله لارې رامنځته شوي تاوتریخوالی د جګړو له امله رامنځته شوې تاوتریخوالی په پرتله په مراتبو زیات دی خو د تاوتریخوالی په اړه د پوهاوی دنه موجودیت له امله دغه ډول تاوتریخوالي ته ډېر کم پام شوی دی.

نړیوالې روغتیایي ادارې تاوتریخوالی له یوې بلې زاویې څخه په درې ډوله ډلبندي کړی: پر ځان تاوتریخوالی کول، په دې کې پخپله د انسان لخوا پر خپل ځان تاوتریخوالي تر سره کېږي، چې بیلګه یې ځان وژنه ده. د اشخاصو تر منځ تاوتریخوالی په نورو خلکو لکه په کور ودانۍ، د کور په نورو غړو تشدد کول، عامه وژنه او په اداري چوکاټونو کې تاوتریخوالي ته ویئل کېږي. د ټولنیز تشدد په بیلګو کې د دولتونو دننه، د یو دولت له بل دولت سره لانجې، ټولنې کې لانجه، ویره اچونه او منظمه وژنه شامل دي.

تاوتریخوالی د افرادو او ټولنو په اقیصادی اوزا هم ډېر تاثیر کوي خو د تاوتریخوالي له امله رامنځته شوي اقتصادي زیان ته هم زیات پام نه کیږي، او د تاوتریخوالي اقتصادي اړخونه نه مطالعه کیږي که د تاوتریخوالي اقتصادي زیانونه وارزول شي ډېر زیات دي دغه زیانونه درې ډوله ( وجوده زیانونه، له جګړې وروسته زیان او نورو اړخونو ته اووښتی زیان) دي. په یوه معلومه سیمه کې په یو کال او یا ځانګړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت کې د تشدد له امله رامنځته شوي زيان ته موجود زيان ويل کېږي. له تشدد نه په ميراث پاتې شوی زيان لکه دايمي ټپونه، د وړتيا کميدل او د ټپيانو له پاره دايمي درملنه شامل دي، دا هغه زيانونه دي، چې له جګړې وروسته ورسره ټولنه لاس او ګريوان وي.

نورو اړخونو ته اوښتي زيان کې هغه زيانونه شامل دي کوم، چې هغه خلکو ته ور اوړي څوک ، چې په جګړې کې دخيل ندي. ددې بېلګه له يو هيواد نه بل هيواد ته د کډوالو تلل دي، دغه کډوال د کوربه هيواد به سم وی مه يې بدلوه بار درندوي. په ټوله نړۍ کې د تشدد اقتصادي زيان د پام وړ دی، کـه پـه ټولـه نـړۍ کـې پـه ۲۰۰۷ کـې تاوتريخوالی نه وي رامنځته شوی نړيوال مجموعي توليد به قابو ۹ سلنه زيات وي.

تاوتريخوالی هغه عمل ته ويل کېږي؛ چې ديوه انسان د پوره استعداد او وړتيا سره سم د هغه د ژوند تېرولو چانس راکموي.

په ولسي مبارزه کې بايد د نورو خلکو پر حقونو هېڅ ډول تېری ونه شي. پـه حقيقـت کـې د ولسـي مبـارزې موخـه د خلکـو د حقونـو د خونديتوب لپاره مبارزه کول دي. که د نړۍ د ولسي مبارزو تاريخ تـه و ګـورو، اکثريـت يـې د تشـدد د ټپوډولونـو پر خلاف تر سره شـوي دي. د

(c) ketabton.com: The Digital Library



عبدالغفار خان ،منډیلا،مارټین لوتر کنګ مبارزې او یا د عربو پسرلی ته که وګورو، دغه ټولې مبارزې د هغه تشددچي سیستم رامنځته کړیې وې، پر خلاف ترسره شوي، دغه مبارزې د سیاسي حقونو،ا زادیو او انسانانو سره د انساني چلند د کولو لپاره رامنځته شوې وې.

زموږ د سیمې خلک فکر کوي؛ چې ولسي مبارزه د هغو خلکو لاره ده، څوک چې ضعیف وي او له تاوتریخوالي کر که کوي. دولسي مبارزې بر اخه مطالعه دغه نظر منفي کوي[٣]. له تشدده خالي مبارزه ددې لپاره نه کېږي، چې پلویان یې له تشدد څخه له کار اخیستلو وېرېږي او یا ضعیف دي، بلکې دغه ډول مبارزان قوي دي او دوی فکر کوي، چې دغه ډول مبارزه د میارزو د نورو ډولونو په پرتله ډېره ګټوره ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ولسي مبارزه د وسله والې مبارزې په پرتله ډېره مؤثره ده

ولسي مبارزين پر ته له دې چې زور وکاروي، د مخالف د زور پروړاندې له تشدده دخالي لارو چارو پر مټ مبارزه کوي. يو شمېر خلک بيا ولسي مبارزين پاسيفيستان (د خلکو خاموشه کوونکي) ګڼي او دوی ته له مخالف لوري سره د يوډول همکارانو په سترګه کتل کېږي، چې له لانجو او اړو دوړ څخه ډډه کوي ، خو د دغه غالب فکر بر خلاف، ولسي مبارزه له لانجې مخ پټول نه بلکې د لانجې لپاره ديو معقول چلند له لارې د پراخه ولسي ګډون پر مټ حل لاره پيدا کول دي. پاسيپيزم يو تاريخي فکري مکتب دی ،چې جګړه او تاوتريخوالی د شخړو د حل لارې په توګه ردوي. د دې مکتب پيروان وايي؛ چې شخړی بايد په سوله ييزه توګه اوارې شي.. دا کړنه په خپل ځان قوي باور او کلکې ارادې ته اړتيا لري. هر هغه شخص چې پر ځان باور ونه لري، دولسي مبارزي فورمول کې ځای نه لري. د وسله والې مبارزې بر عکس په دې مبارزه کې ټوله تکيه د ولس پر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملاتړ کېږي. پـه خـالي لاس ولـس د مبـارزې د پر مختـګ لپـاره سـوق کـول دکمزورو خلکو کار نه دی.

که ولسي مبارزې او وسله والې مبارزې له تخنيکي پلوه وڅېړل شي، نو د وسله والـې مبـارزې پـه پرتلـه پـه ولسـي مبـارزه کـې د ګډون کولـو خنډونـه کـم دي. لـومړی دا چـې د وسله والـې مبـارزې پـه پرتلـه ولسـي مبارزين د نظام د مختل کولو لپاره بېلابېلې کړنـې ترسره کـوي او وسله والـه مبـارزه کـې يـوائې زور کـارول کېږی ددې برعکس پـه ولسـي مبـارزه کـې يوستر شـمير تـاکتيکو کـارول کېږی دغـه تاکېکونـه ټـولينز اقتصـادي او سياسـي هـر ډول لارې چـارې دابريښـي. دويـم دا چـې پـه ولسـي مبارزه کې د هر عمر او جنس خلک ګډون کولای شي. په وسله واله مبارزه کې يوازې ځوانان او هر هغه څوک چې جګړه کـولای شـی او سـخته تېـر ولای شـي، ګـډون کـوي. څـومره چـې پـه مبـارزه کـې د ګډونوالو تـرمنځ تنـوع زياتـه وي، پـه همـاغـه انـدازه يې ځـپل سـتونزمن دي.

په هره اندازه چې د مبارزينو شمېر زيات وي، په همـاغـه اندازه د رژيـم د نړېدو او د رژيم د نخبـه ګـانو وفاداريـانو کـې د تغير رامنځته کېدو امکان زيات وي. يا په بل عبارت د مبارزينو د شمير او د بريـا د چـانس تـرمنځ مخامخ اړيکه موجوده ده، څومره چې په مبارزه کې د مبـارزينو شـمير

(c) ketabton.com: The Digital Library



زیاتېږي په هماغه اندازه د مبارزې د بریا چانس زیاتېږي او د دې برعکس.

د ماریه ستيفن او ایریکا چینوویټ موندنې ښيي، چې د شلمې پېړۍ په سترو وسله والو مبارزو کې په هره مبارزه کې او سطاً پنځوس زره کسانو او په هم دې مهال په سترو ولسي مبارزو کې په هره مبارزه کې او سطاً دوه لکه افرادو ګډون کړی.

د شلمې پېړۍ له پيل څخه تر ۲۰۰۶م کاله پورې د رامنځته شویو سترو ولسي او وسله والو مبارزو پرتله ښيي چې دغو کلونو کې ولسي مبارزې له دوی سره دسمو روانو وسله والو مبارزو په پرتله دوه ځلې زياتې بريالۍ شوي دي. له دې ښکاري چې ولسي مبارزې د وسله والو مبارزو په پرتله زياتې اغېزمنې دي.

په وسله والو مبارزو کې اکثره وختونه ګډونوال اړدي، چې د روزنې له سختې مرحلې تېر او بیا په مبارزه کې ګډون وکړي. په داسې حال کې چې ولسي مبارزين هم بايدپه مبارزه کې ترګدون وړاندې، روزنې له مرحلې تېر شي، خو د ولسي مبارزينو روزنه د وسله والو مبارزينو د روزنې په پرتله ډېره اسانه ده. ولسي مبارزين کولای شي دمبارزې له سر ته رسولو وروسته خپلو کارونو او ورځني ژوند ته ډېر

(c) ketabton.com: The Digital Library



په اسانۍ سره ورستانه شي. خو د دې بر عکس، وسله وال مبارزين په اسانۍ سره خپل عادي ژوند ته نشي ستنېدلای. له دې امله د وسله والو مبارزو په پر تله په ولسي مبارزو کې د خلکو ګډون اسانه دی او له دې کبله زيات شمېر مبارزين په ولسي مبارزو کې ګډون کولی شي.

دولسي مبارزې يو بل قوي اړخ دا دی چې د دې سره سره چې چاروراکي تل هڅه کوي چې مبارزين وځپي خو امنيتي ځواکونه له يو څه وخت وروسته د مبارزينو ځپلو ته دوام نشي ورکولای. کېدای شي داسې فکر وشي، چې امنيتي ځواکونه د خپل انساني حس له مخې د بې وسلې خلکو ځپلو ته تر ډېره دوام نشي ورکولای. د ولسي مبارزې پوهانو ته دغه خبره ناسمه ښکاري، دوی په دې باور دي، چې اصلاً د مبارزينو ځپل د مبارزينو د لا زيات غبرګون د رامنځته کېدو لامل ګرځي يا په بل عبارت زورزياتی د ولسي مبارزې دمتنوعو لار چارو په وړاندې بې وسه ثابتېږي.

دا کار ډېری وختونه د دې لامل ګرځي چې امنيتي ځواکونه له مبارزينو سره ملګري کېږي او يا خپلې دندې پرېږدي. د امنيتي ځواکونو په ليکو کې د درز رامنځته کېدل د رژيم د واکمنۍ د پای ته رسېدو پيل ګرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددې بر عکس، دوسله والې مبارزې د ځپلو لپاره نه يوازې دا چې د رژيم په ليکو کې هم غبرګ موجوده وي، بلکې ولسونه هم له رژيمونو څخه ددغه ډول مبارزو په ځپلو کې ملاتړ کوي. دغه ډول مبارزې د ملت او دولت ترمنځ د درزونو د رامنځته کولو پر ځاى د دوى ترمنځ يووالى او همغږي رامنځته کوي.

واکمن تل هڅه کوي؛ چې ولسي مبارزين زورزياتي کاروولو ته مجبور کړى او ولسي مبارزې په وسله والو مبارزو بدلې کړي. دوى ددغه کار لپاره د ولسي مبارزينو ليکو ته دولتي جاسوسان ورداخلوي، دغه جاسوسان پاروونکې کړنې ترسره کوي، حکومت مبارزين فزيکي ټکر ته اړ کولو له لارې غواړې چې خپل ځان لپاره د زورکارولو پلمه پيدا کړي.

همغه وخت کله مبارزين فزيکي ټکر پيل کړي، واکمنو ته د زورکارونې پلمه په لاس ورځي. حکومتونه اړ دي، چې د بې وسلې مبارزينو پر وړاندې د زور کارونې لپاره مشروعيت پيدا کړي. ځکه چې د سوله ييزو بې وسلې مبارزينو پر وړاندې دوامداره زورکارونه د امنيتي ځواکونو په ليکو کې د درزونو د رامنځته کېدو لامل ګرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوهان باوري دي؛ چې ولسونه هغه وخت په مبارزه کې ګډون کولو ته ډېر زړه ښه کوي، چې دوی په مبارزه کې د زيات شمېر خلکو د ګډون کولو تمه لري. په داسې حال کې چې دوسله والو مبارزينو کړنې لکه بمونه الوزول، تښتونې، وژنې، کمين نيول او نور ډېره ولسي توجه راجلبوي. دغه مبارزين تل پټ وي او د دوی واقعي شمېر له خلکو پټ وي، ولس د دوی له حقيقي شمير څخه نا خبره وي. د دې بر خلاف د ولسي مبارزينو ډېری کړنې ښکاره وي او همدا ډول د دوی شمېر هم مالوم وي.

د دوی له شمېر څخه د خلکو خبرېدل په ولس رواني تاثير لري او نور خلک په مبارزه کې ګډون کولو ته هڅېږي. له اخلاقي پلوه ډېر خلک له حکومت څخه د کوچنيو شکايتونو له امله شايد تاوتريخوالي ته مخه نه کړي. خودوی ډېر په اسانۍ ان د يو وړو کې شکايت له امله د حکومت پر خلاف ولسي مبارزې ته مخه کولای شي.

تر ټولو مهمه دا ده؛ چې او سني عصر کې د هر خوځښت بريا تر ډېره بريده په نړيوال ملاتړ مشروطه ده، د بشر د حقونو نړيوال ملاتړ يا نړيواله ټولنه له ولسي بې وسلې خوځښتونو څخه ملاتړ کوي او د اړوندحکومتونو له خوا د دغه ډول خوځښتونو د ځپل کېدو پر مهال خپل شکايت غږ پورته کوي. چې ډېر وختونه د نړيوالې ټولنې دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډول فشارونه اړوند حکومتونه د مبارزينو غوښتنو منلو ته مجبوروي. د مبارزو په اړه زياتره څېړنې د مبارزې يا جګړې پر مهال په حالاتو او شرايطو تمرکز کوي. خو په دې وروستيو کې پوهانو له جګړې وروسته د ټولنې د حالاتو او شرايطو په مطالعه او څېړلو تمرکز کړی دی. پوهان دې پايلې ته رسېدلي دي.

چې دوسله والو مبارزو په پرتله د ولسي مبارزی له مبارزی وروسته رامنځته شوی ټکاو او ثبات تر ډېر وخته دوام کوي. هغه ټولنې چې د تاوتريخوالی له لارې په کې سوله راشي، هلته د سولې له رامنځته کېدو وروسته په پنځوو کلونو کې د جګړې د بيا رامنځته کېدو او کورنۍ جګړې رامنځته کېدو امکان موجود وي. د دې بېلګې افغانستان، عراق او يو شمېر نور هېوادونه دي. خو هغه هېوادونه چې په کې د ولسي مبارزې له لارې سوله او ټکاو رامنځته شي، هلته د کورنۍ جګړې د رامنځته کېدلو امکان يا خو بالکل نشته او يا که وي هم ډېر کم دی.

لدې بر علاوه جګړې نه يوازې دا چې د ټولنې فزيکي زيربنا له منځه وړي، بلکې د ټولنې معنوي زيربنا هم په منفي توګه متاثره کوي. جګړه وشي، سوله رامنځته شي، ليکن د ټولنې په کلتور او معنوياتو يې تاثير تر ډېرو کلونو پاتې کېږي. دغه ټکي ته په قران

(c) ketabton.com: The Digital Library



شریف کې هم اشاره شوې، کله چې بلقیس ته د سلیمانع لیک ورسېدلو چې ورته یې لیکلي و، چې یا ایمان راوړه او یا جګړې ته تیاره شه ، بلقیس د خپلو جنرالانو سره مشوره وکړه، جنرالانو یې ورته د جګړې کولو مشوره ورکړه، خو بلقیس ورته په ځواب کې وایي چې کله شاهان د نورو خلکو د ولکې لاندې سیمو ته لاړ شي، دوی هلته فساد کوي او د عزت خلک ذلیله کوي.

په جګړو کې معنویات له منځه ځي او ټولنیز جوړښتونه زیانمنېږي او په قران کریم کې چې د بلقیس او سلمانع قیصه کې هم دغه خبري ته په ډېر دقت او صراحت اشاره شویده. خو د ولسي مبارزو له لارې رامنځته شوي خوځښتونه ، ټولنیز ارزښتونه لاپسې پیاوړي کوي او معنویاتو ته په کې ضرر نه رسېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دویم څپرکې

## د ولسي مبارزې د ترسره کولو لارې چارې:

څېړنو ښودلې چې هغه شرایط په کوم کې چې یوه ولسي مبارزه ترسره کېږي د ولسي مبارزی په پایلو کې ټاکونکې رول نه لري. د ولسی مبارزی په رامنځته کېدو او بریالي کېدو باندی ټولنیز حالت، سیاسي او اقتصادي حالت شاید یو څه تاثیر ولري، خو دغه تاثیر دومره ستر نه دی چې یوازې همدوی د مبارزې سرنوشت ټاکوونکي وګڼل شي بلکې یو لړ فکتورونه د مبارزې د پایلې په ټاکلو کې پرېکنده رول لوبوي.

د بریالیو ولسي مبارزو تر څنګ په تاریخي لحاظ او موجود وخت کې یو لړ ولسي مبارزې داسې هم دي، چې ناکامه شوي دي. هغه ولسي مبارزې چې ناکامه شوي، د ناکامی ستر لامل یې دادی چې مبارزین پر ته له دې چې پر اصلي ستونزه پوه شي، چاپېریال مطالعه کړي او د د مبارزې لپاره موخې وټاکي اقدام کوي. د مبارزې بریا تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېره بریده ستراتیژیک تاوتریخوالی نه کولو ته په ژمنتیا (نظم) او یوالي باندې ولاړه ده. ولسي مبارزه یوازې له دې امله نه بریالۍ کېږي، چې ولسي مبارزه ده بلکې ولسي مبارزې ځکه بریالۍ کېږي، چې مبارزین پلان لري، ستراتیژیک فکر کوي او ټاکل شوې موخې لري. پر دې سربېره مبارزین باید د چاپېریال د عیني واقعیتونو په پام کې نیولو سره له ابتکاره ډک تاکتیکونه وټاکي.

ولسي مبارزې له دې امله نه بریالۍ کېږي چې دغه مبارزې د مخالف زړه نرموي او بیا مخالف د مبارزینو غوښتنو ته غاړه ږدي. مبارزه ولسي وي او که وسلواله د بریا لپاره یې دیادو فکتورونو بر علاوه په مبارزه کې د مبارزینو شمیر ټاکونکې رول لري. که د مبارزینو شمیر زیات وي مبارزه د بریالیتوب چانس زیات لري او که کم وي د مبارزې د بریالي کېدو چانس کم دی. ددې لامل دادی چې د مبارزینو شمیر زیاتوالی مبارزې ته د تاکتیکي پلوه او د منابعو له پلوه نه یوازې داچې تنوع او کثرت له ځانه سره راوړي بلکې د مبارزې د بقا چانس زیاتوي. له دې پلوه مبارزه هغه وخت د بریالي کېدو چانس لري کله چې د مبارزې مخالف اړخ ته د موجوده حالاتو ساتل ستونزمن شي، د مبارزینو د شمیر زیاتوالی ددې لامل ګرځي چې مخالف موجود حالات ته دوام نشي ورکولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولسي او وسلوالی مبارزی که پدغه مبارزو کې د خلکو د ګډون له پلوه وسنجوو دې پايلې ته رسېږو چې ولسي مبارزو کې د ګډون په وړاندی، فزيکي، مالوماتي او اخلاقي خنډونه د وسلوالې مبارزې کې د ګډون په پرتله ډېر کم دي او همدا لامل دی چې په ولسي مبارزو کې د وسلوالو مبارزو په پرتله د خلکو شمير زيات وي. احصايي ښيي چې د تيرې پيړۍ سترو وسلوالو مبارزو په پرتله په ولسي مبارزو کې د خلکو د ګډون کچه په بې ساري ډول ډېره وه.

دا مشهوره مقوله چې واک اخيستل کېږي، ورکول کېږي نه، که رښتيا وي، نو د دې مانا دا ده؛ چې ولسي مبارزين ځکه بريالي شوي، چې دوی د مخالف په پرتله دومره قوي وو، چې واک يې واخيست.

له بل اړخه داسې فکر کېږي، چې واک د زور او مادي زېرمو له کنټروله سرچينه اخلي. د دې مانا دا ده؛ هر هغه څوک چې د واک د مادي سرچينو کنټرول او ورسره زور هم لري، هغه په ټولنه کې واک هم لري. د ولسي مبارزو بريا ته که ځير شو، نو دغه فرضيه ناسمه ده. که چېرې دغه فرضيه سمه وي، بايد ولسي مبارزې له يوې مخې ناکامه شوې وای، ځکه چې ولسي مبارزين د دولت په پرتله د زور کارولو ته کم لاسرسی او کمې مادي سرچينې لري.له پورتني موارد و بر علاوه د ولسي مبارزې د بريا لپاره د څلورو نورو عناصرو :

(c) ketabton.com: The Digital Library



مبارزې لپاره د ستراتيژي موجوديت ، د مبارزينو تر منځ يووالی ، مبارزه له تاوتريخوالی ساتل او د مشر تابه موجوديت اړين دی. ددغو څلورو عناصرو نه موجوديت د ولسي مبارزې د ناکامۍ لامل ګرځي. له دې پر ته ځينې پوهانو د مبارزينو له خوا مخالف اړخ په وړاندې د مبارزې په وړاندې د غږ پورته کول په خپله ويره بر لاسی هم د ولسي مبارزې لپاره يو اړين شر ط ګڼلی دی. د ولسي مبارزې د بريا لپاره د لومړني اړين توکې په توګه، په دې بحث کې موږ له ستراتيژي پيل کوو .

## ۱–ستراتيژي:

هره مبارزه بايد موخې ولري. دا چې څرنګه موږ له موجوده حالت راووځو او موخې لاسته راوړو ددغه کار لپاره پلان او فکر ته ستراتيژي ويل کيږي. کله، چې يوه ستونزه موجوده وي، ددغه ستونزې متبادل حالت (حل) يا هغه څه، چې موږ يې غواړو زموږ وسايئل ، زموږ مخالفين او ملګري او د مبارزې په لاره اچولو لارې چارې هغه څه دي، چې ستراتيژي يې موږ ته رونبانه کوي. که موږ له يوي ستونزې سره مخ شو ددغه حالت سره د چلند په موخه لومړی بايد فکر وشي، چې له هغه څخه دفاع او که ورسره مخالفت وشي. بل دا چې مبارزين څه ډول مبارزه وکړي. پخپله ميدان ته راودانګي او که

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ټولنې نور افراد، اشخاص او ګروپونه مبارزې کولو ته را وهڅوي. که مبارزین پخپله مبارزې کولو ته را ودانګې دغه حالت ته مخامخ مبارزه وئیل کیږي او که نور خلک مبارزې کولو ته وهڅوي بیا دغه ډول مبارزې ته غیره مستقیمه مبارزه وئیل کیږي. ستراتیژي دغه ډول خبرې، چې له حالت څخه دفاع وشي او که ورسره مخالفت یې وشي، مبارزین پخپله مخامخ مبارزه وکړي او که د غیر مستقیمې مبارزې په مټ نور خلک مبارزې ته راګډ کړي او دغه ډول نور موضوعات در بر نیسي تر څو مبارزینو ته دوړاندې تللو لپاره روښانه لاروټاکي.

ستراتیژي څه شی دی او کوم اجزا لري؟ د ستراتیژۍ تعریفول یو ستونزمن کار دی. خو موږ کولای شو د ستراتیژۍ د عناصرو نومونه واخلو. تنظیمول، پیغام لیږدول، لرلید، شته مهارتونه او نور د ولسي مبارزې لپاره د ستراتیژي عناصر دي. ستراتیژي یو عنصر یا یوه وسیله نه، بلکې دیادو عناصرو او ورسره دیو لړ نورو عناصرو ټولګه او د دوی تر منځ اړیکه ده.

اغیزمنه ستراتیژي هغه ده؛ چې یوازې د کاغذ پر مخ نه وي بلکې پلي هم شي. که چیرې ستراتیژي د کوم بدلون لامل ونه ګرځي، مانا یې دا ده، چې دغه سند بیا یوازې پراخ نظریات دي او اقدام په کې نه شته چې دې ته بیا ستراتیژي نه ویل کیږي. له دې امله موږ ویلی شو، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستراتيژي فکر کولو، پلان جوړولو او د اقدام کولو ټولګې ته ويل کېږي.

يوازې د تاوير تخوالى نه شتون په هيڅ ډول ديوې مبارزې بريا نه تضمينوي. يوازې مظاهرې او اعتصابونه د ټولنې ژورې ستونزې نه شي اوارولاى او نه هم جګړو ته د پاى ټکې ايښودلاى شي. له دې امله د ولسي مبارزې د بريا لپاره ستراتيژي يو اړين توکې دى. د ولسي مبارزې ستراتيژي موږ ته وخت راکوي، چې فکر وکړو چې هغه څه چې موږ ورته اړتيا لرو څه ډول ترلاسه کړو. د ستراتيژۍ پر مټ موږ خپل وسايل په ځواک بدلوو څو د دغه ځواک پر مټ خپل اهداف لاس ته راوړو. ستراتيژي د اقدام کولو وخت او د هغو تاکتيکونو په کار اچولو تر منځ مفکوروي تړاو دى، د کوم پر مټ چې موږ خلک محرک کوو.

ستراتيژۍ موږ ته ښيي چې د موخو د لاس ته راوړلو لپاره کومې کړنې په څه ډول ترسره شي. کله چې وسايل محدود وي او غېريقيني فضا حاکمه وي، نو ستراتيژي د اړين حرکت ډول او وخت وړاندوينه کوي. ياد ټاکل شوې موخې لاسته راوړلو په خاطر مبارزينو ته لارښوونه کوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولسي مبارزې هم د وسله والو مبارزو په څېر ستراتيژي، چمتووالي او پلان ته اړتيا لري. جين شارپ وايي چې ولسي مبارزه هغه مهال د بريالېبه چانس لري، کله چې ولسي مبارزين هغه کړنې چې مبارزه ناکاموي او هغه کړنې چې مبارزه بريالۍ کوي، وپېژني.

ستراتيژي هغه لارې چارې چې د استبداد په ګونډو کولو لپاره ګټورې وي، په ګوته کوي، د اقدام کولو لپاره مناسب وخت او حالات روښانه کوي، وسايل هم په نښه کوي او د مبارزې د دوام لارې چارې هم په ډاګه کوي.

د ولسي مبارزې لپاره د ستراتيژۍ په رامنځته کولو کې بېلابېلو پوهانو مختلف پړاوونه په نظر کې نيولي دي. موږ د ولسي مبارزې لپاره د ستراتيژۍ په رامنځته کولو کې لاندې پړاوونه په پام کې نيولي.

## ۱,۱,۱ ستونزه :

ستونزه بايد وڅېړل شي په دې پړاو کې موږ ستونزه تعريفوو، هغه حالات ارزوو، چې ستونزه په کې موجوده ده. دا مرحله بايد له خلکو سره په ګډه ترسره شي، ځکه بېلابېل خلک د ستونزې د موجوديت لپاره مختلف لاملونه په ګوته کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې مرحله کې یوه مهمه خبره دا ده؛ چې دستونزې په پسمنظر یا شالید پوه شو او تاریخي پسمنظر یې پیدا کړو. ستونزه هغو حالاتو ته ویل کېږي د کوم د حل کولو او یا د متبادل لپاره چې مبارزه تر سره کېږي.

د ستونزې چاپېریال باید و ارزول شي، په دې مرحله کې د ستونزې د موجودیت لاملونه راسپړل کېږي، د چاپېریال د مطالعې په ترڅ کې د مبارزې اړوند اړخونه لکه احتمالي ملاتړي(فعال ملاتړي او غیر فعال ملاتړي) مخالفین ( فعال مخالفین او غیر فعال مخالفین ) او بې پرې اړخونه معرفي کېږي. د غه اړخونه افراد او اشخاص، ګروپونه، ادارې او نورې خواوې ښیي. د مبارزې ملاتړي، غیر فعال ملاتړي، بې پرې اړخونه او غیر فعال مخالفین، افراد او اشخاص، ګروپونه او ادارې دي، چې د بدلون پر وړاندې کوم روښانه دریځ نه لري او مخالفین هغه اړخونه دي کوم، چې د بدلون سره مخالف وي او بدلون نه مني. دغه ټول اړخونه په لاندې ډول ترسیم شوي، ددغه ترسیمولو موخه دا ده، چې اړوندو اړخونه وپیژندل شي او د هغوئ سره د چلند کولو لپاره ځانګړي پروګرامونه رامنځته شي.


ولسي مبارزین تل هڅه کوي، چې د هغه چا سره کار وکړي، چې د بدلون سره مخالف او یا بې پرې دي، تر څو دوي له مبارزې ملاتړ وکړي. که فعال مخالفین او غیر فعال مخالفین له مبارزې ملاتړ ونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي، او يوازې او يوازې بې پرې دريځ غوره کړي دغه هم د مبارزينو لپاره ستره بريا ده. بلـه خبره دا ده، چـې امکـان لـري ټول مخـالفين د بدلون په اړه بې پرې دريځ غوره کړي او يا له مخالفته لاس په سر شي. خو قوي امکان موجود دی، چې يو شمير مخالفين به يا بې پرې دريځ خپلو ي او يا به هم له مخالفته لاس په سر او د بدلون ملاتړ به کوي. دغه حالت هم د مبارزې او مبارزينو لپاره ستره لاسته راوړنه ده.

د متحدينو وېشدړه تر سيمول د مبارزينو سره مرسته کوي تر څو د بدلون په تړاو د ټولنې بيلا بيل دريځ لرونکي اړخونه ډلبندي کړي. دغه کار د مبارزينو سره مرسته کوي، تر څو د هر يو ګروپ لپاره ځانګړي اقدامات او تاکتيکونه په ګوته او تر سره کړي. مبارزين هڅه کوي، چې د وېشدړه له چپ اړخه بيلابيل اړخونه د وېشدړه ښي اړخ ته انتقال کړي، په هره اندازه، چې دغه انتقال ستر وي په هماغه اندازه مبارزين بريالي وي. دغه وسيله د مبارزې لپاره د ستراتيژي په جوړولو کې کارول کېږي او ډېره مؤثره ده.



(c) ketabton.com: The Digital Library



د مبارزينو سره په دې خاطر کار کېږي او هڅول کېږي، چې غير فعال ملاتړي په فعال ملاتړي، بې پرې اړخونه په غير فعال او فعال ملاتړو او فعال او غير فعال مخالفين په بې پرې، غير فعال ملاتړو او يا فعال ملاتړو تبيدل شي.

د ستونزې د تعريفولو په مرحله کې د ستونزې اړوند مخالف او يا موافق اړخونه مالوموو. پر دې سربېره د ستونزې په اړه کلتوري برداشتونه، چال چلند او د ټولنې اقتصادي حالت هم ارزول کېږي. همدا ډول SWOT ارزول چې په کې د مبارزې قوت، کمزورۍ، مواقع او ګواښونه څېړل کېږي هم بايد وړاندې له وړاندې وڅېړل شي.




پورتنۍ څېړنه مبارزې ته پر مختګ لپاره لاره روښانه کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ستراتیژۍ کې باید د مبارزې مخالفین او ملاتړي په روښانه ډول په نښه شوي وي. ستراتیژي موږ ته یوازې دا نه راښیي چې موږ چېرته ځو، بلکې دا هم راښیي چې موږ موخې ته څه ډول مزل کوو.

مبارزې دیوه شخص یا دیو څو اشخاصو دفکر زېږنده وي، خود داسې بریالۍ مبارزې، چې یوازې یوه شخص تر سره کړې وي؛ پیدا کول یې ستونزمن دي. له دې امله ولسونه د مبارزو د بریا لپاره ډېر اړین دي. د مبارزې په ستراتیژۍ کې باید د نویو خلکو د راګډولو لپاره لارې چارې په ګوته شي.

## ۲,۱,۱ د راتلونکې لپاره لرلید:

په ستراتیژۍ کې باید د مبارزې لرلید مالوم وي، یوه مبارزه هغه وخت پیلېږي، کله چې ولس او یا هغه څوک چې مبارزه کوي له موجوده حالاتو څخه ډاډه نه وي. دغه حالت دوی مجبوروي، چې دیوه بل متبادل په لټه کې شي. دغه متبادل هغه نوی حالت دی، چې ولس یا مبارزین یې غواړي او دغه نوي حالت ته د مبارزینو لرلید ویل کېږي.

لرلید د راتلونکې انځور وړاندې کوي، چې په هغه کې د ټولنې نوی حالت لیدل کېږي، دغه نوی حالت د مبارزې موخه ګرځي او مبارزه دې موخې ته یون دی. لرلید د هرې مبارزې لپاره لومړنی ګام دی،

(c) ketabton.com: The Digital Library



لرليد د دې لامل ګرځي چې مبارزين په خپله شاوخوا کې نور خلک راټول کړي. هره مبارزه چې لرليد ونه لري، هغه پر ته له دې چې کومه پايله ولري، پای ته رسېږي او ځينې وخت په ټولنه کې داسې ستونزې رامنځته کوي، چې د اوږدمهال لپاره ټولنه د ستونزو او کشالو کندې ته ور ټېل وهي.

د مبارزې د لرليد لپاره اړينه ده چې مبارزين لنډمهاله، منځمهاله او اوږدمهاله موخې ولري. ډېر وختونه لنډمهاله او منځمهاله موخې د اوږدمهاله موخو د لاسته راوړلو لامل ګرځي.

ولسي مبارزين بايد د لرليد په ټاکلو کې لاندې ټکي په پام کې ونيسي:

- لرليد بايد د خيالاتو پر ځای پر داسې حقايقو ولاړ وي چې ولسي مبارزين وکولای شي هغه لاسته راوړي.
- لرليد بايد روښانه وي، مخالفين، موافقين، لوستي او نالوستي، نر او ښځې ټول بايد د مبارزې په لرليد پوه شي.
- لرليد بايد جامع او هر اړخيز وي، يوازې ديو څو نفرو دلچسپي او ګټې په کې خوندي نه وي، بلکې اکثريت خپل ځان په لرليد کې په روښانه ډول وګوري او داسې فکر وکړي، چې لرليد دوی ټاکلی. څومره چې لرليد جامع وي، په هماغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



اندازه زيات ملاتړي لري او څومره چې لرليد زيات ملاتړي ولري، په هماغه اندازه مبارزه زيات ملاتړي لري.

- دلرليد په تر لاسه کولو او يا ورته رسېدلو سره بايد د ولس په ژوندکې مثبت بدلون وليدل شي.
- هغه اشخاص چې لرليد ټاکې، نورو خلکو ته غوږ ږدي او د هغوی اندېښنې او ستونزې اوري، دهغوی ستونزې،اندېښنې او غوښتنې په لرليدکې منعکسېږي.
- خلکو ته غوږ نيول ډېر اړين دي، په خلکو خپل نظريات تپل د ستونزو لامل ګرځي.
- که ستونزه راولاړېږي، نو د بېلابېلو نظرياتو لرونکو خلکو د استازو تر منځ بايد خبرې پرې وشي او د هغې لپاره يوه حل لار راپيدا کړای شي.

## ۳,۱,۱ موخې:

د ولسي مبارزې په پلان کې موخې هم مخکې تر مخکې بايد په ګوته شي. خو دغه موخې هم بايد حقيقي وي. د ولسي مبارزې موخې بايد مشخصې وي، بايد د اندازه کېدو وړ او اړونده وي ( د خلکو له ژوند سره تړاو ولري) او پر وخت وي. پر وخت مانا دا ده؛ چې د موخې د لاسته راوړلو وخت بايد ټاکلی وي، چې په څومره

(c) ketabton.com: The Digital Library




وخت کې باید موخې تر لاسه شي. د وخت زاویه داسې هم تفسیرولای شو، چې دغه ستونزه د وخت د غوښتنې سره سم ده او که نه.

(لرلید، موخې (Goals ) او لنډمهالې موخې (Objectioves) تر منځ توپیر ځینې وختونه د ځینو خلکو لپاره ستونزمن وي. په ولسي مبارزه کې چې کله موږ د لرلید په اړه بحث کوو، زموږ موخه هغه نوې چاپېریال رامنځته کول وي په کوم کې، چې موږ او سیدل غواړو. د وخت له لحاظه لرلید هغه حالت ته ویل کېږي کوم ته، چې شاید رسیدل لسیزې په بر کې ونیسي. موخه هغه څه ته ویل کېږي کوم، چې موږ د یوې ځانګړې مبارزې څخه تر لاسه کول غواړو. د موخې د تر لاسه کولو وخت معلوم وي او د لرلید په پرتله موخه ژر تر سره کېږي. موخې ته د رسیدو په لاره کې موږ لنډمهاله موخې ټاکو، دغه لنډمهاله موخې (Objectives) موږ موخو ته رسوي. یا په بل عبارت: موخه (Goals) په یو لړ لنډمهاله موخه ویشل کېږي، چې هغې ته Objectives ویل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library






موخې باید مشخصې، د اندازه کېدو وړ، د وخت سره سمې او د خلکو د ژوند او د چاپېریال سره اړونده او د لاسته راوړل کېدو وړ وي. عمومي، خیالي او خلکو د ژوند او چاپېریال سره نا برابرې موخې په هیڅ ډول د لاسته راوړلو چانس نه لري.



(c) ketabton.com: The Digital Library



### ۴,۱,۱ ګډ پوهاوی:

ولسي مبارزين نظاميان نه دي، چې مشر تابه ورته څه وايي، دوی هماغه کوي. ټول مبارزين بايد همنظره وي، ګډې موخې ولري او د موخو د لاسته راوړلو په لارو چارو باندې پوه وي.

دوی د ستونزو په اړه او همدارنګه د ستونزو د حل لپاره ګډ نظر ولري. د مبارزې مشر تابه بايد داسې لارې چارې و لټوي، چې مبارزينو ته د مبارزې په اړه وخت پر وخت پوهاوی ورکړي، څو د مبارزې په اړه د ټولو مبارزينو تر منځ ګډ پوهاوی رامنځته شي. ستراتيژي بايد د اړونده خواوو تر منځ د ګډ پوهاوي لپاره کړنې په ګوته کړي.

### ۵,۱,۱ وخت:

وخت ټاکل د ولسي مبارزې د ستراتيژۍ جوړولو لپاره اړين دي. په ستراتيژۍ کې د يو اقدام کولو لپاره بايد وخت مشخص وي. ځينې وختونه د ستونزې څرنګوالی د دې غوښتنه کوي، چې ولسي مبارزين بايد صبر وکړي. خو د صبر کولو مانا دا نه ده؛ چې دوی هيڅ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډول اقدام نه کوي. د ستونزې نوعیت د ستونزې د حل لپاره د اقدام کولو وخت ټاکي. مبارزه که څه هم یوه دوامداره پروسه ده، خو د مبارزې د هر اقدام د ترسره کولو لپاره باید په ستراتیژۍ کې وخت ځانګړی شوی وي.

## ۶,۱,۱ مهارتونه او وسایل:

په ستراتیژۍ کې باید مهارتونه او وسایل په ګوته شي. همدغه مهارتونه او وسایل دي، چې موږ خپل هدف ته رسوي، که وسایل او مهارتونه مالوم نه وي، نو ستراتیژي نیمګړې ده. په دې ډله کې دمبارزې ګډونوال، د هغوی شمېر او د هغوی ټولنیز حالت، دستونزې په اړه پراخه مالومات، د ولس او ستونزې ترمنځ تړاو، د مبارزې لپاره د شته وسایلو او امکاناتو تفصیل، د مبارزې په واک کې د موجودو امکاناتو لکه پیسو افرادو او اشخاصو او نورو سرچینو ودانیو موجودیت او ټولنیزې اړیکو په اړه مالومات شامل دي.

## ۷,۱,۱ تاکتیکونه:

ستراتیژي په مبارزه کې د ګډونوالو مخنیوی کوي او فکري تمرکز او د کړنو تر منځ انسجام رامنځته کوي. موږ ته قدم په قدم ښوونه کوي، چې په کوم وخت کې څه وکړو. ستراتیژي همدارنګه له موږ سره د

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسې تاکتيکونو په غوراوي کې مرسته کوي، چې هغه د حالاتو ځواب ويوونکي او د ټولنيزو او سياسي حالاتو مطابق وي. تاکتيکونه د هغه بدلون مطابق غوره کېږي، چې موږ يې رامنځته کول غواړو.

تاکتيکونه بايد يو له بل سره تړاو ولري، ځکه تاکتيکونه يوازې هغه وخت چې دوی مرتبط وي کولای شي پر مخالفينو فشار راوړي او په مبارزه کې خوځښت رامنځته کړي.

د بېلابېلو تکتيکونو کارول د مخالفينو توازن له منځه وړي، ځکه چې مخالف نه شي کولای د مبارزې د راتلونکي قدم په اړه وړاندوينه وکړي. لازمه دا ده چې هره يوه مبارزه بايد ځانګړي مسلکي اخلاق ولري، چې په هغوی کې د مبارزينو ټولې کړنې منظمې شوي وي.

## ۱,۱,۸ روزنه:

په مبارزه کې وخت پر وخت نوي خلک او ګروپونه شاملېږي. مبارزين اړ دي، چې نويو شاملو شويو خلکو ته روزنه ورکړي او پخواني مبارزين له نويو بدلونونو څخه با خبره او هغوی ته لارښوونه وکړي. له دې امله مبارزينو ته روزنه ورکول د ستراتيژۍ مهمه برخه ده. د ولسي او وسله والې مبارزې تر منځ يو ستر توپير دا دی، چې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



وسله واله مبارزه کې ډېر مالومات له مبارزینو پټ ساتل کېږي. خو بر عکس په ولسي مبارزه کې مبارزینو ته قدم په قدم مالومات ورکول کېږي. د ولسي مبارزې دغه فطرت ایجابوي چې مبارزینو ته وخت پر وخت د مبارزې پر مختګونه شریک شي. چې دوی نه یوازې دا چې د مبارزې له مسیر او لاسته راوړنو بلکې د مبارزې پر وړاندې د خنډونو او ستونزو څخه هم خبر شي.

## ۹,۱,۱ افهام او تفهیم:

افهام او تفهیم د ولسي مبارزې د ستراتیژي یوه مهمه برخه ده. همدا افهام او تفهیم موږ ته ټولو اړخونو ته د مبارزې د پیغام رسولو لاره رابنیي. په ننۍ نړۍ کې چې ټول هېوادونه په یوه بل متکي دي، نړۍ د یوه کلي حیثیت لري د افهام او تفهیم ارزښت نور هم زیات شوی دی، همدغه افهام او تفهیم د دې لامل ګرځېدلي، چې د نړۍ د یو ګوټ او سېدونکي د نړۍ د بل ګوټ له پېښو د دقیقو په حساب خبرېږي او همدا لامل دی، چې مارشل میک لوهن په ۱۹۶۰ مه لسیزه کې نړۍ ته د نړیوال کلي نوم ورکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ولسي مبارزې په ستراتيژي کې افهام او تفهيم له لارې مخاطبينو ته د مبارزې ور پيژندل او د مبارزې لپاره يوه ځانګړې پيژندګلوي رامنځته کول يو مهم عنصر دی.

ددغې موخې د لاسته راوړلو لپاره مبارزين د مبارزې لپاره يو ځانګړې لوګو، شعار، نعره، بيرغ، سمبول او ځينې وختونه له يادو شيانو دوه يو ځو توکي ټاکي. وروسته بيا ياد توکي د مبارزينو لخوا په دومره پراخه کچه کارول کيږي، چې دغه شيان د مبارزې پيژندګلوي ګرځي. ځينې وختونه يو ځانګړی رنګ او يا د رنګونو ټولګه د مبارزې د پيژاندګلوي لپاره کارول کيږي او دغه رنګ په متداوم ډول د مبارزې براند ګرځي.

په مبارزه کې افهام او تفهيم بايد په يو وخت کې په افقي او عمودي دواړه ډوله دوام پيدا کړي. مشرتابه بايد وخت پر وخت له افرادو او ټيټ پوړي غړو څخه د حالاتو په اړه معلومات واخلي او هغوی ته لارښوونې وکړي. همدارنګه د مبارزې غړي هم بايد په خپل منځ کې افهام او تفهيم ترسره کړي، چې د دغو ټولو چارو دسرته رسولو لپاره افهام او تفهيم اړين دی او دغه چارې د مبارزې لپاره اړينې دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



له خپلو غړو سره په دې خاطر افهام او تفهيم کېږي، چې هغوی وهڅول شي، خطرونه ومني، له نوو تګلارو څخه باخبره شي او چمتو وي. بې تفاوته ولس او د مخالف ملاتړي په دې خاطر د هدف لاندې کرځي، چې د دوی ملاتړ ترلاسه شي.

د ولسي مبارزې لپاره اړينه ده، چې د افهام او تفهيم ستراتيژي ولري. د افهام او تفهيم ستراتيژي اړونده خواوو ته په وخت او مؤثر ډول پيغام رسولو لپاره يو چوکاټ رامنځته کوي. د افهام او تفهيم ستراتيژي د مبارزې په افهام او تفهيم کې د ګډوډيو او سکتګيو مخه نيسي. اګر، چې ولسي مبارزې د افهام او تفهيم ستراتيژي کې بايد ډېر و خبر و ته پام وکړي ليکن دلته ز ه د ولسي مبارزې په دريو مهمو عناصرو

۱ مخاطبينو(د موخې لاندې ګروپ) ۲ پيغام ۳ وسيلې تمرکز کوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱،۹،۱،۱.مخاطبین ( د هدف لاندې ګروپونه، افراداو اشخاص)

اړینه ده چې پوه شو چې ولسي مبارزې د هدف لاندی افراد او اشخاص، ګروپونه، سازمانونه او لوري څوک دي او د دوی ټولنیز، اقتصادي او سیاسي حالت څه دی. ځینې وختونه په ټولنه کې داسې ګروپونه او ټولنې موجودې وي، چې هغوی هم له حالاتو خوشاله نه وي او مبارزه کوي، له دوی سره ځکه افهام او تفهیم کېږي، چې له مبارزې سره ملګري شي. همدارنګه له نړیوالې ټولنې سره ځکه افهام او تفهیم کېږي، چې خپل پیغام او د مبارزې موخه ورته ورسول شي.

په پر مختللې نړۍ کې ان تجارتي شرکتونه په بازارا کې د خپلو خدماتو او محصولاتو له عرضه کولو وړاندې د مخاطبیو demographic survey کوي، پدغه سروې کې دوي د خپلو مخاطبینو عمرونه، جنس، امدن، د تعلیم کچه او نورو په اړه معلومات تر لاسه کوي او وروسته ددغه معلوماتو په رڼا کې مخاطبینو لپاره پیغام جوړوي او داسې رسنۍ ورته ټاکي، چې دوی ته پیغام په مؤثره توګه ولیږدوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په افغانستان کې د مبارزينو لپاره شايد ستونزمنه وي، چې خپلو مخاطبينو په اړه کره معلومات لاسته راوړي ولې دوي اړ دي، چې لږ تر لږه د مخاطبينو اقتصادي حالت، ټوليز حالت او رسنيو ته د لاسرسي په اړه عمومي معلومات لاسته راوړي او دا ځکه چې د هر ګروپ مخاطيبنو لپاره پېغام مختلف وي. د بېلګې په توګه که د ځوانانو لپاره يو پيغام جوړېږي بايد دغه پيغام له سپين ږيرو له پيغام څخه متفاوت وي.

له دې بر علاوه بايد مبارزين پوه شي، چې د دوي مخاطبين په کليو او بانډو کې اوسيږي او که په ښارونو کې او د دوي اقتصادي حالت څه ډول دی؟ او د دوي مخاطبين لوستي خلک دي او که نالوستي افراد، دغه معلومات له موږ سره مرسته کوي ترڅو موږ د خپلو مخاطبينو د پوهې کچه وپيژانو او د هغې مطابق ورته پيغام جوړ او رسنۍ غوره کړو.

په مبارزه کې د مبارزينو ملاتړي، بې پرې خلک او مخالفين پيژندل هم اړين دي، دغه معلومات نه يوازې د پيغام د ادبياتو ډول په ټاکلو بلکې د پيغام په رسولو کې هم مرسته کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱,۹,۱,۱ د پیغام جوړول:

د افهام او تفهیم د ستراتیژي په جوړولو کې پیغام جوړول دویم ستر ګام دی. پیغام باید خلکو ته هغه څه ورسوي کوم چې مبارزین غواړي، مبارزین تل د یو حالت پر خلاف مبارزه کوي او هغه حالت غندي ددې لپاره، چې مخاطبین په پیغام پوه شي پیغام باید مخاطبینو ته ووایي، چې د مبارزینو سره د دغه حالت متبادل څه شي دی هغه څه، چې دوي یې غواړي هغه څه شي دی؟.

پیغام باید ډېر روښانه او روان وي د هر ګروپ لپاره پیغام باید د هغه ګروپ ټولنیز حالتو مطابق ولیکل شي. داسې هم ویلی شو، چې د مخاطبینو هر ګروپ ته د پیغام رسولو لپاره ځانګړې رسنۍ غوره کېږي نو ځکه د هرې رسنۍ لپاره باید پیغام رامنځته شي. ټولنیزو رسنیو لپاره پیغام باید د راډیوي او یا هم د علماي کرامو له لارې د پیغام څخه متفاوت وي.

لکه، چې وار د مخه ورته اشاره وشوه مبارزه په ټولنه کې د څو ګروپو خلکو

❖ فعال ملاتړو

(c) ketabton.com: The Digital Library



- احتمالي ملاتړو
- ناپيلي لورو
- مخالفينو
- احتمالي مخالفينو

سره مخامخ کېږي له دې امله يادو ګروپونو ته د مبارزې څخه ملاتړ، مخالفين د ځان سره د رايو ځای کولو او مبارزين له ځان سره د ساتلو برعلاوه، مبارزين اړ دي، چې د بشر حقونو د ملاتړو د نړيوالو ادارو او نړيوالې ټولنې د ملاتړ د راجلبولو په خاطر يادو خواو ته خپل پيغام ورسوي. که مبارزين وخت په وخت اړونده خواو ته د افهام او تفهيم له لارې معلومات ورنکړي نه يوازې دا، چې مبارزين، مخالفين، بې پرې خلک او احتمالي مخالفين له ځان سره نشي ملګري کولای بلکې د نړيوالې ټولنې ملاتړ هم نشي راجلبولی او ورسره ورسره خپل ملاتړي هم له لاسه ورکوي. او بالاخره مبارزه له ماتې سره مخ کېږي.

نړيواله ټولنه او د فشار ګروپونه په ولسواکه ټولنو کې زيات رول لري او کولای شي، چې په حکومت يا دولت فشار راوړي او د مبارزينو د غوښتنو منلو ته يې اړ کړي. د اغېز من افهام او تفهيم لپاره اړينه ده، چې افهام او تفهيم دوامداره وي، دا ځکه چې که افهام او تفهيم پرې کېږي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو د هدف لاندې ګروپونو تر منځ اختلاف را پيدا کېږي او د مبارزې د پاشېدلو لامل ګرځي.

خو که پيغام له هرې لارې او هر ډول مخاطبيونو ته ليږدول کېږي، ادبيات، يې بايد په ډېر احتياط سره غوره شي، د موثر پيغام رسولو لپاره اړينه ده، چې هغه خلک، چې د مبارزې لپاره پيغام جوړوي هغه بايد وخت په وخت رسنۍ تعقيب کړي، ترڅو يوه شي، چې رسنۍ د دوي په اړه څه وايي ترڅو د مبارزې په اړه د رسنيو د افکارو په رڼا کې پيغام جوړ کړي.

مخاطبين تل په هغه موضوعاتو کې دلچسپي لري، چې دوي ته په معنوي او فزيکي لحاظ نږدې وي. له دې امله اړينه ده، چې د مخاطبينو کلتوري حالت په نظر کې ونيول شي او پيغام ليکلو کې داسې ادبيات وکارول شي، چې مبارزه له اړونده کلتور سره تړلې ونښيي. دموخې لاندې ټولنې حالات په پام کې نه نيول داسې حالات رامنځته کوي، کوم چې د پيغام رسولو کې د ناکامۍ لامل ګرځي بلکې د مبارزې لپاره خطرناکې پايلې لري.

پيغام بايد په حقايقو ولاړ وي، چې موخه يې يوازې د پيغام ليږدول نه بلکې د هدف لاندې ګروپ په افکارو او چلند کې تغير راوستل وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که پیغام د هدف لاندې ګروپ، افرادو او اشخاصو په چلند او افکارو کې تغیر رامنځته نکړي پیغام مؤثر ندې.

د پیغام له رسولو وروسته اړینه ده، چې د هدف لاندې ګروپ په غبرګون پوه شو. دغه غبرګون (فیډبک) په حقیقت کې د هدف لاندې ګروپ باندې د پیغام تاثیر دی، چې دغه تاثیر د خلکو د رویې، چلند او افکارو کې د تغیر په بڼه ښکاره کیږي.

نړیوالو ته د مبارزینو د پیغام رسولو په لار کې نړیوالې رسنۍ ډېر رول لري، د پخواني شوروي اتحاد واکمن د نړیوالو رسنیو له دغه رول څخه ښه خبر وه. له همدې امله یې بي بي سي، امریکاغږ او نورو رسنیو ته د خپل واک لاندې سیمو کې د فعالیت اجازه نه ورکوله او که چا دغو نړیوالو راډیوګانو ته غوږ نیوه؛ هغوی زنداني کیدل. که له یوې خوا داخلي او نړیوالې رسنۍ خلک د مبارزې له پیغامه خبروي. له بلې خوا یې د مبارزې ملاتړ ته هم هڅوي، چې دا کار د دې لامل ګرځي چې مبارزې ته نور خلک ورګډ شي.

د امریکا متحده ایالتونو په ۱۹۶۰م کال کې په پخواني چک سلواکیا کې ازادي راډیو جوړه کړه او د باندېنیو رسنیو پر اوربدلو یې له سختو قیودانو سره سره دازادۍ راډیو څپې له فولادي پردې ور تیرې کړې او

(c) ketabton.com: The Digital Library



په خلکو يې تاثير وکړ. هغه سياسي، پوځي او ايډيالوژيکي خنډونه چې له دويمې نړيوالې جګړې وروسته پخوانی شوروي اتحاد له لويديځ او غېر کمونيستي هيوادونو سره د تماس د مخنيوي په موخه رامينځته کړی وو د پولادي پردې په نوم يادېږي. دغه خنډونه د جګړې له پايې ته رسيدو وروسته له منځه ولاړ. له دې امله د ختيځې اروپا په هېوادونو، چې د شوروي اتحاد د وارسا تړون متحدين و، کې يې د نړيوالو راډيو ګانو دخلکو ترمنځ پوهاوی رامنځته کړو. چې دغه پوهاوی د سړې جګړې له پای ته رسېدو مخکې ولسي خوځښتونو د پيل لامل وګرځيد.

## ۲,۹,۱,۱ رسنۍ:

د پيغام له جوړولو وروسته بايد هغه وسائيل ولټوو د کومو په مټ، چې پيغام ليږدول کېږي. د پيغام د رسولو لپاره مناسبه وسيله ټاکل دومره اړين دي لکه څومره، چې پخپله د مؤثر پيغام جوړول اړين دي. د نړۍ په کچه د ولسي مبارزې مطالعه ښيي، چې د عربو له پسرلي تر فيليپين او بيا تر صربيا، په ټوله نړۍ کې په ولسي مبارزو کې رسنيو مهم رول تر سره کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسنۍ نه يوازې د مبارزې پيغام د نړيوالو غوږونو ته رسوي، بلکې ولس ته د مبارزې په اړه پوهاوی هم ورکوي. ځينې وختونه مبارزې له داسې مراحلو تيرېږي چې که انځور شي، نو نړۍ به په خوځښت راولي. رسنۍ دي چې دغه انځورونه نړۍ ته رسوي، که رسنۍ نه وي د دغه ډول انځورونو جوړول شايد خپلې موخې تر لاسه نه کړي. رسنۍ نه يوازې دا چې پېښې تر پوښښ لاندې نيسي، بلکې همدا رسنۍ دي چې ځينې پېښې رامنځته کوي. ددې مانا داده چې که رسنۍ په يوه ځانګړې موضوع ډېر تمرکز وکړي بيا بيا يې وخپرې او ځانګړي اړخونو باندې ډېر فشار واچوي د رسنيو دغه چلند د دې لامل ګرځي چې اړونده موضوع د خلکو د مجلسونو موضوع وګرځي او د اوريدونکو او يا ليدونکو په افکارو کې تغير راولي نو ځکه رسنيو ته د عامه افکارو جوړوونکي هم وايي.

رسنۍ د ولسي مبارزو بريا نه تضمينوي، خو د ولسي مبارزو په بريالي کېدو کې مرسته کولای شي. له دې امله اړينه ده، چې د رسنېو په فطرت او د هغو د کار په ډول پوه شو، تر څو له رسنېو سره داسې چلند وشي چې زموږ په درد وخوري. د دې له پاره چې له رسنيو په درست ډول استفاده وکړو اړينه ده چې موږ رسنېو ته هغه څه ورکړو، چې د دوی په کار وي او رسنۍ اړتيا ورته لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخکې تر دې چې رسنۍ زموږ خبر خلکو ته وړاندې کړي، باید پوه شو چې څنګه خپل خبر رسنیو باندې ومنو. د دې لپاره باید ستراتیژي یا تګلاره جوړه شي. رسنیو ته خبر یوازې ورکول کېږي نه، بلکې پر دوی یې منل هم مهم دي، رسنۍ ددی سره علاقه نلري چې مبارزین په حقه دي او که په نا حقه او نه هم د مبارزې پلوي دي، چې هغه څه در ته خپاره کړي چې ته یې غواړې، رسنۍ هغه څه غواړي چې د دوی لپاره مهم وي. له دې امله د داسې یوې لارې چارې پیدا کولو ته اړتیا ده، چې رسنۍ ستا خبر د خبر په توګه ومني او په خپل وار یې بیا خلکو ته وړاندې کړي. د ژور نالیست لپاره د داسې خبر پیدا کول غوره دي، چې نه یوازې مهم وي بلکې د رسنۍ لیدونکو او یا اورېدونکو ته هم ارزښت ولري. نو ځکه مبارزین باید هڅه وکړي، چې رسنیو ته داسې مالومات ورکړې، چې رسنیو ته ارزښتناک ښکاره شي.

په ساینس او ټکنالوژۍ کې د پر مختګ له امله رسنۍ هم په چټکۍ سره بدلیږي. د رسنیو د ستراتیژۍ تر جوړولو وړاندې باید چاپېریال مطالعه شي. د دې خبرې مانا دا ده، چې د رسنیو حالت، ستاسې اورېدونکي او ستاسې تر هدف لاندې ګروپ باید وڅېړل شي. له هر څه مهمه داده چې د رسنیو لنډ سکېپ باید مطالعه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د رسنیو لنډسکېپ په رسنیو کې اقتصادي، سیاسي او ټولنیز بدلون او له دغه بدلون څخه رامنځته شویو امکاناتو ته ویل کېږي.اګر چې په ټکنالوژي کې چټک پر مختګ له امله اوس تر ډېره بریده ټولنیز و رسنیو د رواجي رسنیو لکه راډیو، ټلویزیون، ورځپاڼې او مجلې ځای نیولی دی.اګر چې دغه راډیوګانې هم ډېر اورېدونکي لري، خو په برېښنا لرونکو ښارونو کې بیا تلویزیونونه ډېر لېدونکي لري، چې د دغو تلویزیونونو شمېر د ځلوېښتو په شاوخوا کې دی. نړیوالې راډیوګانې بي بي سي، ازادۍ او امریکا غږ راډیو هم په کلیوالو او ښاري سیمو کې په ډېر شوق سره اورېدل کېږي، که مبارزین خپل پیغام دغو رسنیو ته ورسوي، نو ډېر په اسانۍ کړای شي، چې ولس له خپلې مبارزې خبر کړي او داخلي او خارجي ملاتړ تر لاسه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ټولنيزې رسنۍ

په ټولنيزو رسنيو کې هم ډېر په تېزۍ سره پرمختګ روان دی.په لومړيو کې خو فېسبوک، ياهو او هاټمېل مسېنجرونه وو، خو اوس ټوېټر، مايي سپېس، فورسکوير او نور رامنځته شوي دي. په نړۍ کې داسې ځايونه شته چې له اړوند هېوادونو سره د واټونو له لارې نه وي تړلي خو له نورې نړۍ سره د انټرنټ په مرسته تړل شوي دي.

که څه هم په افغانستان کې يوازې يو څو فيصده خلک انټرنېټ ته لاس رسی لري خو دغه خلک اکثريت د ټولنې مهم خلک دي. دوی په نړيوالو نادولتي انجوګانو، داخلي انجوګانو، سفارتونو، نړيوالو سازمانونو، نړيوالو او داخلي رسنيو، دولتي او شخصي ادارو کې کار کوي. له دې پرته محصلين، د پوهنتونونو استادان او نور سياسي فعالان هم انټرنېټ ته لاس رسی لري. او همدوی د ټولنيزو رسنيو د مهمو کارونکو له جملې څخه دي.

ځوانان د افغاني ټولنې هغه پوړ دی، چې د ټولنې د نورو پوړونو په پرتله انټرنېټ ته زيات لاس رسی لري. په دې وروستيو کې فېس

(c) ketabton.com: The Digital Library



بوک د افغانانو لخوا د سیاسي او ټولنيزو مباحثو او د افکارو د تبادلې لپاره په زياته کچه کارول کېږي. د ټاکنيزو کمپاينونو لپاره هم ترې کار اخیستل کېږي. فېسبوک د ټولنيزو شبکو د رامنځته کولو او د اعلانونو لپاره هم کارول کېږي. داسې انګېرل کېږي چې د وخت په تېرېدو سره به په افغانستان کې د سیاسي او ټولنيزو موخو لپاره د ټولنيزو رسنیو کارېدنه لا چټکه او رواج شي، خو په اوسني وخت کې هم د افغانانو په ژوند کې د ټولنيزو رسنيو له ارزښت څخه انکار نه شي کېدای.

ټولنيزې رسنۍ عامو خلکو او مبارزينو ته موقع ورکوي، چې د مبارزې پيښې واقعات او کړنې د نورې نړۍ سره شريکې کړي. دغه کارته د ښاريانو راپور ورکونه Citizan Repoting وايي. اګر چې د ژورنالستانو لخوا راپور ورکونه ددغه ډول راپور ورکونې سره توپير لري خو په عمومي ډول ولسي مبارزو کې دغه راپور ورکونه ډېره مؤثره وي، د عربو پسرلی او برما کې د انګ سان سو چې لخوا مبارزه کې ددغه ډول راپور ورکوني ډېره استفاده شوې.

کارپوهان باوري دي؛ چې د عربو پسرلي ډېر لاملونه درلودل، چې يويې ټولنيزې رسنۍ دي. مبارزينو د فېسبوک او ټوېټر له لارې يو شمېر مصريان مبارزې ته راوهڅول او د دغوی ملاتړ يې تر لاسه کړ. د

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه پرېکنده رول له امله چې فیسبوک د مبارک پر خلاف په مبارزه کې ترسره کړو، د عربو پسرلي ته د فیسبوک اوښتون هم وېل کېږي. نور کارپوهان بیا پدې اند دي چې ټولنیزې رسنۍ د پیغام د تاثیر او انعکاس زیاتوونکي دي او یوائې پیغام په لویه کچه خپروي.

همدغه ټولنیزې رسنۍ د دې لامل شوې، چې سیاسي استبداد ته بشري بڼه ورکړي. محمد ابو عزیزي هغه شخص دی، چې په تیونس کې یې د ښاروالۍ د مامور له خوا له رټل کېدو او وهل کېدو وروسته ځان ته اور واچاوه.

د ده کېسه په فېسبوک، ټویټر او یوټیوب کې څو ځله تکراراً خپره شوه او ناراضه خلک یې وهڅول، چې د منځني ختیځ او شمالي افریقا په بېلابېلو هېوادونو کې د خپلو ځانونو د خوندي کولو او ژغورولو لپاره احتجاجونه، مظاهرې او لاریونونه وکړي. تیونسي فعالانو چې ښځې هم په کې شاملې وې، ټولنیزې رسنۍ او ویبلاګونه د رژیم د ربړېزو معاملو د بربنډولو لپاره وکارولې، د بېلګې په توګه په تیونس کې فعالینو د ولسمشر زین العابدین د مېرمنې هغه ویډیو خپره کړه، چې نوموړې دولتي الوتکه د خپلو شخصي موخو لپاره کاروله او اروپا ته د سودا لپاره تلله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دعربو پسرلي کې ټولنيزې رسنۍ د دې لامل شوې، چې د مبارزينو ترمنځ سياسي بحثونه ګرم او ولسواکه نظرونه خپاره کړي او ديو لړ اقداماتو رامنځته کېدو ته لار اواره کړي.

ډېر پوهان وايي چې د رسنيو او ټولنيزو تحريکونو تر منځ يوه قوي اړيکه موجوده ده، ځينې خو دغه اړيکې ته د (ګډژوند) اړيکه وايي. د دې مانا دا ده؛ چې که يو وي بل به هم وي ،او که يو نه وي بل به هم نه وي. د منځنی ختيځ او شمالي افريقا او ځينې اروپايي ټولنو کې د بريااليو ولسي مبارزو بريا له ټولنيزو رسنيو (فيسبوک، ټويټر، يوټيوب، پالک ټاک او نورو) سره تړل شوي وو. په داسې حال کې چې په دغو ولسي مبارزو کې د ځوانانو تر منځ افقي افهام او تفهيم وو، چې په ولسي مبارزه کې د عمودي افهام او تفهيم بر عکس دغه ډول افهام او تفهيم د ځوانانو د متحرک کولو لپاره زيات موثر ثابت شوي، او دغه ډول افهام او تفهيم کې ټولنيزې رسنۍ ډېر ستر رول لوبوي، نو ځکه د منځي ختيځ په ولسي مبارزه کې د ټولنيزو رسنيو غښتلی رول له نظر نه شي غورځول کېدی. دا چې د ولسي مبارزو او ټولنيزو رسنيو اړيکې ته دګډژوند يا Symboitic Relation وويل شي دا به يو څه مبالغه وي. د منځي ختيځ او يا بل هر ځای کې چې ولسي مبارزو تاريخ ته وکتل شي، مبارزه هېڅکله په خپله نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



رامنځته کېږي، بلکې مبارزین او سیاسي فعالان ډېر وخت مبارزه تر سره کوي، چې خلکو ته فکر ورکړي او یو نوی متبادل ورته وړاندې کړي، ټولنیزې رسنۍ نه شي کولای چې په خپله خلکو ته یو متبادل ور وړاندې کړي، بلکې د مبارزینو د اوږد وخت د مبارزې مفکوره په ډېر کم وخت کې ډېرو زیاتو خلکو ته د رسولو وړتیا لري، ټولنیزې رسنۍ د دې وړتیا لري چې د ثانیو په حساب یو پیغام لکونو خلکو ته ورسوي له دې امله ویلی شو، چې په ولسي مبارزه کې د ټولنیزې رسنۍ د پراخوونکو یا زیاتوونکو (Amplifier) رول لري.

که له یوې خوا په افغانستان کې ډله ییزو رسنیو د پخوا په پرتله ډېر پرمختګ کړی او تاثیر یې زیات شوی، خو د رواجي رسنیو له ارزښت څخه هم انکار نه شي کېدای، په افغاني ټولنه کې د دیني عالمانو له رول څخه سترګې نشي پټېدای، دیني عالمان د جمعې ورځو او د اخترونو په خطبو کې، د جنازو پر مهال او د نورو دیني لمانځغونډو پر مهال له لوی شمېر خلکو سره مخ کېږي او د اسلام له نظره بېلابېلي موضوعګانې تشریح کوي. زموږ په ټولنه کې د دیني عالمانو رول خورا زیات دی او که دیني عالم له یوې موضوع ملاتړ وکړي، نو د دې قوي امکان موجود دی، چې ولس له هغې موضوع څخه پراخه ملاتړ وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



قومي مشران او مخور هم په پیغام رسولو کې اغېزناک رول لوبوي، دوی له لوی شمېر خلکو سره مستقیماً په تماس کې وي او کولای شي، چې د دوی ترمنځ د افهام او تفهیم دیوې اغېزمنې وسیلې رول ترسره کړي.

چاپي مواد لکه بروشورونه بینرونه، پوسترونه، ورځپاڼې، مجلې، فکت شیټونه او نور هم د پیغام رسولو لپاره مؤثرې وسیلې دي ډېر وختونه ولسي مبارزې خلکو ته د پیغام رسولو او د اړونده مسائلو په اړه د خپل دریځ د ښکاره کولو لپاره له ورځپاڼو او یا اونیزو استفاده کوي، په دیوالونو لیکل په دیوالونو ګرافیتي (رسمونه) چې ځانګړې ماناوې لري هم د پیغام رسولو مؤثرې وسیلې دي. په دیوالونو لیکل او ګرافیتي جوړول د ډېرو مبارزینو لپاره دپیغام رسولو ښې وسیلې دي.

## ۱۰,۱,۱ بیاپخلاینه:

دوسله والې مبارزې برعکس، په ولسي مبارزه کې دواړه، مبارزین او هم د دوی مخالفین، د ګټې په کور کې دي. په ولسي مبارزه کې د مخالفینو پر خلاف مبارزه نه کېږي، بلکې د دوی د کړنو پر خلاف مبارزه کېږي. له دې امله اړینه ده، چې د مبارزې له پای ته رسېدو وروسته له مخالف اړخ سره بیا پخلاینه وشي او په ټولنه کې ګډ ژوند

(c) ketabton.com: The Digital Library



پېل شي. بيا پخلاينه ټولنيز جوړښت قوي کوي او د ټولنې بېوزله پوړ ته واک ورکوي.

و سلواله مبارزه يوه اړخيزه پروسه ده.ولې ولسي مبارزه ډيالوګ، دوه اړخيزه ده. په دغه مبارزه کې مخالف ډيالوګ ته رابلل کېږي، لکه څنګه چې ګاندي ويلي "نه همکاري او غاړه نه ايښودل د سيستم پر خلاف رامنځ ته کېږي. د انسانانو پر خلاف نه" په همدغه ډول د ولسي مبارزې موخه نه يوائځې دا چې په ټولنه کې تاوتريخوالی له منځه وړل دي بلکې د مخالف په رويه کې بدلون راوستل او په ټولنه کې په اساسي توګه د لانجې ريښې وچول دي. ترڅو لانجه بيا په ټولنه کې سر راپورته نه کړي. دغه ډول مبارزه د اشخاصو پر خلاف نه بلکې د اشخاصو په ملتيا ترسره کېږی، ولسي مبارزه په حقيقت کې له ظالمانه سيستم ښکاره سرغړاوی او په مؤثره توګه ډيالوک ته د مخالف اړخ رابللو ته ويل کېږی. همدا لامل دی، چې ولسي مبارزين هغه چا ته چې ولسي مبارزين ورسره مخامخ دي ته دښمن نه بلکې مخالف ويل کېږي. او د مبارزې د پای ته رسيدو وروسته ټولې خواوې خپل عادي ژوند ته دوام ورکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۲,۱ یووالی (اتحاد):

لـه سـترا ټيژۍ جوړولـو بـر علاوه بايـد د مبـارزينو تـر مـنځ د يـووالي رامنځتـه كولـو لپـاره هڅـې وشـي.اكثره وختونـه د مبـارزې ګډون وال بېلابېل سياسي، ټولنيز او اقتصادي پسمنظرونه لري، د دوی تـر منځ د ولسي مبارزې په اړه بايد واحد فكر موجود وي. ديوې مبارزې لپاره د ډېـر شـمېر خلكـو متحـرک كـول اړيـن وي، چـې بيـا وروسـته د دوی تر منځ يووالی مهم او لازمي فكتور دی.

د عـامو مبـارزينو بر علاوه بايد د مبـارزينو د بېلا بېلـو كچـو تـر منځ يو والی رامنځته شي. ولسـي مبـارزه لـه درېيو كچـو مشـر تابه، اوپر اتيفي شبكې او عام ولس څخه رامنځته كېږي. د بريالی ولسي مبارزې لپاره اړينه ده، چې د دغه درې واړو كچو تر منځ يـووالی موجـود وي. د دغـه دريو واړو پوړونو تر منځ د يووالي د نه موجوديت له امله په مبـارزه كـې ګـډوډي او بـې نظمـي رامنځتـه كېـږي. پـه ولسـي مبـارزه كـې يـو ډول ګډوډي مخالفينو ته موقع وركوي، چې د مبـارزينو تـر منځ اختلافـات راپيـدا كـړي. د مبـارزينو تـر منځ يـو والـی د مبـارزې بريـالي كېـدو كـې مرسته كـوي او همدا لامل دی چې بايد د مبـارزينو تـر منځ يـو والـی د مبارزې د بريا لپاره يو اساسي فكتور ګڼل كېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لدې بر علاوه مبارزينو او اړونده اړخونو تر منځ د موخې يو والی هم اړين دی، په تحريک کې د موخې په اړه بايد يو والی موجود وي او د مبارزې موخې بايد د عام ولس ليوالتياوې منعکس کړي. د موخې په اړه دوه خبرې مهمې دي: لومړی دا چې موخه بايد د زياترو خلکو د دلچسپۍ عکاسي وکړي يا په بل عبارت، د نورو خلکو مقصد وګرځي. دويم دا چې موخه بايد رياليستيکه او حقيقي وي. مبارزه بايد يو محدود د شمېر مقاصد ولري، د ډېرو مقاصدو موجوديت د مبارزې د ناکامۍ لامل ګرځي. ستراتيژي د دې لامل ګرځي، چې په مبارزه کې نور خلک شامل شي د مخالف له لېکو د خلکو تېښته د دې لامل ګرځي، چې خلک لا زيات محرک او مبارزه قوي شي. ستراتيژي د مخالف په کړنو کې د توقف لامل ګرځي او مخالف کمزوری کوي.

## ۳,۱ رهبري:

چرته يې درومم په کوم لوري به يې موم

ورکه موندی نشي بې رهبره بې چراغه

له ستراتيژي جوړونې او يو والي رامنځته کولو وروسته د ولسي مبارزې د مشر تابه په اړه بايد فکر وشي. په انساني ټولنه کې زياتره

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت ستونزې او مشکلات موجود وي، که څه هم زیاتره خلک د دغو ستونزو له امله ځوریږي او له دې امله د ټولني د ټولو وګړو ورځنی ژوند په یو نه یو ډول په منفي توګه اغېز منېږي، خو زیاتره خلک د مختلفو لاملونو له کبله د حالاتو د بدلون لپاره په اقدام لاس نه پورې کوي.

ډېر وختونه یو شمېر خلک له ستونزو څخه د راوتلو او د حالاتو د بدلون په اړه فکر کوي، مګر یوازې یو یا څو محدود اشخاص ابتکار په لاس کې اخلي او په عملي اقدام لاس پورې کوي. دغه اشخاص خپل نظر له نورو سره شریکوي، نور افراد خپلو لیکو ته جذبوي او په دې ډول تحریک پراخېږي. تحریک اداره غواړي او که سم اداره نه شي، ناورین رامنځته کوي. نو ځکه اړینه ده په مبارزه کې داسې اشخاص موجود وي، چې تحریک په ښه ډول اداره کړي. تحریک ته لرلید وټاکي، نور افراد ورته راجذب کړي، وسایل ورته برابر کړي او تحریک روان وساتي، تر څو چې تحریک بریالی کړي.

مشر تابه د هر حرکت یو مهم عنصر دی، د هر حرکت بریالیتوب د مشر تابه په پوهه او وړتیا ولاړ وي. د حرکت مشر باید یو لړ وړتیاوې ولري او که مشر وړتیا ونه لري مبارزه ناکامېږي. د اسلام له نظره هم مشر تابه ډېر مهم دی، امام شافعي رح فرمایلي: (که زه توان ولرم چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو قوم ته دعا وکړم، نو زه د هغه قوم مشر ته دعا کوم). په ولسي مبارزه کې مشر تابه اړ دی، بشري سرچينې اداره کړي، د مبارزې د مادي وسايلو لپاره پلان جوړ او اداره کړي او همدارنګه مشر تابه د وخت په ښه ډول مديريت کړي.

ګاندي، مارتېر لوتر کينګ، پاچاخان او نيلسن منډيلا هغه مشران دي، چې د ولسي مبارزو له امله مشهور دي. دغه مشرانو نه يوازې دا چې کاريزما درلوده بلکې تر ډېره بريده بريالي هم وو. د ولسي مبارزې لپاره اړينه نده، چې د يادو اشخاصو په څير کاريزما لرونکي مشران ولري، خو د ولسي مبارزې لپاره اړينه ده، چې داسې مشران، چې لرليد، پاکې، موخې او ستراتيژي ولري، ولري.

د پخواني تعريفونو برعکس اوسني مشر تابه د موخو د لاسته راوړلو لپاره پر خلکو تاثير، د هغوی هڅول او دوی ته د وړتيا ورکولو ته ويل کېږي. د مشر تابه لپاره کوم واحد فورمول نشته، د حالاتو او شرايطو په پام کې نيولو سره د مشر تابه ستايل کارول کېږي. مشر تابه بېلابېل ډولونه لري، خو مشر تابه هغه ډول غوره کوي، کوم چې له حالاتو او شرايطو سره برابر وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مشر تابه په ولسي مبارزو کې دافرادو او اشخاصو لپاره د هڅونې نقطه وي. مشر تابه خپل نور ملګري مبارزه کولو ته هڅوي او دوی د نورو لپاره د پوهې او عمل یوه نمونه وي. بل دا چې مشر تابه باید د وخت او شرایطو سره سمو ور تیاو او د موجودو وسایلو څخه په استفادې مبارزه بریالیتوب ته سوق کوی

مشر باید لاندې ځانګړ تیاوې ولري:

- دراتلونکي لپاره لرلید ولري: مشر باید پوه وي، چې له مبارزې څخه څه شی لاسته راوړل غواړي .مبارزه فقط د مبارزې په خاطر روانه نه ساتل کېږي. مبارزه د وار دمخه یو تعریف شوی حالت د رامنځته کېدو په خاطر ترسره کېږي. دغه حالاتو ته د مبارزې لرلید ویل کېږي.
- قوي شخصیت ولري: خپلې خبرې ته ودرېږي، ژمن او هڅاند واوسي، مشر باید عام افرادو لپاره د فکر او عمل یوه نمونه وي. تزلزل د مشری قاموس کې ځای نلري.
- پر خپل ځان کنترول: مشر تابه باید له واکه ناوړه ګټنه (استفاده) ونه کړي، په خپل ځان بشپړ کنټرول ولري. مشر باید د نورو خلکو (د عامو مبارزینو او ولس) لپاره د پاکۍ او پرهیزګارۍ یو سمبول وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- مشر تابه په خپله باید یوه نمونه وي: مشر باید د سخت کار، حوصلې، عزت او له نورو سره د مرستې یو سمبول وي، داسې چې خلک یې په اشارو قرباني ورکولو ته تیار وي.
- مشري امتیاز نه بلکې یو درونده مسؤلیت وګڼي. که څه هم یو شمیر پوهان مشرۍ لپاره فطري وړتیا درلودل اړین ګڼي. نور پوهان بیا وایي چې مشري یو کسبي شی دی. کسبي وي او که فطري، مشر باید مشري یو مسؤلیت وګڼي او د دغه درونده بار وړتیا لپاره فزیکي او علمي وړتیاوي ولري. مشر باید هغه خلک چې دی یې استازیتوب کوي وپېژني. خلکو ته غوږ کېږدي، له هغوی سره کېني او ځان د هغوی په څېر یو شخص وګڼي او پر دوی ځان اوچت ونه ګڼي.
- وړتیا ولري: مشر باید د مشر تابه وړتیا ولري او له نورو خلکو څخه د وړتیا په لحاظ متمایز وي.
- مسوولیت ومني: لانجمن چاپېریال کې همېشه حالات د وړاندوینې وړ نه وي او ډېری وختونه مشران سمې پرېکړې نه شي کولای. که چېرته د ناسمې پرېکړې له امله تحریک ناکامېږي، باید مشر مسوولیت ومني، ډېر کم مشران د ناکامۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسؤليت مني، مګر ښه مشر هغه دی، چې د بریا او ناکامۍ دواړو مسوولیت ومني.

- د بریا نورو ته منسوبول: ښه مشران تل د تحریک بریاوې نورو ته منسوبوي، دوی ډېر کم وخت د (ما) او (زه) کلمات کاروي، همېشه موږ کاروي، ښه مشران خپلو افرادو ته حس ورکوي، چې دوی مهم دي او له دوی پرته د مبارزې بریا امکان نه لري.
- د نورو له تجربو زده کړه کول: مشران له خپلو کړنو زده کړه کوي، دویم ځل تېروتنه نه کوي، همدارنګه مشران باید د نورو مشرانو له تجربو هم زده کړه وکړي. مشران بار بار تجربو کولو لپاره وخت نلري دوی اړ دي چې خپل چاپېریال مطالعه کړي، له نورو زده کړه وکړي او کشتۍ ساحل ته ورسوي.
- د واک لېږد: ښه مشران واک له ځانه سره نه ساتي بلکې واک نورو ته لېږدوي، له دغه لارې دوی نه یوازې دا چې خپل کار اسانوي، بلکې نورو ته د مسؤلیت د لېږد له لارې د تحریک د خپل ګډلو حس ورکوي. ښه مشران هڅه نه کوي، چې ټول کارونه په خپله وکړي، بلکې په ګډه له نورو سره کار کوي او د بریا طرف ته قدم اخلي، همدارنګه د واک زیات تمرکز د تحریک د ناکامۍ لامل ګرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مشران د خپل فطرت له مخې په بيلا بيل ډولو سره خپل تحربکونه مخ په وړاندې بيا يي ځينې مشرانو ته مطلق مستبد وي. دا هغه مشران دي، چې نورو خلکو ته فقط امر کوي. دغه ډول مشر تابه د ناورين په وخت کې او هغه وخت چې مبارزې شکست خوړلی وي، ډېر مؤثر وي. په داسې حالاتو کې خلک د مشر طرف ته ګوري او د مشر پرېکنده دريځ ډېر ګټور وي.

يو شمير مشران بيا مشفق مستبد ګڼل کېږي دوی د لاس لاندې افراد هڅوي چې د دوی پرېکړې ومني. ځينې وختونه دغه ډول مشران ټيټ پوړي افرادو ته د پرېکړې کولو موقع ورکوي.

نور مشران بيا مشورې کولو ته اوليت ورکوي او دوی ته پر مشوره ولاړ ديموکراتان ويل کېږي. دغه ډول مشران له پرېکړې کولو وړاندې په پراخه کچه له نورو افرادو سره مشورې کوي، خو وروستی پرېکړه په خپله کوي. دغه مشران په خپلو افرادو باور لري. دغه ډول مشر تابه ددې لامل ګرځي چې په مبارزه د خلکو باور پيدا شي او خلک د پرېکړو کولو لپاره وروزل شي.

ځينې نور مشران په برخه اخيستنه ولاړ ډيموکراتان ګڼل کېږي. دغه مشران له پرېکړو کولو وړاندې له نورو افرادو سره مشوره کوي، خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرېکړه د رايو په اکثريت سره کوي. د دې ډول مشر تابه زيان دادی؛ چې په دغه ډول پرېکړه کولو وخت ډېر لګېږي او په دغه ډول حالاتو کې که د مشر تابه له اړخه چې کومه پرېکړه راځي، ډېر خلک شايد له هغو سرغړونه وکړي.

## ۴,۱ د مبارزينو تاوتريخوالي نه کولو ته ژمنتيا:

له تاوتريخوالي خالي نظم دوه مانا وې لري چې يو يې د بدلون پلي کول او بل يې تعقيبول او له تشدده ځان ساتل دی. له تشدده د ځان ساتلو مانا دا ده، چې برخه وال نه تشدد کاروي او نه د تشدد د کارولو ګوابن کوي. اکثره خلک شايد له ولسي مبارزې سره له دې امله ملګري شي، چې دغه ډول مبارزه له تاوتريخوالي پاکه ده. ډېر کم خلک شايد د بدلون لپاره له وسله والې مبارزې سره ملګري شي، نو ځکه اړينه ده، چې ولسي مبارزين له تشدده ځان وساتي

د مبارزينو له خوا تاوتريخوالی نه کول او د مبارزې اصولو ته ژمنتيا يو بل مهم فکتور دی چې د مبارزې په بريا کې مرسته کولی شي. نو ځکه مبارزين ټولو اړونده خواوو ته بايد درناوی وکړي. دوی بايد هېڅکله فزيکي مقابله او شفاهي تاوتريخوالی ونه کړي. دوی بايد له

(c) ketabton.com: The Digital Library



تـاوتريخوالي او لـه نوروناوړه کړنوځـان وسـاتي. اقـدام بايـد ولسـواکه وي، مبـارزين بايـد هڅـه وکـړي، چـې خپـل متحـدين وسـاتي او نـوي دوستان او ملګري پيدا کړي.

مبارزين تل بايد له تشدده ځانونه وساتي. همدا لامل دی چې ځينې مبارزې مبارزين اړ باسي چې د تاوتريخوالي د نه کولو ژمنه وکـړي. د دې ښــه بېلګــه د خــدايي خــدمتګارو ولســي مبــارزه ده. د خــدايي خـدمتګارو هـر غـړی اړ و، چـې پـه مبـارزه کـې لـه ګـډون وړانـدې بـه تاوتريخوالی نه کوي او ولسي مبارزې تـه بـه ژمـن پـاتې کېـږي. عمومـاً داسې فکـر کېـږي، چـې ولسي مبـارزې اسانې او لـه تـاوتريخوالي ډکـې مبــارزې ســتونزمنې وي، خــو حقيقــت ددې بــر عکس دی. اصــلاً تاوتريخوالي ډکې مبارزې اسانې او ولسي مبارزې ستونزمنې وي.

دغـه ډول مبـارزې روزنـې اوژمنتيـا تـه اړتيـا لـري. هغـه خلـک چـې لـه تاوتريخوالي خالي مبارزو کې ګډون کوي، بايد د دغه ډول مبـارزو پـر موثريت عقيده ولري. که څوک د دغه ډول مبـارزو پـر قـوت بـاور ونـه لري، هغوی ته نه ښايي چې په داسې مبـارزو کـې ګـډون وکـړي .ډېـر وختونه مستبد رژيم د مبارزينو پر خلاف زور کاروي، که مبـارزين لـه تــاوتريخوالي ځــان وســاتي، دوی کــولای شــي لــه دې لارې مســتبد

(c) ketabton.com: The Digital Library



چارواکې د خلکو په نظر کې ناقانونه ښکاره کړي. دغه کار د مبارزې د پیاوړي کېدو لامل ګرځي او د مبارزې مسوولیت زیاتوي.

د تشدد کارونه حکومت ته پلمه ورکوي، چې دوېرې له منځه وړلو او د نظم ساتلو لپاره زور وکاروي. له تشدده خالي مبارزه ددې لامل ګرځي، چې د مخالف ملاتړي راجلب کړای شي، خو کله چې امنیتي ځواکونه د مبارزینو له خوا وګواښل شي، نو دوی بیا زور کاروي. خو که خوځښت د له تشدده خالي مبارزې سابقه ولري او یا دا ثابته کړي، چې د تشدد کارولو اراده نه لري، پولیسو ته بیا د زور کارولو پلمه په لاس نه ورځي. د مبارزینو له خوا د زور کاروونه د حکومت دغه بهانه چې په ټولنه کې ثبات رامنځته کولو لپاره له زوره کار اخلي توجیه کوي. دغه اصول د ستراتیژۍ په جوړولو کې مرسته کوي.

کله چې ولسي مبارزین تاوتریخوالی ته لاس واچوي، مبارزه ناکامېږي. مبارزه د میکروبي کېدو څخه د ساتلو په موخه باید تاوتریخوالی ونشي.

له بلې خوا اکثریت مبارزین له ولسي مبارزینو څخه ځکه ملاتړ کوي، چې مبارزه له تاوتریخوالي خالي وي، کله چې مبارزه په

(c) ketabton.com: The Digital Library



تـاوتريخوالي اوړي دعـامو خلکـو تـرمنځ او همدارنګـه د مبـارزينو ترمنځ ملاتړ لـه لاسه ورکـوي. لـه هـر څـه مهمه داده، چـې د مبـارزې مشرتابه د تشدد نه کولو په نوم خلک له ځانه سره يوځـای کـړي وي، که مبارزه په تاوتريخوالي اوړي، نو دا له مبارزينو سره يوډول جفا ده، فريب او جفا د مبارزو د ناکامۍ لامل ګرځي.

لـه تـاوتريخوالي پاکـه مبـارزه لـه زور زيـاتي سـره پـه هـېڅ ډول اړخ نـه لګوي، نو ځکه کـه په مبارزه کې داسې اشخاص وموندل شي، چې زور زيـاتی کـوي او يـا د زور کـارولو ګـوابښ کـوي، بايـد لـه مبـارزې وويستل شي. بلـه مهمه خبـره داده چې ولسي مبارزه د خارجيانو لـه لاسوهنې څخه بايد وساتل شي. ډېر وختونه له تشدده خـالي مبـارزين هڅه کـوي، چـې لـه مخـالف څخـه باندني ملاتړ راکـم او د ځـان لپـاره باندني ملاتړ راجلب کړي، په داسې حال کې چې ځيني وختونه شايد دغه ډول ملاتړ پرېکنده او نور وختونه لږ اغېز ولري.

مبارزين په هېڅ ډول بايد خارجي وګړو ته په مبارزې او مظاهرو کې د فزيکي حضور اجازه ورنه کړي، همدا ډول شکمنو افرادو تـه بايد پـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مبارزه کې د مشر تابه رول هم ورکول نه دي پکار، په مبارزه کې د باندنيو حضور مخالفينو ته د مبارزې د بدنامولو چانس ورکوي.

هغه اقدامات چې په پلان کې نه وي له هغو بايد ډډه وشي، هغه کړنې چې روښانه موخې نه لري او د تحريک د کمزورۍ باعث ګرځي بايد ترسره نه شي. د مبارزې پر مهال د ګډو وډو کارونو ترسره کول ګډوډي رامنځته کوي او د مبارزې د کمزوري کېدو لامل ګرځي. لدې بر علاوه مبارزه بايد د مبارزې د سر ته رسولو اخلاقي اصول ولري. دغه اصول مبارزې ته تګلورۍ په ګوته کوي.

په مبارزه کې بايد داسې تګلارې موجودې وي، چې هغه خلک چې د مبارزې له اصولو سرغړاوی کوي له مبارزې وباسي. داسې اصول بايد موجود وي، چې هغه خلکو يا ګروپونو ته په مبارزه کې د ګډون اجازه ورنه کړي، چې د مبارزې له اصولو سره موافق نه وي. هغه خلک چې د مبارزې له روح سره مخالفت لري، څومره ژر چې کېدای شي بايد له مبارزې وويستل شي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوسلوالي مبارزې برعکس ولسي مبارزه کې مالومات ډېر پټ نه ساتل کېږي. په ستراتيژيکه ولسي مبارزه کې هر څه بايد روښانه وي، ډېر کم مالومات کېداى شي پټ وساتل شي، په ډېره کچه محرميت د مبارزې د ناکامى لامل ګرځي. که خلکو ته د مبارزې په اړه پوهاوى ورنــه کــړل شــي، نــو خلــک د مبــارزې د موخــو او تمويــل پــه اړه شکمنېږي، چې دا کار مبارزه کمزورې کوي.

ولسي مبارزه کې بايد ټولو اړونده خواوو ته درناوى وشي، د مبارزې جوړښت بايد ولسواکه وي، اکثره خلک بايد په پرېکړو تاثير ولري. يـو شـخص بايـد متمرکـزواک ونـه لـري. خـو د دې مانـا دا نـه ده، چـې مبارزه بايد مشرتابه ونه لري، مشرتابه د مبارزې لپاره اړين دى، خـود پرېکړه کولو پروسه بايد ولسواکه وي. ديکتاتوري مشرتابه د مبارزې د له منځه تللو لامل ګرځي.

بلـه خبـره داده چـې مبـارزه يـوه دومـداره پروسـه ده. د دې د دوام لپـاره مهمه ده، چې مبارزين او مشرتابه په دايمي توګه يو له بل سره په اړيکـه کې وي. مبارزين بايد د مبارزې د راتلونکې تګلارې په اړه معلومـات ولري او همدارنګه له خپل رول څخه هم باخبره واوسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو له دې کبله اړينه ده چې وخت پر وخت مبارزينو ته په مبارزې پورې تړليو بېلابېلو موضوعاتو په اړه پوهاوی ورکړل شی. که چېرې مبارزين ونه روزل شي او په مبارزه کې نظم موجود نه وي، نو مبارزه په اسانۍ سره د مخالفينو له خوا يرغمل کېدای او شايد ناکامه شي.

پوهاند پدې اند دي چې د لېبيا او سوريي مبارزې ځکه بريالۍ نشوي چې دغه مبارزو خپل فطرت له لاسه ورکړو او په وسلوالو مبارزو بدلې شوې. همدا لامل دی چې په يادو هيوادونو کې د عربو پسرلی ناکام او دواړه هيوادونه کورنۍ جګړې ته ورټيل وهي.

۵,۱ وېرې ته په زړه کې ځای نه ورکول:

په تش لاس د دغه مخاطب سره چې د قانون د پلي کولو پلمه د زور کاروونې پوره واک لري سره د مخامخ کېدو پر مهال ويره طبيعي ده او حتمي ده. په ځينې ځايونو کې په مبارزه کې له دې امله چې په راتلونکي کې به نوموړي شخص ته ستونزې پيدا شي ګڼون کول هم له ويرې سره مل وي.

په ولسي مبارزه کې اړينه ده، چې د وېرې موجوديت ومنو خو بايد په دغه ويره بر لاسی پيدا کړو او هغې ته په زړه کې ځای ورنه کړو. له دې امله داسې ترتيبات ونيسئ چې نه يوازې دا چې خپله ويره راکمه


(c) ketabton.com: The Digital Library



کړئ د مخالف ویره هم را کمه کړئ، مخالفین ځینې وختونه د مبارزینو څخه د وېرې له امله مبارزینو سره زور زیاتې کوي. ددې یوه لار دا ده، چې داسې تاکتیکونه وکارول شي، چې له مخالفینو سره مخامخ کېدل او ټکر را کم شي. د مبارزینو تر منځ دهمغږۍ د زیاتولو په موخه اقدامات وشي او بالاخره تاکتیکونه لکه مظاهره یو ناڅاپه تر سره شي او بېر ته ژر خپره شي. تر څو چې مخالفین خبرېږي چې مبارزینو بریا اعلان کړي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





(c) ketabton.com: The Digital Library



# دريیم څپرک

## واک او د واک سرچینې:

### واک:

په یو هېواد یا سیمه کې په عملي سیاست د پوهېدو او څېړنو لپاره اړینه ده، چې په اړونده ټولنه کې د واک په اړه په موجوده مفکورې پوه شو. همدا لامل دی، چې له پېړیو راهیسې پوهان د واک په اړه څېړنې کوي. د ولسي مبارزې په اړه د څېړنو لپاره اړینه ده، چې باور ولرو چې واک په ولس پورې اړه لري، که څوک دغه باور نه لري ولسي مبارزه ورته یو بې ماناشی ښکاري. د واک په اړه پخواني تعریفونه لنډ تنګ او یوازې محدودې ساحې تر پوښښ لاندې نیسي.

د پخوانیو تعریفونو له مخې هغه خلک چې واک لري، محدود او هغه خلک چې د دوی د لاس لاندې وي هغه لا محدود دي. د دغه نظر له

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخې واک زور، مجبورولو او کنټرولولو ته ویل کېږي، خو د واک د اوسني تعریف له مخې واک وړتیا، استعداد او پوتنسیال ته ویل کېږي.

د پخوانیو تعریفونو له مخې هغه خلک چې واکمن نه وي، هغوی ته کمزوري ویل کېږي او د واک په اړه له هر ډول موجودې معادلې څخه ویستل شوي دي. پخوا واکمن بر لاسي او د لاس لاندې خلک کمزوري ګڼل کېدل او یادګړو پونه یو له بل څخه جدا مطالعه کېدل.

دواک په اړه نوي نظریات وایي؛ چې واک یو داسې شی نه دی، چې د یو فرد یا افرادو ملکیت وګڼل شي او یا د دوی ملکیت وي، چې یوازې هغوی یې لري، بلکې واک سره د یوې اړتیا په توګه چلند کېږي، چې وده ورکول کېدای شي او د ټولنې ټول اړخونه په کې شریک وي.

نوې څېړنې ښیي؛ چې واک شخصي نه، بلکې یوه ټولنیزه پدیده ده. واک هغه وخت ښودل کېږي، کله چې د خلکو یوه مجموعه موجوده وي. که واک په یو فرد پسې وتړل شي، دغه بیا واک نه، بلکې زور زیاتي او کنټرول ته ویل کېږي. اصلاً واک همکاري ده، چې ټول موجوده اړخونه په کې دخیل وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډولنه اصلاً د ګډوګډو په پايله کې رامنځته کېږي. دخيل اړخونه په ډولنه کې واک سره شريکوي او هڅه کوي چې دور ځنې ژوند د تېرولو او د ګډو موخو د تر لاسه کولو لپاره په ګډه کار وکړي.

واک يو کثير الوجهي اړيکه ده. په واک باندې د پوهېدلو لپاره د واک د معادلې په ډولو اړخونو پوهېدل اړين دي. يانې د واک په اړه پخواني فکر چې يوازې په واکمنو يې تمرکز کولو او د واک لاندې خلک يې له معادلې څخه لرې کول، په واک باندې پوهېدلو کې مرسته نه شي کولی.

ميکاولي د واک پخوانی تعريف ناسم ګڼي او فکر کوي، چې که واک زور زياتی وي بيا تر ډېره دوام نشي کولای. نوموړی وايي؛ چې زور زياتی شايد خلک غاړه اېښودلو ته مجبور کړي، خو دغه غاړه اېښودنه دوام نه شي کولای په دغه شان حالاتو کې د واکمنو پر خلاف شايد ډېر ژر وسله وال او يا ولسي ټينګار (مقاومت) رامنځته شي. نو په دغه حالت کې ولس خپل واک د مقاومت په توګه ښکاره کوي.

د واک نوی تعريف د واکمنو لپاره له ولس څخه د مشروعيت تر لاسه کولو اړتيا رامنځته کوي او همدا لامل دی، چې په نوي عصر کې تل د حکومتونو لپاره د مشروعيت د تر لاسه کولو موضوع مطرح کېږي. د

(c) ketabton.com: The Digital Library



واکمنو پر خلاف د بغاوت له رامنځته کېدو څخه د مخنیوي لپاره واکمن د لاس لاندې خلکو څخه مشروعیت تر لاسه کوي.

برنیس کارول هغه واک چې عام ولس یې لري، ته د ټوټه کېدو واک وایي. نوموړی دغه ډول واک خورا قوي ګڼي او وایي، چې که څه هم دغه ډول واک لنډمهالی وي، د اوږد مهال لپاره کومه موخه نه لري، خو موجوده ټولنیزو، اقتصادي او سیاسي جوړښتونو کې درزونه رامنځته کوي. کارول وایي؛ چې دغه ډول واک په اوږد مهال کې ان د سترو امپراتوریو د له منځه وړلو توان لري.

د واک دنویو تیوریو د روښانتیا لپاره اړینه ده، چې د واک او زورزیاتي، تاوتریخوالي او د تشدد تر منځ په اړیکه پوه شو. که پخوانۍ تیوري ومنل شي او واک په نورو خلکو د برلاسي په مانا تعبیر شي، دغه وخت واک یوه د سلسله مراتبو اړیکه رامنځته کوي. په دغه ډول واک کې یو نفر پوره وړتیا لري، چې دغه حالات زور زیاتی او یا د زورزیاتي کولو ګواښ رامنځته کوي او واک او زور زیاتی مترادف ګڼل کېږي.

نوې څېړنې واک او تاوتریخوالی له یوه بل سره دوه تړلې نه بلکې متضادې پدیدې ګڼي. واک انساني ځانګړتیا ده او تاوتریخوالی یوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وسيله ده، یانی زور زیاتی یوه وسیله او واک یوه موخه ده. زور ټولنه تخریبوي او واک ټولنه رايوځای کوي. د دې لپاره چې زور له منځه لاړ شي، ولسونو ته بايد واک ورولېږدول شي.

د واک په اړه که د پخوانيو نظرياتو په اړه په لنډه توګه ووايو، واک د معادلې ديو اړخ لپاره ګټه او د بل لپاره زيان ګڼل کېده. د واک په اړه نويو نظرياتو کې د واک په معادله کې اړونده خواوې د ګټې په کور کې وي او هېڅوک په کې مغلوب نه وي.

نوې تيوريانې وايي، چې واک يو ثابت شی نه دی، واک بدلېږي او وخت پر وخت تقويه کېږي. مخالف چې هر څومره استبدادي وي؛ واک يې ثابت نه دی.

په ټولنه کې د واک په اړه موجود بېلابېل فکرونه د واک په دوه متضادو نمونو کې خلاصه کېږي، دغه دواړه نمونې تحريکونه اړباسي، چې د خپلو کړنو لپاره بېلابېلې تګلارې او تر هدف لاندې ګروپونه وټاکي.

د واک لومړنی نمونه وايي؛ چې واک ديو داسې هرم په بڼه دی، چې د هر چا د واک پوړی په کې مالومه وي، د هرم په سر کې واکمن يو نخبه ګان وي، چې واک لري او په پر تليزه توګه بېواکه ولسونه د هرم په قاعده کې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نخبه ګانو او د ولسونو ترمنځ اداري او ځینې د نه لمس کېدو جوړښتونه لکه قوانین،رواجونه، ټولنیز اصول او نور موجود وي، چې نخبه ګان د دغو ادارو او د نه لمس کېدونکو جوړښتونو له لارې ولسونه اداره او خپلې ګټې تضمینوي.


د واک په یاده نمونه کې واک له پاسه لاندې خوا ته راځي او عام ولس هیڅ واک نه لري. نو ځکه تحریکونه د ټولنیز بدلون لپاره اړدي چې د نخبه ګانو توجه راجلب کړي او له هغوی سره کار وکړي. د ټاکنو پروسه، لابي کول او محاکمو ته مخ کرځول هغه لارې چارې دي، چې د واک د دغه ډول نمونې د موجودیت په صورت کې ترې استفاده کېږي . د واک دغه نمونې ته د نخبه ګانو د واک نمونه یا مونولیتک نمونه وایي.

د واک پدغه نمونه کې ټولنه د سلسله مراتبو لرونکي هرم شکل ته ورته جوړښت لري، هغه خلک، چې واک لري هغه د هرم په پاس خوا او هغه خلک، چې واک نلري هغه د هرم په لاندې خوا کې موقعیت لري. عام بهیر سیاسي او ټولنیزې تیوریانې لاهم د واک پدغه نمونه باور لري. د واک دغه نمونې د روح مطابق واک جامد شکل لري، تغیر نه خوري. یوازې هغه شخص یا اشخاص چې د هرم ډوله شکل په سر کې واقع وي، تغیر خوري. دغه واکمن هم د کودتا یا

(c) ketabton.com: The Digital Library



انقلابونو په پایله کې له واکه لرې کېږي. په دغه ډول رژیمونو کې وړو برخو ته تغیر ورکول کېدای شي، خو ټول هرم ته تغیر ورکول امکان نه لري.





له بلې خوا د واک دویمه نمونې ته د خلکو د واک نمونه وایي دغه نمونه واک له خلکو سره تړي. د دغه نمونې له مخې په هغو ټولنو کې چې قوي نخبه ګان لري لکه د امریکا متحده ایالتونه او ان په ځینو دیکتاتوري ټولنو کې هم واک د خلکو پر غاړه ایښودنه او ملاتړ ولاړ دی. د واک دغه نمونه د سر چپه هرم بڼه لري. د دغه هرم قاعده عام ولس او سریې نخبه ګان ښیي. په دغه نمونه کې واک د خلکو له خوا نخبه ګانو ته لیږدول کېږي. د واک په اړه دغه ډول فکر لرونکي کسان په دې اند دي، چې واکمن تر هغه په واک کې پاتې کېږي، څو چې عا

(c) ketabton.com: The Digital Library



م ولس وغواړي او هغه وخت چې عام ولس وغواړي له واکمنو واک بېرته اخلي او واکمن له واکه ایسته کېږي.

دغه نمونه یو ایډیال حالت دی، چې د یوې دایمي سیاسي مفکورې په توګه لا تر اوسه ندی تر لاسه شوی (اګر چې د ټولنیزو فعالیتونو پر مهال اکثره تر لاسه کېږي). ولې د دې سره سره تر ډېره بریده په هغو ټولنو کې، چې قوي نخبه ګان لري، که هغه د امریکا په څیر پر مختللې ولسواکي هم وي او یا پوځي دیکتاتوري حکومتونه. د واکمنو واک د عامو خلکو په غاړه ایښودنې، ملاتړ او همکارۍ باندې متکي وي.




دغه نمونه د ټولنیزو تحریکونو له خوا کارول کېږي. په دغه ډول حالاتو کې ټولنیز تحریکونه یوازې په نورماله لارو چارو لکه د لابي

(c) ketabton.com: The Digital Library



کولو، قوانينو په جوړولو او ټاکنو سربېره په ټيټه کچه ولسونو ته پوهاوی ورکوي او مبارزې ته يي راګډوي. دواک دغې نمونې ته پلورالستيکي نمونه هم ويل کېږي.

دواک د دغې نمونې له مخې سياسي واک له ولس او په ځانګړي توګه له فرد څخه پيلېږي. که يو فرد دواک د جوړښت په اړه خپل فکر ته تغير ورکړي، دغه تغير دواک په جوړښت کې د تغير لامل ګرځي. واکمن يوازې هغه واک لري، چې دولس له خوا ورته ورکول کېږي.

افراد دغه واک په ديموکراتيکو ټولنو کې په خپله خوښه واکمنو ته ورکوي، نور افراد بيا د پېښو پر وړاندې بې تفاوته وي او استبدادي رژيم بيا د خلکو د خوښې پر خلاف پر ولس حکومت کوي او واک ترې اخلي. ولسي مبارزې ځکه مهمې دي، چې په دې مبارزو کې خلکو ته د دوی د وړتيا په اړه پوهاوی ورکول کېږي، چې دوی په ټولنه کې د هر ډول تغير راوستلو وړتيا لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په ټولنو کې د واک سرچينې:

رابرټ دهل وايي، چې واک هغه وړتيا ته ويل کېږي، چې خلکو ته داسي وړتيا ورکوي چې داسې وکړی، چې لدغه مجبوريت پرته به يې نه وي کړي. دعام فکر پر خلاف، چې واک پر واکمنو پورې اړه لري، واک اصلاً د ټولنې په يو لړ فکتورونو او ګروپونو پورې اړه لري. هره ټولنه د واک خپلې سرچينې لري، خو ځينې سرچينې داسې دي، چې په ټولو ټولنو کې واکمنو ته واک لېږدوي.

اکثره وختونه د ولسي مبارزو ستر مقصد د واک لاسته راوړل او نور خلک له واک څخه محروموول وي. د استبداد له منځه وړل او د راتلونکي لرليد لاسته راوړل د واک له موجوديته پرته امکان نه لري. له دې کبله اړينه ده؛ چې په ټولنه کې د واک سرچينې وپېژندل شي، کله چې انسانان له استبداد سره مخ شي نو دوي دوه لارې غوره کوي، غبرګون ښکاره کوي او يا خاموشه پاتې کېږي. که د غبرګون ښکاره کولو پرېکړه وکړي، نو يا وسله والې مبارزې له لارې مبارزه کوي او يا هم ولسي مبارزې له لارې مبارزې ته مخې رابهوهي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زموږ د بحث موضوع له تشدده خالي مبارزه ده، دغه مبارزه لکه څنګه چې فکر کېږي، له ننګونو خالي نه ده، ستونزې او مشکلات لري. د جین شارپ په اند سیاسي واک د وسایلو، نفوذ او فشارونو چې له صلاحیتونو، بندیزونو او معاوضې څخه عبارت دي، ټولګې ته ویل کېږي.

په ټولنه کې واک مختلفې سرچینې لري، چې شپږ یې له نورو مهمې دي:

**مشروعیت:** ولسونه هغه وخت د واکمنو حکم منلو ته تر هغه غاړه ږدي، تر کومه چې دوی ته واکمن مشروع ښکاري. نو ځکه مشروعیت د واک لومړۍ سرچینه ده. مشروعیت یو ذهني حالت دی، چې خلک غاړه ایښودلو ته اړ باسي. واکمن د مشروعیت د تر لاسه کولو لپاره بیلا بیلې لارې چارې لټوي، په ولسواکه نظامونو کې واکمن له ولسه د مشروعیت د تر لاسه کولو لپاره ټاکنې تر سره کوي. په شاهي نظام کې نوی واکمن باید د بادشاه وارث وي، او دغه میراث نوي واکمن ته مشروعیت ورکوي. فلکوریکې کیسې بیا مشروعیت له ځینې نورو ډولونه لکه د نوي پاچا د ټاکلو لپاره د پاچا پر سر دیوې ځانګړې مرغۍ کېناستل او له ورته نورو لارو چارو روایت کوي. هر

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه ځوک، چې مشروعیت تر لاسه کړي هغه په حقیقت کې د واک یوه سرچینه تر لاسه کړې وي.

**بشري منابع:** واکمن هغه وخت حکومت کولی شي، کله چې له دوی سره تړلي نور مسلکي خلک له حکومتي چارې ترسره کړي. واکمن په یوازې ځان د حکومت ټولې ورځنۍ چارې او مسؤلیتونه سر ته نه شي رسولی. بشري منابع هغو اشخاصو ته ویل کیږي، چې په بېلابېلو ادارو کې کار کوي د حکومت مشینري چلوي او د حکومت د تګلارو په پیاده کولو کې مرسته کوي.

واکمن اړ دی، چې د خلکو د ورځنیو اړتیاوو د پوره کولو او د حکومت د ورځنیو چارو تر سره کولو لپاره په بیلا بیلو ډګرونو کې د مسلکي او ارزول شویو افرادو یو لوی شمیر ته لاسرسی ولري. مسلکي افراد د واک یوه قوي سرچینه ده.

**مهارتونه او پوهه:** دا هغه مهارتونه دي، چې واکمن ورته د ورځنیو چارو د سر ته رسولو لپاره اړتیا لري او افرادیې عرضه کوي. هیڅ واکمن ټول مهارتونه نه لري او که افراد او اشخاص واکمن سره مرسته او همکاري ونه کړي، نو د حکومت چارې په ټپه دریږي. آن دیوه معمولي ترافیک کړنې د حکومت دمشینرۍ د څرخ د ګرځیدو لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



اړيني دي او د نوموړي مهارت پياده کېدو ته اړتيا ليدل کېږي. دغه پوهاوی د حکومتدارۍ نه بيا تر امنيت، دفاع، کرنې، ښوونې او روزنې، ډيپلوماسۍ، مالي چارو او نورو ساحو پورې ټول په خپله لمن کې رانغاړي.

**مادي وسايل:** مادي وسايل واکمنو ته د حکومت د ماشينرۍ چلولو وړتيا ورکوي. واکمن جايدادونو، ملکيتونو، طبيعي منابعو، مالي منابعو، د تلو راتلو وسايلو ته لاس رسی لري. له دې پر ته په يوه هېواد کې موجودې طبيعي زېرمې لکه کانونه، اوبه او نور هم د مادي وسايلو بېلګې دي.

د وسايلو په زياتېدو سره واک زياتېږي او په کمېدو سره يې واک کمېږي. په هره اندازه، چې مادي وسايل زيات وي په هماغه اندازه واک غښتلی وي، خو اړينه ده چې له دغو مادي وسايلو څخه په فني ډول ګټه واخيستل شي. د مادي سرچينو شته والی قوي مديريت او فني پوهې ته اړتيا لري. ډېری وختونه دغه مادي وسايل په خپله په ټولنه کې د لانجو او تاو تريخوالي لامل ګرځي. خو په ورته وخت کې مادي وسايل د واک له سترو سرچينو څخه يوه ګڼل کېږي. د مادي وسائلو د نه درلودلو په صورت کې واکمن او هم هيواد بيوزله وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**نه لمس کېدونکي فکتورونه:** عادتونه، رواجونه، رواني، کلتوري، مذهبي او نظرياتي افکار چې خلک واکمن ته په غاړه ايښودنه مجبوروي، هم د واک سرچينې دي. مذهب ډېرى وختونه خلک واکمنو ته په غاړه ايښودنې مجبوروي او که مذهب او کلتور د واکمنو په طرف وي واکمن په اسانۍ سره واک کارولى شي. په ډېرو هيوادونو کې د واکمنو د مشروعيت يوازينۍ سرچېنه مذهب وي او واکمن د مذهب په مټ خپل موجوديت توجيه کوي. دا يو تاريخي حقيقت دى چې ان په لوديځه نړۍ کې پخواني واکمنانو له مذهبي مشروعيت تر لاسه کولو وروسته سياسي مشروعيت تر لاسه کړى. جان لاک همدغه حقايق داسې بيان کړي: (( سياسي مشروعيت له مذهبي مشروعيت څخه سرچينه اخلي)).

**جزا:** خلک له قوانينو څخه د سر غړاوي په صورت کې د جزا له وېرې غاړه ږدي. د جزاګانو وېره په خپله له جزا څخه ډېره قوي ده او دغه وېره خلک غاړه ايښودلو ته مجبوروي. د دولت د نوي تعريف له مخې دولت هغه ارګان ته ويل کېږي، چې په خپله جغرافيه کې د زور کارولو صلاحيت لري، همدغه د زور کارونه او يا د زور د کارونې وېره ده، چې ډېرى وخت ولسونه دولت ته په غاړه ايښودنه مجبوروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ولس ولې حکومت ته غاړه ږدي؟:

دغه پوښتنې ته د ځواب لپاره شايد د خلکو ذهنونو ته ډول ډول جوابونه ودرېږي. د ځينې خلک ذهن ته د ټولنيز تړون د دغه پوښتنې لامل په توګه ودرېږي. ټولنيز تړون د ټولنې د افرادو تر منځ يو نا ويل شوی تړون دی، چې له مخې يې د ټولنې افراد د اخلاقي او سياسي مسووليت له مخې ګډه ټولنه رامنځته کوي. هوبس وايي چې انسانان د خپل فطرت له مخې د خپل ځان د ګټې په لټه کې دي. دوی ځکه يو حاکم يا واکمن ته غاړه ږدي، چې په غاړه ايښودنه کې د دوی ګټې خوندي وي او دوی په ټولنه کې د اوسېدو وړتيا پيدا کوي. ټولنيز قرارداد دوه ټکي روښانه کوي. لومړی دا چې افراد چې د state of Nature په وخت کې کوم واکونه درلوده او ديو او بل پر خلاف يې کارول هغه له لاسه ورکوي. دويم دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



چــې دوی دغــه واک یــو شــخص یــا د افــرادو یــوې ډلــې تــه ورکوي.

روسو ټولنیز قرارداد د حکومت رامنځته کېدو سره تړي. نوموړی وايي وروسته چې انساني نفوس زیات شو د انساني اړتیاو پوره کولو لپاره وسایلو هم تغییر وموند. دا هغه مهال و چې خلکو په وړو کتلو او فامیلونو کې ژوند کول پیل کړل. دغه وخت د شخصي شتمنۍ درلودلو اړتیا پیدا شوه او همدغه د شخصـي شـتمنیو د خونـدیتوب د تضـمین د رامنځتـه کېدو اړتیـا احسـاس کـړه او دوی ددغـه خونـدیتوب د تضـمینولو پـه خـاطر حکومت د یوې وسیلې په توګه رامنځتـه کېدل اړیـن ګڼـل. لـه دې املـه حکومـت د خلکـو د شخصـي شـتمنیو د خوندیتوب د تضمینولو په خـاطر دخلکـو ترمنځ د یـو ټـولنیز قرارداد په پایله کې رامنځته شو.

ټولنیز قرارداد په اړه روسو وايي په ټولیزه توګه د افرادو له خوا د انفرادي حقونو او ازادیو لاس په سر کېدل او دغه حقونه یو

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوی شخص ته لېږدول دي. د ټولنيز عدالت دغه نمونه د دوه اړخيزو مسولیتونو، چې په کې واکمن د افرادو ښو ته ژمن وي او هر يو فرد د نورو افرادو ښو ته ژمن وي ويل کېږي، روسو وايي چې حکومت ته غاړه ايښودل د انفرادي او ټولنيزو ګټو د ترلاسه کولو په خاطر ترسره کېږي.

روسو state of Nature ته د روسوله ييز حالت په سترګه ګوري او وايي چې دغه مهال افرادو انفرادي ژوندل کولو، دغه وخت د انسانانو نفوس کم و، نو ځکه په طبعيت کې د شيانو کثرت و. دغه مهال خلک ډېر کم د يو بل سره مخامخېدل او له دغه امله د انسانانو ترمنځ د ټکر چانس ډېر کم وو. روسو وايي چې انسانانو دغه وخت په ازادانه توګه هغه څه ترسره کول، چې دوی يې کول غوښتل.

جان لاک بيا د state of Nature په اړه وايي چې دغه د جګړې حالت نه دی، چې په کوم کې خلک د يو بل په حقونو تېری کوي، بلکې افراد خپل پلانونه په داسې توګه

(c) ketabton.com: The Digital Library



عملي کوي. چې نورو ته يې زيان ونه رسېږي. هوبس ته د جان لاک او روسو برخلاف state of Nature د يوې دوامدارې جګړې حالت ښکاري په کوم کې چې خلکو د يوبل سره په دوامداره توګه ښکرې اړم کړي وي.

حکومت او واکمنو ته غاړه ايښودنه د حکومت د دوام لپاره يو مهم فکتور دی، ډاکټر جين شارپ وايي: د ولس لخوا له غاړه ايښودنې پرته حکومت دوام نه شي کولای او دا ځکه چې که ولس حکومت ته غاړه کېنږدي او خبره يې ونه مني، نو حکومت دوام نه شي کولی، له ټولنيز تړون پرته په ټولنه کې يو ډول مري او غير مري رواني او مادی فکتورونه موجود دی، دغه فکتورونه ددې لامل ګرځي، چې ولس او يا افراد واکمنو ته غاړه کېږدي. دغه فکتورونه په بېلابېلو ټولنو کې توپير کوي. د ټولنې سياسي، اقتصادي او ټولنيز حالات ددغه فکتورونو په ټاکلو کې رول لري. ولسي مبارزه په

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدغه فلسفه ولاړه ده او همدا لامل دی، چې په ولسي مبارزو کې ولس ځکه هدف ګرځول کېږي، چې ولس له حکومته مخ واړوي، نو حکومت دوام نه شي کولای.

ولسي مبارزین اړ دي، چې همدغه لاملونه، کوم چې د ولس د غاړې ایښودنې لامل ګرځي وپیژني. ددغه لاملونو په اړه پوهاوی ددې باعث ګرځي، چې مبارزین د خلکو وفاداري له حکومت څخه خپل طرف ته راجلب کړي.

**عادت:** له وړوکتوبه خلکو د غاړه ایښودنې عادت اخیستی وي چې دغه عادت د وخت په تېرېدو سره وده کوي. موږ په ټولنه کې د مشرانو، مور، پلار، د مشرانو وروڼو او خوېندو اوامرو ته غاړه ږدو. دغه غاړه ایښودنه ددې لامل ګرځي، چې موږ له حکومت څخه فرمانبرداري کوو. اکثره وختونه آن علامې موږ مجبوري چې غاړه کېږدو. د بېلګې په توګه کله چې موږ د STOP نښه ګورو، ودرېږو. او یا سره ترافیکي

(c) ketabton.com: The Digital Library



نښنه ګورو درېږو نو ځکه ډېر خلک د غاړه ايښودنې د عادت له مخې بيا حکومت ته هم غاړه نږدي.

**شخصي ګټه:** ډېر وختونه ولسونه له ديکتاتورانو او مستبدو رژيمونو څخه کرکه کوي، خو نور خلک بيا له دې امله چې شخصي، سمتي او يا تنظيمي ګټې يې په دغه ډول رژيمونو کې خوندي وي، له هغوی څخه ملاتړ کوي. بناً دغه ګټې ددې لامل ګرځي چې دغه ډول خلک هغوي حکومتونو ته غاړهږدي.

**د جزا ويره:** اکثره خلک له دې امله چې که له واکمنو څخه سرغړونه وکړي بنايي جزا ورکړل شي، بندي شي، له مالي او مادي حقونو محروم شي واکمنو ته غاړه ږدي. ډېر وختونه مستبد رژيمونه هغه خلک له دندو محروموي، چې دوی ته غاړه نه ږدي. دا، چې يوازې دولت د زور کاروني واک لري دغه فکتور ولسونه دولت ته په غاړه ايښودنو مجبوروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**بې تفاوتي:** په ټولنه کې ډېر داسې خلک موجود دي، چې د حالاتو پر وړاندې بې تفاوته وي. فکر کوي هغه چې د استبداد په وړاندې دریدل یوه ستره ننګونه ده او هغه خلک چې دغه ډول فکر لري د استبداد پر وړاندې اکثر وختونه بې تفاوته پاتې کېږي او د دوی بې تفاوتي د دې لامل ګرځي چې مستبد واکمن خپل واک ته دوام ورکړي. د ولسي مبارزې یوه موخه د حالاتو پر وړاندې د بې تفاوته خلکو متحرک کول دي. بې تفاوتي یوه ستره ستونزه ده، که په ټولنه کې بې تفاوتي له منځه ولاړه شي شاید ډېری ناخوالې له منځه ولاړې شي او واکمن پر ولسونو د ځان او خپلې ارادې تپلو چانس له لاسه ورکړي.

**پر ځان د باور نه موجودیت:** ډېر وختونه چې کله عادي ولس ته په حکومتي چارو کې ونډه ور نه کړل شي، ولسونه بیا د ضعف او ناتوانۍ احساس کوي، دوی بیا فکر کوي چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



هیڅ کار ورتیا نه لري او حکومت د هر څه مسؤلیت پر غاړه لري، پر ځان دغه بې باوري د خلکو د بې تفاوتۍ او بالاخره د مستبد واک د دوام لامل ګرځي. کله چې د بدلون د راوستلو د ورتیا نه درلودلو ذهنیت ته په ټولنه کې بدلون ورکړی شي. او خلک فکر وکړي، چې دوي هر ډول بدلون راوستلی شي، یوازې دغه وخت په ټولنه کې د مثبتو بدلونونو رامنځته کېدو طمعه کېدای شي. زموږ په ټولنه کې پر ځان نا باوري د شته بدمرغیو له سترو لاملونو څخه ګڼل کېږي. ولس د هر ډول اقتصادي، سیاسي او ټولنیز بدلونو راوستلو لپاره حکومت ته ګوري، دوی په دې اند دي چې هر ډول بدلون باید حکومت راولي او د بدلون راوستلو لپاره پر ځان باور نه لري. په ټوله کې دغه ذهنیت ددې لامل شوی، چې ټولنه په ستونزو کې بنکېله شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د ناکامۍ وېره:** کله چې خلک نورې مبارزې وګوري چې ناکامېږي، دوی هم مبارزه کولو ته زړه نه ښه کوي، دوی فکر کوي چې څه تغییر نه شي کولی، نو ځکه بر حاله واکمن ور ته ښه ښکاري او د هغه ملاتړ ته دوام ور کوي.

**اخلاقي مسوولیت:** ډېر خلک ځکه واکمنو ته غاړه ږدي، چې دوی فکر کوي واکمنو ته غاړه اېښودنه د دوی دیني او اخلاقي مسؤلیت دی. له دې بر علاوه خلک فکر کوي، چې که موجود واکمن لرې شي، نو نوی واکمن به په ټولنه کې د ګډوډۍ لامل وګرځي. ځکه دوی فکر کوي چې د موجود واکمن د واک دوام په ټولنه کې د نظم مانا لري او له دې امله دوی دغه واکمن ته غاړه ږدي. چارواکي هم له دغه مفکورې استفاده کوي تر څو د دوي پر خلاف مزاحمت را پیدا نه شي، کله چې خوشال خان د مغلو پر خلاف مبارزه کوله ، مغلو ځینې خلک چې نیمچه ملایان په کې هم وو، خوشال خان پر خلاف راپاڅول

.دغو خلکو به د خوشال خان خلاف کولو او ویل به یې چې مغل اولولامر دي او د اسلام له نظره باید رعایا اولولامرو ته غاړه کېږدي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوشال خان به دغه خلکو ته په ځواب کې ویل چې مغل ظالمان دي او په اسلام کې ظالمانو ته غاړه ایښودنه ناروا ده. خوشال خان به دوی ته ویل:

اطاعت د اولوالامر ځکه نه کړم

خلیفه د زماني په زړه کافر دی

د خوشال خان مخالفینو د خوشال خان سره مخالفت کول د مذهب پر اساس توجیه کول، نو خوشال خان هم اړ و، چې د خپلې مبارزې لپاره مذهبي دلیل پیدا کړي. خوشال خان دغه کار کښې تر یوه بریده بریالی و.

**له واکمن سره رواني اړیکې:** کوم شخص چې په واک کې وي، له هغه سره د خلکو یو ډول رواني تړاو رامنځته کېږي او خلک یې په خفګان ځورېږي، دغه رواني تړاو د دې لامل ګرځي، چې ولس له واکمنو ملاتړ وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مافوق الانساني حيثيت:** هغه څوک چې په واک کې وي د نورو انسانانو په پرتله داوچت مقام لرونکي ښکاري. په ځينې کلتورونو کې پاچا ولس ته د خدای سيوری ښکاري. له دغه امله ولس له پاچا څخه ملاتړ کوي.

**نور خلک چې څه کوي؟:** ولس ډېر وخت هغه څه کوي، چې اکثريت يې کوي، ( د رندو په بازار چې وربرابر شې، ته هم يوه سترګه پټوه) خلک همدغه شان کوي او له واکمنه ملاتړ کوي. ددې مانا دا ده، چې دغه ډول خلک د ښو او بدو په اړه خپل تحليل نلري بس هغه څه کوي، چې نور خلک يې کوي او دا کار د ټولنې او هېواد لپاره ډېر بد عواقب لري.

د غاړه ايښودنې لاملونو باندې پوهېدل ځکه اړين دي، چې کله مبارزين په دغه لاملونو پوه شي، بيا د موجودو واکمنو څخه خلک مبارزې ته د را اړولو لپاره لارې چارې او دلايل پيدا کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شلورم څپرکې

## د ولسي مبارزي تاکتيکونه :

د ولسي مبارزې ټول ډولونه (له تشدده خالي احتجاج، داړ ايستلو لارې چارې او د ولسي مبارزې طريقي) له هغه کلتور سره ژور تړاو لري، چې يوه مبارزه په کې ترسره کېږي.

سياسي، ټولنيز، اقتصادي او جغرافيايي حالت په ولسي مبارزو کې کارېدونکې طريقې او تاکتيکونه ټاکي. د ولسی مبارزی تاکتيکونه بايد د پراخه ستراتيژۍ يوه برخه وي، تاکتيکونه په يوازی ځان شايد دهېڅ رنځ دوا نه شي. ولې د ولسي مبارزې د پراخه ستراتيژي يوه قوي برخه ده.

جين شارپ په بېلابېلو مبارزو کې ترسره شوې طريقې په ۱۹۸ تاکتيکونو کې خلاصه کړي دي. له دې پرته ځينې نورو پوهانو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولسي مبارزې د سر ته رسولو لپاره بيا د دوی د کلتور او ټولنې د حقايقو په نظر کې نيولو سره سم ډول ډول لارې چارې وړاندې کړې دي. دغه لارو چارو ته تاکتيکونه ويل کېږي.

تاکتيکونه هغه کړنواو يا مانورونو ته ويل کېږي، چې موخه يې په يوه مبارزه کې د کاميابۍ لاسته راوړل وي، تاکتيکونه د مبارزې پر مهال منظمو لنډمهاله کړنو ته ويل کېږي. جين شارپ له ولسي مبارزې سره تړلي تاکتيکونه په لاندې ډول په درې ډلګيو وېشلي.

۱ : هڅول، نيوکه او احتجاج کول.

۲ : همکاري نه کول.

۳ : سوله ييزه مداخله او اخلال رامنځته کول.

هڅولو، نيوکې او احتجاج کولو ډله کې هغه طريقې شاملې دي، چې سمبوليکه بڼه لري. د دغه طريقو موخه د مخالفينو، عام ولس او د متاثرينو تر اغېز لاندې راوستل دي. عموماً د تاکتيکونو دغه ډله لومړنی قدم او د مبارزې نورو لارو چارو ته زمينه برابروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د همکاري نه کولو په لارو چارو کې مبارزين هغه همکاري نه کوي، چې دوی يې په عادي حالت کې له مبارزې وړاندې له مخالف اړخ سره لري او يا هم په ټولنيزو، اقتصادي او سياسي ډګرونو کې د اړينو نويو همکاريو له کولو څخه ډډه کوي.

د سوله ييزې مداخلې او اخلال رامنځته کولو په طريقو کې هغه لارې چارې شاملې دي. چې مبارزين په کې مخکې تر مخکې په موجودو تګلارو، اړيکو، ادارو او رواجونو کې لاس وهنه کوي او اخلال په کې رامنځته کوي. د جين شارپ له تاکتيکونو يې ځينې په لاندې ډول دي.

- ولسي تعزيرونه
- ديوې موضوع په مخالفت او يا ملاتړ کې اړونده اړخ ته ليکونه ليږل
- د سازمانونو او ادارو له خوا اعلاميې خپرول
- لاسليک شوې ولسي اعلاميې
- د افرادو او ادارو له خوا ديو چا د سمبوليکې محاکمې اعلانول

(c) ketabton.com: The Digital Library



- دليک له لارې ديو لوی شمېر خلکو له خوا ديوې غوښتنې مطرح کول
- شعارونه، کاريکاتورونه او سمبولونه جوړول
- بنرونه، پوسترې، او په ديوالونو ليکنې
- کتابونه، پمفليټونه او کېستې (پېټې) خپرول
- ورځپاڼې او ژورنالونه
- راډيو او تلويزيونونه
- په هوا او په ځمکه ليکل کول
- پلاوی لېږل
- نمونه يي مړالونه ورکول
- دګروپ په بڼه ديوې موضوع لپاره ملاتړ ترلاسه کول (لابي کول)
- يوې ودانۍ ته دودانۍ له ظرفيته دزياتو خلکو ورننوتل
- نمونه يي ټاکنې کول
- دبېرغونو او سمبولونو راځړول او له ځان سره يې لېږدول
- دسمبولونو کارول / اغوستل

(c) ketabton.com: The Digital Library



- دوعاګانې او عبادت کول
- د سمبوليکه شيانو رسمول
- دانځورونو ښودل / لېږدول
- د خپل جايدادونوله مينځه وړل
- سمبوليکې رڼاګانې کول/سمبوليکې روښنايۍ
- دانځورونو او ګوډاګيانو ښودل
- داحتجاج په توګه ځان په ځانګړيو رنګونو رنګول
- نوې نښې او نومونه رامينځته کول
- سمبوليکې نعرې وهل
- اعتصاب / دندې او نور مسترد ول
- ځانګړی ګروپ او اشخاصوته بې ادبه اشارې کول
- چارواکو ته په لوی شمير کې ورتلل
- چارواکې ځورول
- همدردۍ ګروپونه جوړول
- ناستې کول
- ډرامې او موسيقي غږول

(c) ketabton.com: The Digital Library



- سندرې ویل
- مارشونه کول
- رسم ګذشت کول
- مذهبي غونډې کول
- اوږد سفر کول – مذهبي سفر کول
- د ستر قطار په بڼه موټرې یو طرف ته بیول
- سیاسي ویرونه کول
- نمونه یي جنازې کول
- نمایشي جنازې کول
- د ملاتړ یا احتجاج غونډې کول
- احتجاجي غونډې کول
- احتجاجي وتل
- چوپتیا غوره کول
- حکومت نه د القابو بیرته ستنول
- مخ اړول
- ټولنیز پریکون

(c) ketabton.com: The Digital Library



- انتخابي ټولنيز پرېکون
- د خبرو بندول
- د ټولنيزو او سپورټي فعاليتونو ځنډول
- ټولنيزو مسايلو سره پرېکون کول
- د محصلينو له خوا احتجاج کول
- ټولنيزه غاړه نه اېښودنه
- له ټولنيزو ادارو دخپل غړيتوب بېرته اخيستل
- د مبارزينو له خوا په کورونو کې ناسته کول
- بشپړ انفرادي پرېکون کول
- د کارګرانو تېښته
- پناه ګاه/ پټنځای
- ټولنيز غيابت
- هجرت کول
- د مستهلکينو له خوا پرېکون کول
- د هغه موادونه کارونه چې پرېکون ورسره شوی
- لګښت کمول

(c) ketabton.com: The Digital Library



- دکورونو د کرایو نه ورکول
- په کرایه نیولو څخه انکار کول
- په ملي کچه د مستهلکینو پر ېکون کول
- په نړېواله کچه د مستهلیکینو له خوا پر ېکون کول
- د کارګرانو له خوا پر ېکون کول
- د تولید کوونکو له خوا پر ېکون کول
- د عرضه کوونکو پر ېکون کول
- د سوداګرو پر ېکون کول
- د جایدادونو له پیریدلو انکار
- ځانونه په کورونو کې بندول
- له صنعتي کمک څخه ملاتړ کول
- د تجارانو له خوا عمومي اعتصاب کول
- په ډله ییزه توګه له بانکونو خپلې روپۍ راویستل
- دقسطونو او باقیاتو له ورکړې انکار کول
- د قرضونو او بانکي سودونو له ورکړې انکار کول
- د حکومتي روپیو له اخېستلو انکار کول

(c) ketabton.com: The Digital Library



- دسوداګرۍ پر مالونو بنديز لګول
- په تور لست کې د تجارانو شاملول
- پر نړېوالو سوداګرو بنديز لګول
- د نړېوالو پېريدونکو له خوا بنديز لګول
- نړېوال تجارتي بنديز نافذول
- احتجاجي اعتصاب کول
- د بزګرانو له خوا اعتصاب کول
- د کروندګرو له خوا اعتصاب کول
- د بنديانو لخوا اعتصاب
- مسلکي اعتصاب
- پراخه لاريون
- دناروغۍ په پلمه کارونو ته نه تلل
- په احتجاجي ډول د دندو پرېښودل
- محدود احتجاج کول
- انتخابي احتجاج کول
- هر اړخيز احتجاج کول

(c) ketabton.com: The Digital Library



- عمومي احتجاج کول
- هرتال (اعتصاب) کول
- اقتصادي رکود
- د وفاداريو څنډول او يا بېرته اخېستل
- د ولسي ملاتړ څنډول
- مقاومت هڅوونکي ويناوې او ادبيات کارول
- له قانون جوړوونکو ادارو سره پرېکون کول
- له ټاکنو سره پرېکون کول
- له حکومتي دندو سره پرېکون کول
- له حکومتي ادارو سره پرېکون کول
- له دولتي تعليمي ادارو سره د همکارۍ پرېکون کول
- له حکومتي دندو او مقامونو سره پرېکون کول
- د حکومت ملاتړو ادارو سره پرېکون کول
- د اجرايوي چارواکو له ملاتړ څخه انکار کول
- درسنيو او دلوحو لرې کول
- د ټاکل شويو چارواکو له منلو انکار کول

(c) ketabton.com: The Digital Library



- زړه نازړه توب او غاړه نه ایښودنه
- د مخامخ څارونکي په نه موجودیت کې زړه نازړه غاړه ایښودنه
- ولسي غاړه نه ایښودنه
- غیر مستقیم غاړه نه ایښودنه
- دیوې غونډې له خپرېدو انکار کول
- ناستې کول
- د مکلفیت دورې له تېرولو سرغړونه کول او نورو مسلکونو ته تلل
- پټېدل، تښتېدل او کاذبه پېژندګلوي
- ناروا قوانینو ته ولسي غاړه نه ایښودل
- د حکومت د ځانګړو مرستو له منلو انکار کول
- د قوماندې او مالوماتو د وسایلو بندول
- عمومي اداري نه همکاري کول
- قضایي نه همکاري کول
- داجرائیه مامورینوله خوا اراداتاً نه همکاري کول

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د حکومت جوړونکو اجزاو له خوا نه همکاري کول
- په ډيپلوماتيکو او نورو استازولېو کې بدلون راوستل
- د ډيپلوماتيکو غونډو فسخ او وروسته کول
- د ډيپلوماتيک رسميت پېژندلو تعليق
- د ډيپلوماتيکو اړيکو سختول
- د نړيوالو ادارو له غړيتوبه وتل
- په نړيوالو ادارو کې له غړيتوبه انکار
- له نړيوالو ادارو او سازمانونو وتل
- روژه نيول
  - د ذهني فشار رامنځته کولو لپاره روژه نيول
  - دلوږې يا د نه خوړلو اعتصاب
- سر چپه محاکمې دايرول
- له تشدده خالي وېرول
- احتيجاجي دربدني
- له تشدده خالي بريد کول
- له تشدده خالي اشغال

(c) ketabton.com: The Digital Library



- نوې ټولنيزې کړنې رامنځته کول
- متبادلې ټولنيزې ادارې رامنځته کول
- متبادل افهام او تفهيم رامنځته کول
- له زور زياتي پر ته ديو ځای اشغال
- له بنديزونو سرغړاوی
- ډمپينګ (ځينې سوداګر ځانګړي توکي په ډېره لويه کچه مارکېټ ته راوړي، چې دغه کار په مارکېټ کې د ياد توکي د نرخ دلوېدو لامل ګرځي. په پايله کې يې نور تجاران مجبورېږي، چې خپل توکي ارزان وپلوري او په پايله کې نور دکانداران تاوان کوي.)
- متبادل بازارونه رامنځته کول
- متبادل ټرانسپورټ رامنځته کول
- متبادلې اقتصادي ادارې رامنځته کول
- په ادارو کې ازدحام
- د پټو اجنټانو ښکاره کول
- زندانونو ته د تللو هڅه

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د (بېطرفه) قوانينو ولسي عدم اطاعت: قوانينو ته غاړه نه اېښودنه
- متوازن حکومت رامنځته کول
- متوازني اداري رامنځته کول

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په افغانستان کې د ولسي مبارزې ځينې تاکتيکونه

ولسي مبارزين بايد د هغه ځای، چې مبارزه پکې رامنځته کېږي د هغه اقتصادي، سياسي، مذهبي او ټولنيز چاپېريال په نظر کې نيولو سره د مبارزې د پر مخ بېولو لارې چارې ترتيب او وضع کړي. هره مبارزه خپل ځانګړی چاپېريال لري او که دغه چاپېريال په پام کې ونه نېول شي او مبارزه تر سره شي، نو نه يوازې دا چې مبارزه به بريالۍ نه شي، بلکې مبارزين به له سختو ستونزو سره مخ شي، د دغه ډول مبارزو تر سره کول په ټولنه کې د نورو زياتو خرابيو لامل ګرځي.

د افغانستان ځانګړی اقتصادي، سياسي، مذهبي او ټولنيز چاپېريال ددې غوښتنه کوي، چې مبارزين د تاکتيکونو د غوره کولو پر مهال بايد د ټولنې د شرايطو او حالاتو سربېره د خلکو د پوهاوي کچې ته هم پام وکړي. ده موجودو حالاتو په رڼا کې بايد مبارزين د مبارزې لپاره ستراتيژي او د ستراتيژۍ د يوې برخې په توګه له هغه تاکتيکونو ګټه واخلي، چې مخالف طرف د خپل موقف پرېښودلو ته اړباسي او له نورو تاکتيکونو ډېر ګټور وي. تاکتيکونه بايد داسې وي، چې مبارزينو ته يې تر سره کول اسانه وي. دلته يو لړ هغه تاکتيکونه چې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغاني ټولنه کې پياده شوي او اوس هم د پياده کېدو وړتيا لري، څېړل کېږي. خو د دې مانا دا نه ده، چې په افغاني ټولنه کې يوازې همدغه تاکتيکونه د پياده کېدو وړ او نور تاکتيکونه نه شته او يا دا چې په راتلونکې کې نور تاکتيکونه نه شي راپېدا کېداى. تاکتيکونه هر وخت شايد تغير وکړي، موثريت يې کم يا زيات شي او نوي تاکتيکونه له وړاندې نه د موجوده تاکتيکونو ځاى ونيسي.

**جرګه:** جرګه شايد له يو تاکتيک څخه ستره وي. جرګه د نورو تاکتيکونو برابرولو ته لاره اواروي. جرګه يو ګټور افغاني تاکتيک دى او په ولسي مبارزه کې ډېره استفاده ترې کېداى شي. د ديني عالمانو او قومي مشرانو پرېکړې ډېرې ګټورې وي. د دوى ملاتړ او يا مخالفت ژور بدلون رامنځته کولاى شي، د جرګې پرېکړې د ژورو ټولنيزو او سياسي بدلونونو لامل ګرځي.

**تقريرونه:** مبارزين کولاى شي له دغه تاکتيک څخه استفاده وکړي، تقريرونه عموماً د يوې ځانګړې موخې د تر لاسه کولو په خاطر د هغو خلکو له خوا ترسره کېږي چې په ټولنه کې مؤثر وي او ديني يا دنياوي پوهه ولري.

**د موازي ادارو جوړول:** له دولت سره موازي ادارې جوړول هم د ولسي مبارزې يو ګټور تاکتيک دى. له دې تاکتيک نه د ۱۹۸۰ يمې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لسيزې په وروستيو کې پېښور ميشتو مجاهدينو ډلو استفاده وکړه او په پېښور کې يې يو جلا وطنه عبوري حکومت را منځته کړ.

که څه هم د دغه حکومت جوړېدل تر ډېره بريده يوه ناکامه تجربه وه، خو دغه تجربه د ولسي مبارزې يوه ښه بېلګه ده. که له ملي کچې را تېر شو، نو دا تاکتيک د ولسوالۍ او ولايت په کچه هم کارېدای شي.

**ليکونه ليږدول :** مبارزين خپلې غوښتنې اړونده مرجع ته د يو ليک په بڼه ليکي او د ولس له خوا لاسليکېږي، څومره چې لاسليکونه زيات وي، په هماغه اندازه د ليک مؤثريت زياتېږي. ځينې وختونه ليک د مدني ټولنې له خوا ليکل کېږي او له اړوند مرجع څخه په کې خپلې غوښتنې مطرح کېږي.

**شعارونه، کاريکاتورونه او سمبولونه:** شعارونه، کاريکاتورونه او سمبولونه ځينې وخت په پټه ليکل کېږي، خو که موضوع ډېره جدي او خطرناکه نه وي، نو بيا په ډېر کم وخت کې د دغه تاکتيک له لارې ډېرو خلکو ته پيغام رسول کېږي. په ځينو موارد و کې ديو چا کاريکاتور رسمول کېدای شي اخلاقاً بد وګڼل شي، خو بيا هم په افغانستان کې له دغه تاکتيکه ګټه پورته کېږي.

**بېنرونه، پوسترونه او ليکل شوي پيغامونه کارول :** له دې لارې په کم وخت کې زياتو خلکو ته پيغام رسول کېږي. مبارزين کولای شي، چې له

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغو تاکتیکونو څخه په اسانۍ سره ګټه واخلي. که چېرې هدف لوستو کسانو ته د پیغام رسول وي، نو په دې صورت کې دغه تکتیک ډېر ګټور دی.

**راډیو، تلویزیون او ورځپاڼې کارول :** دغه درې واړه تاکتیکونه د مبارزینو لپاره موثرې وسیلې دي، خو په افغانستان کې راډیو د پیغام رسولو تر ټولو مؤثره وسیله ده، چې لوستي او نالوستي خلک ټول ورڅخه په اسانۍ ګټه اخیستلای شي.

**ټولنیزې رسنۍ کارول :** که څه هم په افغانستان کې د انټرنیټ کارول کم دي، خو اکثره لوستي ځوانان، د مدني ټولنو غړي او دولتي چارواکي فېسبوک، ټویټر او نورو ټولنیزو رسنیو ته لاسرسی لري، له دې امله ټولنیزې رسنۍ لوستو ځوانانو ته د پیغام رسولو ښه وسیله ده.

**ډله ییز بریښنالیکونه لیږدول:**

په اوسني عصر کې مبارزین ډېر وخت د ګروپي بریښنالیک له لارې خپله غوښتنه ډېرو خلکو ته رسوي او له هغو د اقدام کولو غوښتنه کوې. دغه تاکتیک په افغانستان کې هم په رواجیدو دی. موثر تاکتیک دی .

**ګرځنده تلیفون:** د دې وسیلې له لارې نه یوازې خلکو ته د خبرو کولو له لارې پیغام رسولی شو، بلکې د ګرځنده تلیفون پیغام کولای

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي په لږ وخت کې ډېرو خلکو ته د مبارزې اهداف ورسوي. افغانستان کې د نفوسو یوه ستره فیصدي ګرځنده تلیفونونه لري. ګرځنده تلیفون په اوسني وخت کې د پیغام د لیږد یوه ګټوره وسیله ده.

**د بیرغونو او ځانګړو رنګونو لرونکې جامې:** دغه تاکتیک د احتجاجي مبارزو پر مهال مبارزین له واکمنانو سره د مخالفت او ځینې وختونه د یوې تګلارې څخه د ملاتړ په وخت کې کاروي.

**د ګوډاګي جوړول:** دغه تاکتیک د اشخاصو پر خلاف مبارزو کې ډېر کارول کېږي. ځینې وختونه د هغه شخص ګوډاګی سوځول کېږي چې پر ضد یې احتجاج کېږي.

**د ترانو ویل:** د مبارزو پر ملاتړ او د مخالف په مخالفت کې ترانې او شعارونه ویل هم یو تاکتیک دی.

**مارش کول:** د مخالف پر خلاف یا د ځانګړو اهدافو د تر لاسه کولو په خاطر مارشونه کېږي.

**ناستې:** مبارزین په یو ځای کې خېمې لګوي او یا هم تر شنه اسمان لاندې کېني، ټوله ورځ تېروي او ځینې وختونه شپې هم تېروي، چار چاپېره بینرونه لګوي، رسنۍ هم رابلل کېږي، چې پېښه منعکس کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**له غونډو وتل:** دا ډول پېښې اکثره وخت په رسمي مجلسونو کې تر سره کېږي. له غونډې وتونکي هغه وخت غونډه پرېږدي، چې له پرېکړو سره مخالف وي.

**خاموشي:** په دغه تاکتیک کې مبارزین د مالوم وخت لپاره د یوې ځانګړې موخې په خاطر سکوت اختیار وي او خبرې نه کوي.

**احتجاجي غونډې:** په دغه ډول غونډو کې مبارزین په یو ځای کې راټولېږي او د مخالف هغه کړنې غندي، چې دوی یې پر خلاف مبارزه کوي. د احتجاجي غونډو ډولونه تغیر کوي. ځینې وختونه مبارزین له ځانه سره بېنرونه او بیرغونه لېږدوي او ځینې نور وختونه بیا د مخالف ګوډاګی سوځوي.

**د دندو پرېښودل:** که مبارزه د ټولنې د یو ځانګړي مشر له خوا وي او دغه مشر په یوه ځانګړې اداره کې کار کوي، نو د کارکوونکو له خوا په ټولیز ډول د خپلو دندو پرېښودل هم پر مخالف فشار واردوي او د دوی د غوښتنو منلو ته یې اړ باسي.

**تحریمول:** د دغه تاکتیک ښه بېلګه د ژورنالستانو له خوا د یوې ادارې تحریمول او د هغوی د کړنو د راپور نه ورکول دي. د ژورنالستانو له خوا د یوې ادارې تحریم د دې لامل ګرځي، چې اداره د دوی غوښتنې ومني.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ديوې فابريکې يا هېواد محصولات نه اخيستل:** دغه کار يو مؤثر اقتصادي تاکتيک دی، چې مخالف لوري ته زيات اقتصادي زيان ور اړوي. د بېلګې په توګه که افغانان د هغو هېوادونو د محصولاتو له اخېستلو ډډه وکړي، چې په افغانستان کې لاس وهنه کوي، دا کار به ددې لامل شي، چې دغه هيوادونه په اقتصادي ډګر کې زيان ومومي او په افغانستان کې په خپله تګلاره له سره غور وکړي.

**مظاهرې او لاريونونه:** دغه تاکتيک په دې وروستيو کې په افغانستان کې ډېر رواج موندلی. ځای پر ځای خلک د خپلو حقونو د لاسته راوړلو په خاطر مظاهرې کوي، خو که مظاهرې سمې منظمې نه شي او خلکو ته سم پوهاوی ورنه کړل شي، نو د دې امکان شته چې مظاهرې په تاوتريخوالي واوړي او د مبارزې د کمزورۍ لامل شي.

**پرېکوون:** ځيني وختونه خلک له مخالفينو سره پرېکون اعلانوي، هر ډول اړيکې ورسره پرېکوي. پرېکون هم په زياتو ځايونو کې موثر تمام شوی او مخالفين يې د مبارزې پر وړاندې مات کړي.

**له بانکونو خپلې ټولې روپۍ راويستل:** دا هم ډېر موثر تاکتيک دی، په تېره بيا په هغه وخت چې مخالف لوری دولت وي. دا تاکتيک پر حکومت قوي اقتصادي فشار راوړي، خو د موثريت لپاره يې اړينه ده، چې دا تاکتيک په ټوليزه توګه ترسره شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د بېلونو او پورونو نه ورکول:** په دغه تاکتيک کې ولس د اوبو او يا برېښنا بېل نه ورکوي، د بانکونو د پورونو له ورکولو ډډه کېږي، خو شرط دا دی چې دغه تاکتيک د ولس له خوا په ټوليزه توګه ترسره شي. په دې تاکتيک کې حکومت ته د ماليې له ورکولو څخه انکار هم شامل دی.

**دولتي ودانيو ته د هغوی له ظرفيت څخه په زياته اندازه ورننوتل:** په دغه تاکتيک کې خلک دولتي ودانيو ته له ظرفيت نه په زياته اندازه ورننوځي چې له امله يې هلته موجود دولتي مامورين له ذهني فشار سره مخ کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ځینی هغه تاکتیکونه چې په بېلابېلو هېوادونو کې د اختلاس پرخلاف ترې په ولسي مبارزو کې کار اخیستل شوی

په دې وروستیو کلونو کې اختلاس یوه ستره نړیواله موضوع ګرځېدلې، په لکونو انسانان په بېلابېلو ټولنو کې په یو نه یو ډول د اختلاس له امله په یو او یا بل ډول زیانمنېږي. اختلاس د نورو انسانانو په حقونو تېری دی، نو ځکه د اختلاس پر وړاندې مبارزه کول د بشري حقونو د تحقق لپاره مبارزه ګڼل کېږي. ولسي مبارزې تل د عدالت د رامنځته کېدو او د بشري حقونو د خوندیتوب او تحقق لپاره ترسره کېږي، نو ځکه د اختلاس پر وړاندې هم ولسي مبارزه دیوې قوي وسیلې په توګه په بېلابېلو ټولنو کې کارول شوې ده.

د هند یوې ډلې مبارزینو په خپل هېواد کې د اختلاس پر وړاندې مبارزه کې یوه نوې طریقه کارولې ده، دغه مبارزینو د هند جعلي بانکنوټونو چاپ او د خلکو او په ځانګړې توګه د مبارزینو تر منځ وېشل، کله چې به کوم چارواکي د چا کار نه کولو او یا به یې ترې

(c) ketabton.com: The Digital Library



رشوت غوښتلو نو خلکو له دغه نوټونو چې په پراخه کچه وېشل شوي وو یو نوټ ورکولو، خو وړاندې له دې چې دغه نوټونه ووېشل شي په اړه یې پراخه عامه پوهاوی شوی و. مبارزینو د هند په بیلابیلو برخو کې پراخه شبکې رامنځته کړې وې او کله چې به کوم یو شخص څخه د کار د اجرا کولو لپاره د رشوت غوښتنه کېدله مبارز به چارواکې ته د رشوت غوښتلو په بدل کې جعلي نوټ ورکولو دغه کار به د یو شخص کړنه نه بلکې د یوې پراخه شبکې کار ګڼل کېدو او له دې امله به دغه ډول چارواکي له یو پراخه غبرګون له وېرې له رشوت اخیستلو ډډه کوله. د اختلاس پر خلاف په ځینې ټولنو کې کراول شوي تاکتیکونه په لاندې دول دی:

- کوریا کې متقلب وکېلانو نومونه د مدنی ټولني د فعالانو له خوا په تور لسیت کې اچول کېدل او د دوی جرمي سابقې یې چاپولې.
- د ترکي د حکومتی تقلب پر خلاف خلکو په یو مالوم وخت کې هره ورځ لوښې درزول او د موټرانو هرنډونه یې غږول.
- په یو وخت کې د مالوم وخت لپاره د برقونو روښانه کول او بندولو تاکتیک هم په ترکیه کې وکارېدلو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ❖ راډيوګانو ته د ولس له خوا د چارواکو د اختلاس په اړه د زنګونو وهلو ژوندی پروګرامونو نشرول هم يو تاکتيک دی، چې په ځينو ټولنو کې کارول شوی دی.
- ❖ د بېلابېلو پر مختيايي پروګرامونو په اړه د مالوماتو راټولول يو بل اغېز من تاکتيک دی.
- ❖ په ښوونځيو او پوهنتونونو کې د اختلاس پر خلاف مشخص ټولګي دايروي چې اختلاس کې ککړ خلک د وېرې حس وکړي او له اختلاسه لاس واخلي.
- ❖ د موټرو ستر کاروان لکه، چې په کوريا کې رامنځته شوی وو رامنځته کول هم يو ښه تاکتيک و.
- ❖ د تليفوني ليکل شوي پيغامونو له لارې د اختلاس بر بنډول د اختلاس په راکمولو کې مرسته کوي.
- ❖ د اختلاس پر خلاف د فسبوک ګروپونه برابرول او هغه کې غړيتوب تر لاسه کول
- ❖ د بريښنايي ليکنو له لارې چارواکو ته پيغامونه لېږل او په هغوی فشار راوړل چې د اختلاس مخه ونيسي.
- ❖ د غير رسمي لارو پر مټ مالومات تر لاسه کول
- ❖ خبري ناستې کول

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د ځانګړو سمبولونو ښودل
- د ولسی مبارزی د ورکشاپونو دایرول
- د مدني زدکړو د ورکشاپونو برابرول
- عمومي غونډو ته وینا کول
- د ولسی مبارزی د روزونکو لپاره د ورکشاپونو دایرول
- د ولسی مبارزی لپاره له خلکو څخه بسپنه راټولول

(c) ketabton.com: The Digital Library



## مظاهره کول:

مظاهره او احتجاج منطقي او احساساتي کړنه ده له دې امله اړينه ده، چې د مظاهرې کولو د وخت، ځای او څرنګوالي په اړه دقيق فکر وشي. ډېری وخت مظاهرې داسې مهال تر سره کېږي، چې سيمې ته يو لوړپوړی چارواکې راځي او يا د مظاهرې کولو ورځ د يوې ځانګړې پيښې له رامنځته کېدو سره متصادف وي.

د يوې سيمې اقتصادي، ټولنيز، سياسي حالات د بلې سيمې څخه توپير کوي، له دې امله هغه اقدام، چې په يوه سيمه کې مؤثر وي، هغه شايد په بله سيمه کې مؤثر نه وي ځکه د مظاهرې د په لاره اچولو لپاره اړينه ده، چې د اړونده ټولنې حالات په نظر کې ونيول شي.

په ولسواکه ټولنه کې مظاهره کول د ولس قانوني حق دی، خو د دې مانا دا نه ده، چې هر څوک چې هر وخت او هر چېرې وغواړي مظاهره وکړي. مظاهره ځانګړي شرايط لري.

د افغانستان د اساسي قانون شپږ دېرشمه ماده کې مظاهره د افغانانو مدني حق ګڼل شوی. (( افغانان د روا او سوله ييزو غوښتنو د تامين لپاره له قانون سره سم د بې وسلې غونډو او مظاهرې کولو حق

(c) ketabton.com: The Digital Library



لري)). د مظاهرینو لپاره اړینه ده، چې غوښتنې یې قانوني وي، هېڅکله له قانوني لارو غېر قانوني غوښتنې قانوني نه شي ګرځېدلی. دویم دا چې د مظاهره کوونکو کړنې باید په کرکه او نفرت نه وي ولاړې، بلکې مظاهرې باید د قانون په چوکاټ کې تر سره کړي.

په هغو هېوادونو کې باید مظاهره کولو ته ډېره پاملرنه وشي، چې تازه له ناورین څخه راوتلي وي او یا اوس هم په کې ناورین روان وي. که پاملرنه ونه شي، نو په دغه ډول ټولنو کې مظاهرې په تاوتریخوالي اوړي، په ولسي مبارزه کې مظاهره کول یو قوي تاکتیک دی، خو د مظاهرې کولو لپاره باید ځانګړي شرایط په پام کې ونیول شي.

تر هر څه وړاندې اړینه ده، چې د مظاهرې کولو موخه مالومه وي، ټول مظاهره کوونکي باید د مظاهرې د موخو په اړه یوه خوله وي، که د مظاهرینو موخې سره توپیر ولري، نو د مظاهرې په جریان کې ستونزې راولاړېږي او د مظاهرې اصلي موخې نه تر لاسه کېږي. د مظاهرې موخه د ستونزې بربنډول وي.

چې ستونزه بربنډه شي، ولس ترې خبر شي، رسنۍ یې په ملي او نړیواله کچه منعکس کړي او د چارواکو غوږونو ته ورسېږي، نو لازمه ده چې مظاهره په داسې یوځای کې تر سره شي، چې پور ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



يادې شوې موخې ترې لاس ته راشي، که مظاهره په داسې ځای کې وشي، چې څوک نه شي ورتلای او رسنۍ ورته لاسرسی نه لري، دغه ډول مظاهره کومه پايله نه لري.

د مظاهرې له تر سره کولو وړاندې بايد مظاهرين چمتوالی ونيسي او د حالاتو کره جاج واخلي. امنيتي حالات بايد وارزول شي، مظاهره بايد په داسې يو ځای کې تر سره شي چې په امنيتي لحاظ خوندي وي، د مظاهره کوونکو امنيت ډېر مهم دی او له بلې خوا مظاهره کوونکي هم بايد د نورو خلکو امنيت په پام کې ونيسي. د چا پر مال او ځان ونه بلوسي، د افغانستان په شان ټولنو کې د مظاهرو په تړاو د دې قوي امکان موجود دی، چې مظاهرې ته اخلال ګر او ورانکاري ورننوځي او سوله ييزه مظاهره په تاوتريخوالي بدله کړي، نو ځکه اړينه ده، چې د مظاهرې لپاره داسې يو ځای وټاکل شي، چې امنيتي ځواکونه په اسانه د مظاهره کوونکو امنيت خوندي کړای شي.

مظاهره کوونکي بايد مخکې تر دې چې مظاهره وکړي، له امنيتي ځواکونو سره د مظاهرې د مسير او وخت په اړه توافق وکړي، که چېرې د مظاهرې وخت او مسير بدلېږي بايد امنيتي ځواکونو ته خبر ورکړل شي. مظاهره د يو شخص کار نه دی. ټول خلک او يا لږ تر لږه هغه اشخاص چې په مشرتابه کې دي، بايد د مظاهرې په تر سره کولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې له يوه بل سره مسوليتونه وويشي. هغه اشخاص بايد په ګوته شي، چې له رسنيو سره خبرې کوي، هر سړی بايد په خپل سر له رسنيو سره ونه غږېږي. د مظاهرې د جريان د عکاسی او ثبت لپاره بايد ځانګړي کسان وي او همدارنګه ټولنيزو رسنيو ته د مالوماتو د لېږد اشخاص هم بايد مشخص وي، دغه ډلې ته د رسنيو ډله هم ويلی شو.

بله ډله کسان بايد له پوليسو سره په اړيکه کې وي، چې د پوليسو سره د اړيکو ګروپ يا د اړيکو ډله هم ورته ويل کېږي. دوی بايد وخت پر وخت له پوليسو سره په اړيکه کې وي چې د ناوړه پېښو مخه ونيول شي. د اړيکو د مرستيال ګروپ په نوم بايد يوه بله ډله هم موجوده وي، په دغه ډله کې داسې اشخاص شامل وي، چې د مظاهرې داخلي حالت کنټرولوي، دوی ټول جريان څاري چې څه روان دي، که په هر چا يې شک راځي چې مظاهره اخلالوي، د اړيکو ډلې ته بايد راپور ورکوي.

داسې يو کس يا د کسانو يوه ډله بايد وي، چې ټول حالات ارزوي، د سيمې نقشه جوړوي او که لازمه وګڼي مظاهره معطل او يا لغوه کړي. د بينرونو او شعارونو د لېږد لپاره هم د يوې ډلې موجوديت اړين دی، جلسې ته د خبرو کولو لپاره بايد ځانګړي کسان ټاکل شوي وي. طبي ګروپ هم بايد مالوم وي، که هوا توده وي نو د ځوانانو يوه داسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډله دې وي، چې خلکو ته سرې اوبه برابرې کړي. د مظاهرې لپاره اړين وسايل لکه مايکروفون، لاوډسپيکر، بېټرۍ او نور توکي بايد مخکې تر مخکې چمتو شي، هغه لاره هم بايد وکتل شي، چې مظاهره ترې تېرېږي. ټول خلک بايد په څلور کسيزو او يا شپږ کسيزو وړو وړو ټوليو وويشل شي، چې هر يو په نورو نظر وساتي.

که د مظاهرې پر مهال د تخريب رامنځته کېدو امکان را پيدا شي، مظاهره بايد پای ته ورسول شي. که امکان ولري نو د مظاهرې ټولو خواوو ته دې د مالومو کسانو د لاسونو زنځير رامنځته شي، چې نور خلک مظاهرې ته له ورننوتلو منع کړي. د مظاهرې پر مهال له مظاهره کوونکو سره بايد په دوامداره توګه خبرې وشي، وخت پر وخت بايد د مظاهرې د تېريدو لار وڅارل شي او که په کوم چا شک پيدا کېږي، بايد د مظاهرې امنيتي مسؤل ته خبر ورکړل شي. د مبارزې د مشر تابه ټول کسان بايد په مظاهره کې نه وي.

بايد يادونه وکړو، چې عموماً د دريېمې نړۍ او تازه په ولسواکۍ کې داخل شويو ټولنو کې د مظاهرو په تړاو درې سترې ستونزې موجودې وي، دغه ستونزې د دې لامل ګرځي، چې سوله ييزې مظاهرې په تاوتريخوالي واړوي. لومړۍ ستونزه د مظاهره کوونکو او پوليسو د يو بل په اړه منفي ذهنيت دی، دواړه غاړې يو او بل خپل دښمن ګڼي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



پولیس مظاهره چیانو ته د سیستم د مخالفانو په سترګه ګوري او له دې امله د دوی د ځپلو هڅه کوي، مظاهره کوونکي هم پولیسو ته د دښمن په سترګه ګوري او څومره چې یې توان وي، هغومره د پولیسو د راپارولو هڅه کوي. په دغه ډول ټولنو کې د مظاهرو کلتور ډېر عام نه وي.

نو ځکه دواړه (امنیتي ځواکونه او مظاهره کوونکي) د مظاهرې د زغم او په سم ډول د مظاهرې کولو وړتیا نه لري، دویمه ستونزه د مظاهرې لپاره په دغه ډول ټولنو کې داړینې زېربنا نشتوالی( د مظاهرې د کلتوری سره نابلدتیا) دی. چې مظاهره کوونکي په ډېره اسانۍ د مغرضو او ځینې وختونه ان د هېواد د مخالفینو او یا نورو ګاونډیو هېوادونو له خوا په غېر شعوري توګه د هیواد د ملي ګټو پر خلاف مظاهرې کوي، د خلکو جایدادونو ته زیان رسوي او ډېر وختونه مرګ ژوبله رامنځته کوي. مظاهره کوونکي په دغه ډول ټولنو کې اړین سیاسي پوهاوی نه لري او د نورو له خوا په اسانۍ سره کارول کېږي، پولیس هم له مظاهرینو سره د چلند وسایل او مسلکي وړتیا نه لري.

دریمه ستونزه د مظاهره کوونکو ترمنځ د نظم او دسپلین نه موجودیت دی چې له دې امله نامطلوب اشخاص هم په مظاهره کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



شاملېږي او د خپلو ځانګړو موخو لپاره له مظاهرې ناوړه ګټه کوي.
مظاهره چېان معمولاً د مظاهرې په پای کې خپلې غوښتنې دیو پرېکړه لیک په بڼه د رسنیو په موجودیت کې مطرح کوي او یا یې هم اړونده مرجع او ځینې وخت نړیوالې ټولنې ته په لیکلې بڼه ور کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ستراتېژيکه کړنه:

د مبارزې پر مهال مبارزين د نورمالو ورځنيو کړنو بر خلاف ځينې وختونه داسې کړنې تر سره کوي، چې که حکومت د مبارزينو ځپل تر سره کوي هم مبارزه قوي کېږي او که مبارزين د کړنې تر سره کولو ته پرېښودل کېږي بيا هم مبارزه قوي کېږي. دېر وختونه د ستراتېژيکې کړنې پايله کې د ولسي مبارزينو غوښتنې منل کېږي او يا د ولس په منځ کې د حکومت حيثيت زيانمنوي.

په ولسي مبارزو کې ستراتېژيک افعال د وړو وړو لاسته راوړنو لامل ګرځي، چې د تحريک د عمومي اهدافو په لاس ته راوړنو کې مرسته کوي. ستراتېژيکې کړنې بايد داسې طرحه شي، چې په لويه کچه په کې ولسي خلک ګډون وکړي.

د ستراتېژيکي کړنې موخې بايد وار له مخه تعين او د هغوی د لاسته راوړلو لپاره هڅه وشي. د ستراتېژيکي کړنې لپاره بايد يوه دقيقه کړنلاره جوړه شي او ستراتېژيکي کړنه يو تصادف نه وي، بلکې د دغه ډول کار د سرته رسولو لارې چارې، موخې او نور بايد مخکې ورته وټاکل شي. د ستراتېژيکې کړنې موخه دا ده؛ چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخالف لپاره داسې يو حالت رامنځته کړای شي، ، چې کـه قدم پورته کـوي او يـا غلـې پـاتې کېږي پـه دواړو حـالاتو کـې زيـانمنېږي. پـه ستراتيژيکي کړنه کې بايد مبارزين داسې ستونزه په ګوته کړي، چې ولس ته ارزښت ولري او ملاتړ ترې وکړي. تر ټولو ګټور موضوعات هغه دي چې په کې د حکومت له کوم بنديز څخه سرغړونه کېږي.

کـه څـه هـم ستراتيژيکه کړنـه يوه لنډمهالې اقـدام دی، خـو بيا هـم ژور تحقيق او فکر کولو ته اړتيا لري. ستراتيژيکې کړنې لپاره بايـد ستونزه مالومـه شـي، مـوخې، وسـايل، تاکتيکونـه، اړونـده خـواوې، وخـت او پلان سره ترلې ټولې خـواوې بايد ورتـه روښانه شي. کلـه چې ورتـه دغه ټول شيان پـه ګوتـه شي لـه هغې وروسـته بايـد ستراتيژيکې کړنـې ترسره کولو لپاره ميدان ته ور ودانګل شي.

د ستراتيژيکې کړنـې ښـه بېلګـه د ګانـدي د مـالګې مـارش دی، پـه دغـه مـارش کـې ګانـدي داسـې يـوه موضـوع خوښـه کـړه، چـې پـراخ ولسـي ملاتـړ يـې درلـود. مالګـه د هـر چـا لپـاره مهمـه وه، د برطـانوي هنـد حکومـت د مـالګې لـه درکـه هـر کـال پـه لکونـو روپـۍ ماليـه راټولولـه. هندي ولس حق نه درلود چې پـه خپلـه د سمندر لـه اوبو مالګـه جـوړه کړي، دغه کار له قانونه سرغړاوی ګڼل کېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې ګاندي د مالګې مارش پیل کړ، نو بریتانوي هند حکومت له ستونزې سره مخ شو، که د مارش پر خلاف یې اقدام کولای دغه د بې وسلې او خالي لاس خلکو پر خلاف یوه کړنه ګڼل کېده، چې د حکومت سیاسي حیثیت ته یې ضربه رسوله او له ټولو مهمه دا چې غه کار ولسي غبرګون لا پسې غښتلی کولو، چې په پایله کې مبارزه لا پسې قوي کېده. که چوپ پاتې کېدای، نو قانون ماتېده او د حکومت بودیجې ته زیان رسېده، دواړه حالته د حکومت لپاره ښه نه وو او په دواړو حالاتو کې له زیان سره مخ کېدو.

د ستراتیژیکي کړنې بله بېلګه د ایراني مبارزینو له خوا په ۱۹۹۰یمو په وروستیو کلونو کې د حکومت پر خلاف د مبارزې پر مهال د مبارزینو له خوا د شپې پر وخت منسجم او منظم ډول د الله اکبر نعرې وهل وو. د مبارزینو دغه کړنې حکومت په لویه ستونزه کې اچولی و. له یوې خوا د مبارزینو پر وړاندې د حکومت اقدام نه کولو د حکومت ناتواني ښودله او د مبارزینو پر خلاف حکومت اقدام کولو بیا حکومت له داسې یو حالت سره مخ کولو چې شاید خلکو د حکومت کړنه د اسلام او اسلامي انقلاب د روح سره ټکر ګڼلې وای. چې دغه کار به مبارزه نوره هم پیاوړې کړې وای. یه یو ټاکلي وخت کې د مبارزینو له خوا په منظم او مسنجم ډول الله اکبر نعرو وهلو حکومت له داسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستونزمن حالت سره مخ کړو، چې اقدام کول او اقدام نه کول دواړه د حکومت په زیان او دمبارزط په ګټه تمامېدل.

ستراتيژيکي کړنې بايد په تدريجي توګه سرته ورسيږي، د لومړی مرحلې په توګه د حکومت هغه تګلارې بايد وارزول شي، چې د ولس په ورځني ژوند کې ستونزې پيدا کوي. څومره چې ستونزه لويه وي، په هماغه اندازه به د دښمن لپاره اقدام حېرانوونکې وي.

په دويمه مرحله کې هغه تګلارې بايد په ګوته شي کومې چې د موجوده حالت پر خلاف يو نوی حالت رامنځته کوي. دريیمه مرحله دهغه کړنو په ګوته کول دي، چې په سر ته رسولو سره يې مخالف داسې يوه حالت کې واقع کېږي، چې که اقدام کوي او يا چوپ پاتې کېږي په دواړو حالتونو کې ورته زيان رسېږي.

ورستنۍ مرحلې په توګه د ستراتيژيکې کړنې پر وړاندې د مخالف له غبرګون څخه ګټه اخېستل او د توان تر کچه ورته پراخه تبليغ کول دي. ددغه تبليغ موخه داوي، چې د ولسي مبارزې ملاتړ زيات او له مخالف څخه ملاتړ راکم شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پنځم څپرکی

## په اسلامي نړۍ کې ولسي مبارزې:

موږ ولسي مبارزې سره د مبارزې کولو دیوې وسیلې په توګه چلند کوو او وله دې امله زموږ لپاره هرګز ولسي مبارزه دیوې ایډیالوژۍ په توګه مطرح نه ده. دغه ډول مبارزه په هر ډول ټولنو کې د رامنځته کېدو امکان لري. د فلسطینیانوله خوا انتفاضه، په ۱۹۹۰یمي کې د اربکان پر خلاف د ترکانو ولسي مبارزه، عربو پسرلی، د خمیني په مشرۍ د ایران انقلاب او د باچا خان له خوا د فیرنګیانو پر خلاف د خدای خدمتګار تحریک په اسلامي ټولنو کې د ولسي مبارزو یو څو بېلګې دي. دې کتاب کې د دغو ټولو مبارزو په اړه خبري کول د کتاب د وس خبره نه ده، نو ځکه دلته یوازې د عربو پسرلي او خدای خدمتګارو تحریک په اړه لنډې خبرې کوو.

## د عربو پسرلي:

په ۲۰۱۱ کال کې عربي نړۍ دیو لړ سترو، چې د ډېرو عربي هېوادونو واکمن په کې له واکه ګوښه شول، اوښتونونو شاهده وه. دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوښتونونه د سوله ییزو ولسي مبارزو په پایله کې رامنځته شول او ولسواکه نظامونو په کې د دیکتاتوري رژیمونو ځای ونیولو. د اوښتونونو دغه لړۍ د عربو د پسرلي په نوم یادیږي.

په اوسني بحث کې زه یوازې په مصر کې د عربو د پسرلي د څپې په اړه خبرې کوم. په مصر کې د عربو پسرلی وروسته له هغه پیل شو، چې په تیونس کې یو ځوان محمد بوعزیزي چې په یو ګاډۍ یې سبزي خرڅوله د پولیسو له خوا ورسره د خراب چلند له امله ځان ته اور واچولو. د نوموړي ځان ته اور اچونه په تیونس او وروسته په عربی نړۍ کې د عربو د پسرلي لپاره د کتلست رول ولوبولو. محمد بو عزیزي وروسته د خپلو ټپونو له امله په شفا خانه کې ساه ورکړه. پراخه غبرګونونه راوپارول، چې له امله یې د دغه هېواد واکمن زین العابدین له واکه ګوښه کړای شو. په تیونس کې د عربو د پسرلي د لومړنۍ څپې بریا نورو عربو په ځانګړې ډول مصري فعالانو ته دولسي مبارزې د ترسره کولو ته وهڅول، مصریانو؛ چې له حالاتو تنګ وو، دغه وخت یې د مبارزې لپاره وړ وګڼلو او میدان ته یې ور ودانګل.

دا هغه وخت و چې حُسني مبارک پر مصر درې لسیزې واکمني پوره کړې وه او غوښتل یې خپل زوی ته داسې قانوني لارې چارې برابرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي، چې د ده له واکه تر لرې کېدو وروسته يې زوی ځای ناستی شي. د مصر خلک د حُسني مبارک له دغه ډول پرېکړو سره موافق نه وو او د نوموړي د ګوښه کېدو لپاره يې پراخه ولسي مبارزه پيل کړه. د مبارک پر خلاف مبارزه کې ټولنيزو رسنيو لکه فېسبوک، ټوېټر او ګرځنده تليفون پرېکنده رول ولوباوه. حکومت له دوامداره هڅو سره ونه توانېد چې ټولنيزې رسنۍ د ډېر وخت لپاره غېر فعالې کړي. همدغه ټولنيزې رسنۍ د دې لامل شوې، چې په لويه کچه عام ولس او په ځانګړي توګه ځوانان مبارزې ته وهڅول شي او ګډون په کې وکړي.

د عربو د پسرلي په دغه څپه کې په مصر کې داسې پراخه، خو له تاو تريخوالي پر ته لاريونونه وشول، چې له ۱۹۷۷ کال را په دېخوا يې د دغه هېواد په تاريخ کې ساری نه ليدل کېږي. په ۱۹۷۷م کال کې د انوار سادات د واکمنۍ پر مهال هم د خوراکي توکو د کمښت پر مهال ورته لاريونونه ترسره شوي وو. د حسني مبارک پر خلاف مظاهره کوونکو پر خلاف د اوښکې بهوونکي ګاز په ګډون، د دوی د ځپلو لپاره ډول ډول تاکتيکونه وکارول شول. د مظاهره چيانو له خوا هم ډول ډول تاکتيکونه وکارول شول، چې يو يې هم پر دوی د تو دو اوبو د توېولو او د وهلو پر مهال په لمانځه درېدل او لمونځ کول وو. کله به چې مظاهره کوونکي په لمانځه ودرېدل، نو پوليسو به پر دوی زور

(c) ketabton.com: The Digital Library



زياتي بس کړ. مظاهره چيانو خپلو کړنو ته دوام ورکړ او د حکومت زور ته تسليم نه شول.

يو بل تاکتيک چې مظاهره کوونکو وکاراوه، دا و چې دوی وسله وال ځواک ته بلنه ورکوله او ورته ويل يې چې له دوی څخه بايد ملاتړ وکړي. دوی به نعرې وهلې. (( پوځ چېرته دی؟ راشئ او وګورئ چې پوليس له موږ سره څه کوي.)) دوی زياتره تمرکز په عامو عسکرو کاوه، ځکه چې لوړ پوړې چارواکي د مبارک پاخه ملاتړي وو.

که څه هم مبارزين عام خلک وو، خو ځينو سياسي ګوندونو لکه اخوان المسلمين او نورو هم په کې ګډون درلود. د مبارک قابو درې لسيزو مستحکم واک د کوڅو د ۱۸ ورځنيو مظاهرو په ترڅ کې ولړزېد او نوموړی اړ شو، چې واک پرېږدي. همدغه ولسي مبارزه وه چې د هېواد په مړژوانده سياسي ګوندونو کې يې ساه پو کړه او هغوی ته يې د سياسي مبارزې وړتيا وروبخښله. دغه مبارزه د دې لامل شوه چې لس ګونه کلونه وروسته مصريان حس کړي، چې دوی د مصر يوه برخه دي او د هېواد په راتلونکي کې رول لوبولی شي. د مبارزې په پايله کې مبارک زندان ته ولېږل شو او واک په موقتي توګه پوځ ته وسپارل شو. پوځ ژمنه وکړه چې ټول ټاکنو او يو منتخب حکومت ته به لار اواروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خدايي خدمتګار

په ۱۹۰۱م کال کې چې د هند وايسراى د صوبه سرحد په نوم يو نوى ايالت جوړ کړ، نو ورسره سم يې د دغه ايالت د ځينو ولسواليو لپاره ځانګړي قوانين جوړ کړل، چې د (ايف سي آر)

جنايي جرمونو فدرالي قوانينو تر مخې يوه ولسوالى يا ايجنسي مستقيماً د والى او په لويه کې د ولسمشر د استازي، سياسي استازي (پوليټيکل ايجنټ) له خوا اداره کېږي. که څه هم دغه سيمې په اوسنى خيبر پښتونخوا کې دي، ولې دوى د پاکستان د مرکزي ادارې د لاس لاندې دي. د نوي وېش له مخې د صوبې شپږ ولسوالى (باجوړ، مومند، خېبر، ملاکنډ، کورمه، اورکزى) او ورسره څلور نورې سيمې د افغانستان او د صوبه سرحد د نورو ولسواليو تر منځ يو حايل و ګرځېدې. ايف سي آر قانون يوازې په همدغو قبايلي سيمو کې نافذ و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ایف سي آر قانون له مخې خلک پرته له دې چې محاکمه شي، د مرګ په سزا محکومېدل. د ایف سي آر د قانون له مخې د سیمې له خلکو سره به ډېر ظالمانه چلند کېده او ډېر ځل به د صوبې د نورو سیمو خلکو ته قبایلي سیمو ته د ورتګ اجازه نه ورکول کېده. د ایف سي ار له مخې پرته له دې چې محاکمه ترسره شي؛ حکومت تورن افراد اعدامول. د ایف سي آر قانون له مخې به د جرګې په نوم یوازې انګریز پلوی ځکمه وال او کاروباریان راټولېدل، چې د مجرم په اړه پرېکړه وکړي. ایف سي ار اوس هم د پښتونخوا په ځینو سیمو کې حاکم دی. د دوی جرګه به د کمېشنر له خوا (که ورسره موافق به وو تایید او نافذېدله). مجرم به د استناف غوښتنې حق نه درلود.

بریتانوي حکومت په ۱۹۰۹م کال کې په ټول هند کې منتو مارلي او ۱۹۱۹م کال کې د چېمفورډ په نوم سمونونه رامنځته کړل. د دغو قوانینو له مخې یې د هند خلکو ته ځینې سیاسي او ټولنیز حقونه ورکړل، خو په صوبه سرحد کې د انګریزي واکمنو له خوا هېڅ ډول سمونونه رامنځته نه شول او په ارادي توګه خیبر پښتونخوا له دغو سمونونو مستثنی وګرځول شوه. له دې وروسته په ۱۹۱۹م کې د راولټ د قانون په نوم یو بل قانون نافذ شو، چې له مخې یې په سیاسي فعالیتونو بندیز ولګېد. خیبر پښتونخوا سره چې مطلق اکثریت یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتانه وو، د مور مېرې دغه سلوک پښتانه له سختو ننګونو سره مخامخ کړل. له يوې خوا د پښتنو ځينو ناوړه دودونو پښتانه په سياسي لحاظ له ورکېدو سره مخ کړي وو او له بلې خوا انګريزي راج هم د پښتنو د ځپلو لپاره له هرې حربې کار اخيست. د هند دوو ستر سياسي ګوندونه (کانګرس او مسلم ليګ) هم لاس تر زنې ناست او د پښتنو د بدې ورځې تماشه يې کوله .

د پښتونخوا ايالت پښتانه، وروسته له هغه چې د هند له نورو ګوندونو په تېره بيا د مسلم ليګ څخه ناهيلې شول، د عبدالغفار خان تر مشرۍ لاندې راټول او د خپلو حقونو څخه د دفاع په موخه يې مبارزه پيل کړه. د عبدالغفار خان (پاچاخان) سره په دغه مبارزه کې يو شمېر نورې وتلې مذهبي او سياسي څېرې لکه د ترنګزو حاجي صيب هم ملګرى و. پاچا خان له ديني عالمانو سره د مشورې په موخه وخت پر وخت د هند له ديني مرکزونو لکه ديوبند څخه هم ليدنه کوله او د هغه ځاى له مشرانو يې مشورې اخيستې.

عبدالغفار خان له مولانا محمود الحسن او مولانا عبيد الله سندهي سره هم وخت پر وخت مشورې کولې. د دغه تحريک موخه د پښتنو ټولنيز سمون و، تحريک پښتانه يووالي ته رابلل، هغوى ته يې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروركلوۍ توصيه كوله او له يوه بل سره يې د جګړو او د دښمنيو د نه كولو تلقين وركاوه.

پښتانه يې د خانانو د بې ځايه او ناروا تسلط څخه د ځان خلاصون ته هڅول او د خانانو له خوا د پښتنو د ځپلو او استحصال پر خلاف يې مبارزه كوله. د دغه تحريک عالمانو د ديني خرافاتو پر خلاف هم مبارزه كوله، هڅه يې كوله چې پښتانه د دين په نوم له لوټمارو څخه نجات پيدا كړي، د پيرانو او خانانو له ظلم زور څخه خلاص شي.

تحريک همدارنګه پښتانه هڅول، چې خپل بچي ښوونځيو ته ولېږي او له حكومت څخه يې پښتنو ته په پښتو ژبه د زده كړو د برابرولو غوښتنه كوله. د پښتنو د سمون لپاره عبدالغفار خان په ۱۹۲۸م كې د پښتون په نوم مياشتنۍ چاپي خپرونه هم پيل كړه. دغه ژورنال په سيمه كې د پښتو ژبې لومړنۍ ژورنال و.

باچا خان د پښتنو په سيمه كې د ازادو مدرسو په نوم د پښتنو د بچو (انجونو او هلكانو) لپاره په ټوله پښتونخوا كې ۸۷ ښوونځي جوړ كړل. په دغه ښوونځيو كې د ديني زده كړو سره عصري علوم په پښتو ژبه تدريسېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



عبدالغفار خان د دې لپاره چې کارونه يې ډېر ګټور شي، مبارزه نوره هم منسجمه کړه. نوموړي د هر کلي په کچه يوه کمېټه جوړه کړه. له دې وروسته يې د څو کليو په کچه کمېټې جوړې کړې، د کليو کميټې د تحصيل او ولسوالۍ په کچه له کمېټو سره منسجمې شوې، د دې ټولو په سر کې د ولايت جرګه وه، چې د پښتنو د پارلمان په نوم يادېده. دا ټولې جرګې انتخابي وې.

د جرګو مشر په خپله د عبدالغفار خان له خوا ټاکل کېده، د جرګو مشر (سالار اعظم) به بيا د چارو د سمون په خاطر د لاس لاندې افسران غوره کول، چې دا ټول افسران رضا کار وو او د کار په بدل کې يې هېڅ پېسې نه اخيستې، همدا کسان وو، چې تحريک ته يې لورى ورکاوه او د تحريک کارونه به يې په سلا مشوره پرمخ بېول. په تحريک کې ټول ۵۱۳ کلي وو، د سرحد له ۲۶ لکه نفوس څخه يې ۳ لکه همدغه خدايي خدمتګاران وو، خو حکومت هم په ارامه نه و، وخت پر وخت به يې د خدايي خدمتګارو تحريک ځپلو، غړي به يې نېول او تل به يې ازارول.

د شلمې پېړۍ په لومړيو کې نه يوازې دا چې پښتانه په تعليمي ډګر کې د هند د نورو برخو له ولسونو وروسته پاتې وو او يوازې دوه سلنه پښتانه لوستي وو، بلکې دوى پاشل شوي وو، په صنعتي او اقتصادي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډګرونو کې هم له نورو قومونو څخه ډېر شاته پاتې وو. دوی په دوکانداری، سوداګرۍ او صنعت کې برخه اخيستل د خپل ځان سپکاوی ګاڼه. پاچاخان فکر کاوه چې دغه انګېرنې د پښتنو د مخالفينو له خوا د پښتنو د وروسته والي په موخه مشهورې شوي او بايد له منځه لاړې شي.

په صنعت، تعليم او اقتصادي ډګرونو کې وروسته والی د دې لامل شو، چې پښتانه په سياسي ډګر کې هم وروسته پاتې شي. خدايي خدمتګارو غورځنګ موخه پښتنو ته د صنعت، اقتصاد او نورو ساحو کې پرمختګ او پر خپل ځان تکيه کول وو او د تحريک اساسي هدف له الله(ج) څخه د خلکو په وېرولو او د عزت نفس په تلقين ورکولو ولاړ و.

د انګريز د ظلمونو د غبرګون په پايله کې د خدايي خدمتګار ټولنيز تحريک په يو سياسي تحريک واوښت او د پښتنو د سياسي حقونو د لاسته راوړنو لپاره يې مبارزه پيل کړه. دغه تحريک د پښتنو لپاره وينښتابه او په اقتصادي، ټولنيز او سياسي ډګرونو کې د پښتنو لپاره سترې لاسته راوړنې درلودې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوهان باوري دي، چې ډسپلين او يووالى، د تاوتريخوالي نه کولو ته ژمنتيا او وېرې ته په زړه کې ځاى نه ورکولو د ولسي مبارزې د بريا له پاره اړين شرايط دي. که د خدايي خدمتګارو تحريک په غور مطالعه شي، دغه ټول شرايط په کې ليدل کېږي.

مخکې له دې چې مبارزين عملاً په خدايي خدمتګار تحريک کې په کار پيل وکړي، دوى اړ وو چې د تحريک د موخو او پروګرامونو په باره کې روزنه تر لاسه کړي. د دغه کار لپاره دوى ته عملاً په روزنيزو کمپونو کې روزنه ورکول کېده. په لومړي سر کې دغه روزنه يو څه غير منظمه وه، خو د وخت په تېرېدو سره د خدايي خدمتګارو په ليکو کې د نويو شامل شويو اشخاصو لپاره د روزنې هر اړخيز پروګرام رامنځته شو. په دغه پروګرامونو کې خدايي خدمتګارو ته د ځان او د کورونو د پاکۍ، د نورو خلکو (چې د تحريک غړي نه وو) د کورونو د پاکولو، د څرخي د ګرځولو او له تاوتريخوالي څخه د ځان د ساتلو په اړه پوهاوى ورکول کېده.

د خدايي خدمتګارو روزنه د دې لامل وګرځېده، چې برخه وال د رضا کارانو په توګه په راتلونکي کې د تحريک مسوو ليتونو ته د اوږه ورکولو لپاره چمتو کړي. سر بېره پر دې په رواني لحاظ دغه روزنيز پروګرامونه د دې لامل وګرځېدل، چې د مبارزينو تر منځ نظم او

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو والي رامنځته کړي او په راتلونکي کې دوی د تاوتريخوالي نه کولو ته ژمن پاتې شي.

د پښتنو په اړه مشهوره شوې وه، چې په دوی کې نظم راوستل يو ستونزمن کار دی. خدايي خدمتګارو تحريک دغه خبره ناسمه ثابته کړه. خدايي خدمتګارو تحريک د تحريک د غړو تر منځ له نورو سره کار کولو (Team Work) ته وده ورکړه او د تحريک غړي يې داسې منظم کړل، چې د دوی تر منځ يې د نظامي ځواک په څېر د بريدمن، ډګروال، جنرال او نورې رتبې رامنځته کړې. د دې سربېره د تحريک غړي په ټوليو، کنډکونو او نورو نظامي واحدونو وېشل شول.

د خدايي خدمتګارو په تحريک کې د تاوتريخوالي نه کولو ته ژمنتيا يو اړين شرط وو. هر غړی اړ و چې ځان له تاوتريخوالي وساتي، دې موخې ته د رسېدو لپاره هر خدايي خدمتګار په تحريک کې د شاملېدو پر مهال اړ و، چې د تاوتريخوالي د نه کولو لوړه وکړي.
د خدايي خدمتګارو په تحريک کې د ګډون لپاره اړينه وه، چې هر شخص پر لاندې مواردو لوړه وکړي:

- زه يو خدايي خدمتګار يم او لکه څنګه چې خدای (ج) خدمت ته هېڅ اړتيا نه لري، زه به په سر ښېندونکې توګه د هغه د مخلوق په خدمت کولو سره د هغه خدمت وکړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ❖ زه باید له تشدده کار وانه خلم، زه باید بدل او انتقام وانخلم او زه باید هر هغه څوک وبخښم چې پر ما ظلم کوي.
- ❖ زه باید د کومې دسیسې او کورنۍ یا شخصي کینې او دښمنۍ برخه وانه اوسم او زه باید له هر پښتون سره دیوه ورور او ملګري په توګه چلند وکړم.
- ❖ زه به ناوړه دودونه او اعمال پرېږدم، ساده ژوند به غوره کوم او له بدو کارونو به ډډه کوم.
- ❖ زه باید ښه کرکتر او ښو خویونو ته پراختیا ورکړم.
- ❖ زه باید د خپل خدمت په مقابل کې هېڅ ډول توقع ونه لرم.
- ❖ زه باید له هېچا ونه وېرېږم او هر ډول سرښندنې ته چمتو یم.

پر دې سربېره د خدايي خدمتګارو تحریک یوه هر اړخیزه ستراتیژي درلوده. د تحریک لید، موخې او موخو ته د رسېدو لارې چارې ټولې په پلان کې په ګوته شوې وې.له پیر روښان وروسته خدای خدمتګار تحریک د پښتنو د ویښتابه لپاره دویم ستر تحریک وو، دغه تحریک پښـتنو تـه د سیاسـي، اقتصـادي، ټـولنیزو او تعلیمـي ډګرونـو کـې د پرمختګ لارې پرانیستې. خدايي خدمتګار تحریک عموماً په سیمه او په ځانګړې ډول د پښتنو په ژوند داسې ژور خاپونه پرېښودل، چې د پښتون قام په ژوند به یې اغېزې تر پېړیو پاتې شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# References

Bartkowski,Maciej(۲۰۱۳):*Recovering Nonviolent History;Civil Resistance in Liberation Struggle*,LynneRienner Publication ,London.

Beyerle, Shaazka(۲۰۱۴): *Curtailing Corruption People Power for Accountability and Justice*,LynneRienner, London.

Brumberg, DanielandShehata, Dina(۲۰۰۹):*Conflict, Identity and Reform in the Muslim World: challenge for US Engagement*. Washington DC. United States Institute of Peace Press.

Canvas Core Curriculum: *A Guide to Effective Nonviolent Struggle* (۲۰۰۷) Serbia.

Chanda, Arthur(۲۰۱۳): *Bacha Khan and the Struggle for Freedoom*, Danish Publication Peshawar.

Chenoweth, Erica and Stephan,Maria (۲۰۱۱):*Why Civil Resistance Works:The Strategic Logic Of Nonviolent Conflict*. Columbia University Press, New York.

Constitution of Afghanistan, Official Gazette ۸۱۸, Directorate of Publication, ۲۰۰۳.

Easwaran,Eknath(۱۹۹۹),*Nonviolent Soldier of Islam;Badshah Khan ,A Man to Match His Mountains*,The Blue Mountain Center of Mediation,California.

(c) ketabton.com: The Digital Library



Mischnick, Ruth, Nonviolent Conflict Transformation, Training Manual of Trainer Course, Center for Training \and Networking in Nonviolent Action-Kurve Wustrow

Betts, Christpher, The social contract, Ooxford university press, London.

Sharp, Gene(۲۰۰۵):Waging Nonviolent Struggle: ۲۰Th *Century practices and* ۲۱St *Century Potential*, Expanding Horizons Books, Boston.

Sharp, Gene(۲۰۰۳):There are Realistic Alternatives, The Albert Einstein Institution, Bostan.

Stephan, Maria (۲۰۰۹): Civilian Jihad, Nonviolence Struggle, Democratization and Governance in the Middle East, The Palgrave Macmillan Series on Civil Resistance, New York.

The Constitution of Afghanistan: A Collection of Articles (۲۰۰۳):Official Gazette, Department of Publication, Kabul.

ثاپی، مبارز (۲۰۱۳): عدم تشدد د انسانیت په لمن کې.

اشفاق، ملک (۲۰۱۵): سقراط حیات، فلسفه اور نظریات، حاجی حنیف پرنٹرز، لاهور.

اشفاق، ملک (۲۰۱۵): افلاطون حیات، فلسفه اور نظریات، حاجی حنیف پرنٹرز، لاهور.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مننه او کور ودانی

د افغانستان ملي تحریک له هېواد پال او فرهنګپال شخصیت ښاغلي (انجنیر میرحاتم فضلي) څخه د زړه له تله مننه کوي چې د دې اثر چاپ ته یې اوږه ورکړه. ملي تحریک ویاړي چې د علمي اثارو د چاپ لړۍ یې پیل کړې ده. دا لړۍ به دوام لري. موږ له ټولو درنو هېوادوالو څخه په خورا درنښت هیله کوو چې په خپل معنوي او مادي وس د کتابونو د چاپ دا لړۍ لا پسې وغځوي.

یو ځل بیا د دې اثر له لیکوال او چاپوونکي څخه د زړه له تله مننه کوو چې د دې اثر د لیکلو او چاپولو جوګه شول.

په فرهنګي مینه

د افغانستان ملي تحریک

(c) ketabton.com: The Digital Library

# Nonviolent Civic Mobilization

By: Ahmadullah Archiwal

2016

د افغانستان ملي تحريک
www.melitahrik.com

د خپرونو لړ: ۸۵

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**